حرمين

رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

حِرَاسَةُ التَّوحِيدِ | بشتو | پښتو

# د توحيد ساتنه

ليکنه قدرمند شيخ صاحب
عبدالعزيز بن عبد الله بن باز

حِرَاسَةُ التَّوحِيدِ

# د توحيد ساتنه

لِسَمَاحَةِ الشَّيْخِ العَلَّامَةِ
عَبْدِ العَزِيزِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ بَازٍ
رَحِمَهُ اللهُ

ليکنه قدرمند شيخ صاحب
عبد العزيز بن عبد الله بن باز

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحمَنِ الرَّحِيمِ

# د توحيد ساتنه

## لومړی پیغام:
## صحیح عقیده او هغه چې خلاف یې ده

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، وعلى آله وصحبه.

أما بعد: کله چې سمه عقیده د اسلامي دین اصل او د امت بنسټ دی، نو د اړتیا له مخې ما خوښه وګڼله چې د دې موضوع په اړه وینا ولرم، او لیکنې او تالیف سره یې بیان او تشریح کړم.

او د قرآن او سنت له شرعي دلایلو څخه معلومه ده چې کړنې او ویناوې هغه مهال اعتبار پیدا کوي چې له سمې عقیدې سرچینه واخلي، خو که عقیده سمه نه وي، نو هغه کړنې او ویناوې باطلیږي چې پرې بنا وي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿...وَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلۡإِيمَٰنِ فَقَدۡ حَبِطَ عَمَلُهُۥ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ﴾

ژباړه: (او څوك چې له ایمان نه انکار وکړي، نو یقینًا د هغه عمل برباد شو او هغه به په اخرت کې له تاوانیانو څخه وي). [المائدة سورت: ۵ آیت]

او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٦٥﴾

ژباړه: [او بېشكه تاته وحى شوې او له تا مخكينيو ته هم چې كه شرك دې وكړ، هرومرو به دې عمل هم چټي لاړ شي او هرومرو به له زيانمنو هم شې). [الزمر سورت: 65 آيت].

او په دې معنا سره ډير آيتونه راغلي دي. او يقينا چې د الله تعالى مبين كتاب او د هغه د امانتدار رسول -صلى الله عليه وسلم- سنت په ګوته كوي چې: سمه عقيده په شپږو شيانو كې خلاصه كيږي چې عبارت دي له: په الله جل جلاله ايمان، د هغه په ملايكو، د هغه په كتابونو، د هغه په رسولانو، د آخرت په ورځ او د خېر او شر په اندازې ايمان راوړل دي. دا شپږ كارونه د هغې صحيح عقيدې بنسټونه دي چې د الله تعالى كتاب پرې نازل شوى او الله تعالى پرې خپل رسول محمد صلى الله عليه وسلم راليږلى دى،

په قرآن او صحيح سنت كې د دې شپږو اصولو لپاره ډېرى دلايل شته، چې د بېلګې په توګه يې يو څو لاندې دي:

لومړى: له قرآن څخه؛ لكه د الله تعالى دا قول:

﴿لَّيۡسَ ٱلۡبِرَّ أَن تُوَلُّواْ وُجُوهَكُمۡ قِبَلَ ٱلۡمَشۡرِقِ وَٱلۡمَغۡرِبِ وَلَٰكِنَّ ٱلۡبِرَّ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ وَٱلۡكِتَٰبِ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ...﴾

ژباړه: ((یوازې) نیکي دانه ده چې تاسې خپل مخونه ختیځ یا لوېدیځ لوري ته (په لمانځه کې) واړوئ؛ بلکې (غوره) ښېګڼه (نېکي) هغه ده چې چا پر الله، د قیامت پر ورځ او ملاېکو او کتابونو او پر پیغمبرانو ایمان راوړی وي) [البقرة سورت: 177 آیت].

او د هغه سپیڅلي او لوړ ذات وینا چې فرمایي:

﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَـٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّن رُّسُلِهِۦ...﴾

ژباړه: (رسول پر هغه څه ایمان راوړی دی؛ چې په ده باندې د خپل رب له جانبه نازل کړی شوي دي او مومنانو هم، ټولو ایمان راوړی دی په الله باندې او د هغه پر ملایکو او د هغه پر کتابونو او د هغه په رسولانو باندې (او وایي) مونږه د هغه (الله) په رسولانو کې د هیچا په مینځ کې تفریق نه کوو) [ البقرة سورت: 285 آیت]،

او دا قول د الله تعالی:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ءَامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلۡكِتَـٰبِ ٱلَّذِي نَزَّلَ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَٱلۡكِتَـٰبِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ مِن قَبۡلُۚ وَمَن يَكۡفُرۡ بِٱللَّهِ وَمَلَـٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا ١٣٦﴾

ژباړه: (ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو

پر الله ایمان راوړئ او د هغه پر رسول او پر هغه کتاب چې هغه په خپل رسول باندې نازل کړی دی او پر هغو کتابونو چې له ده نه یې مخکې نازل کړي دي، او څوك چې په الله سره کافر شي او د هغه په ملایکو او د هغه په کتابونو او د هغه په رسولانو او د اخرت په ورځ، نو یقیناً هغه ګمراه شو په ډېرې لرې ګمراهۍ سره) ( النساء سورت: ۱۳۶ ایت).

او دا قول د الله تعالی:

﴿أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّ ذَٰلِكَ فِي كِتَٰبٍۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ٧٠﴾

ژباړه: (آیا ته نه پوهېږې چې یقینا الله تعالی پوه دی په هغه څه چې په اسمان کې دي او په زمکه کې دي، بېشکه دا ټول په کتاب (لوح محفوظ) کې دي، بېشکه دا په الله تعالی باندې آسان دي). [الحج سورت: 70 آیت].

دویم: له سنت (حدیثو) څخه؛ هغه مشهور حدیث چې مسلم په خپل صحیح کې د امیر المؤمنین عمر بن الخطاب رضي الله عنه له حدیث څخه روایت کړی چې جبریل علیه السلام له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه د ایمان په اړه پوښتنه وکړه، نو هغه ورته وفرمایل:

«الإِيمَانُ أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ، وَرُسُلِهِ، وَاليَوْمِ الآخِرِ، وَتُؤْمِنَ بِالقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ».

ژباړه: «ایمان دې ته وایي چې پر الله، ملایکو، کتابونو،

رسولانو يې، او د آخرت په ورځ ايمان راوړې، او د هغه لخوا پر خير او شر باور ولرې»[1] حديث، او شيخينو (بخاري او مسلم) - په لږ څه توپير سره - د ابو هريرة رضي الله عنه له حديث څخه روايت کړی.

له دې شپږو بنسټونو څخه لاندې چارې سرچينه اخلي: هر هغه څه چې يو مسلمان يې بايد د الله تعالى، آخرت او نورو غيبي چارو په اړه پرې باور ولري هغه څه دي چې الله تعالى او د هغه رسول صلى الله عليه وسلم يې په اړه موږ ته خبر راکړی دی.

او دا شپږ اصول په لاندې توګه بيانيږي:

## لومړی اصل: په الله تعالى ايمان

دا ګڼو چارو ته شامليږي چې له جملې څخه يې ځينې دا دي: په دې باور چې هغه ذات له هر څه پرته د عبادت وړ دی، ځکه چې هغه د خپلو بندګانو خالق، له هغوی سره نيکي کوونکی، هغوی ته روزي ورکوونکی، د هغوی په پټو او ښکاره رازونو پوه، له هغوی څخه پيروي کوونکو ته اجر ورکوونکی او ګناهکارانو ته يې سزا ورکوونکی ذات دی.

او الله تعالى ثقلين (انسانان او پيريان) د خپل عبادت لپاره پيدا کړي او امر يې ورته کړی لکه چې فرمايي:

﴿وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ۝٥٦ مَآ أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَآ أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ ۝٥٧ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلرَّزَّاقُ ذُو ٱلْقُوَّةِ

1 مُسلِم روايت کړی دی(8).

ٱلْمَتِينُ ﴿٥٨﴾﴾

ژباړه: (او ما پېریان او انسانان نه دي پیدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي.

زه له دوی نه هېڅ رزق نه غواړم او نه دا غواړم چې دوی ما ته خوراك راكړي،

بېشکه هم دغه الله بنه روزي ورکوونکی، قوت والا، (او) ډېر مضبوط دی) [الذاريات سورت: 56-58 ایتونه].

او الله تعالی فرمايلي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعْبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ وَٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٢١﴾ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ فِرَٰشًا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءً وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۖ فَلَا تَجْعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادًا وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٢٢﴾﴾

ژباړه: (ای خلکو! د خپل رب عبادت کوئ، هغه چې تاسو يې پيدا کړي يئ او هغه کسان چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ،

هغه (رب) چې ستاسې لپاره يې ځمکه فرش (هواره) ګرځولې ده او هسک (آسمان) يې چت او د آسمان له لورې يې اوبه نازل کړي دي، نو راويستي يې دي په دې اوبو سره هر ډول مېوې ستاسې لپاره روزي (رزق)، نو له الله سره شريکان مه نيسئ، په داسې حال کې چې تاسې پوهېږئ (چې الله شريک نه لري)) [البقرة سورت: 21-22 ایتونه].

او بېشکه الله جل جلاله د دې حق د روښانه کولو او لورې ته يې د بلنې ورکولو لپاره رسولان او کتابونه رالېږلي دي او د دې له مخالفت څخه يې خبرداری ورکړی، لکه چې الله پاک فرمايي:

﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَٱجْتَنِبُوا۟ ٱلطَّٰغُوتَ...﴾

ژباړه: (او يقينًا يقينًا مونږ په هر يو امت کې يو رسول لېږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ) [النحل سورت: 36 آيت].

او الله تعالی فرمايلي:

﴿وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِىٓ إِلَيْهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعْبُدُونِ ﴿٢٥﴾﴾

ژباړه: (او مونږ له تا نه مخکې هېڅ رسول نه دی لېږلی مګر چې هغه ته به مونږ (دا) وحې کوله چې بېشکه شان دا دی چې له ما نه پرته بل هېڅ حق معبود نشته، لهذا تاسو زما عبادت کوئ) [الأنبياء سورت: 25 آيت].

او الله تعالی فرمايي:

﴿الر كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ لَدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ﴿١﴾ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ إِنَّنِي لَكُمْ مِنْهُ نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ﴿٢﴾﴾

ژباړه: (الف، لام، راء، (دا) کتاب دی چې ايتونه يې محکم

کړې شوي دي، بيا د بنه حکمت والا، پوره خبردار ذات له خوا نه په تفصيل سره بيان شوي دي،

دا چې تاسو عبادت مه کوئ مګر يواځې د الله، بېشکه زه تاسو لپاره د هغه له جانبه (رالېږل شوی) وېروونکی او زېرې ورکوونکی يم). [هود سورت: 1-2 آيتونه].

او د دې عبادت حقيقت: په ټولو هغو چارو کې د الله تعالی يو ګڼل دي چې د هغه عبادت پرې کيږي لکه: دعاء، ويره، هيله مندي، لمونځ، روژه، ذبح، نذر او په عاجزۍ سره د هغه د ثواب په تمه، او د هغه د عذاب له ويرې نور عبادتونه کول، چې هغه ته په پوره محبت او د هغه لويۍ ته په بشپړې عاجزۍ سره ترسره شي.

او څوک چې په قرآن کريم کې فکر وکړي، وبه ومومي چې ټول د همدې لوی اصل په باره کې نازل شوی، لکه چې الله پاک فرمايلي:

﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ فَٱعۡبُدِ ٱللَّهَ مُخۡلِصٗا لَّهُ ٱلدِّينَ ٢ أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلۡخَالِصُۚ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ فِي مَا هُمۡ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَنۡ هُوَ كَٰذِبٞ كَفَّارٞ ٣﴾

ژباړه: (بېشکه مونږ تا ته کتاب په حقه سره نازل کړی دی، نو ته د الله عبادت کوه، په داسې حال کې چې دين هغه (الله) لره خالص کوونکی يې)،

(خبردار شئ! خاص د الله لپاره خالص دین دی، او هغه کسان چې له هغه پرته یې دوستان (کارسازي) نیولي دي (وایي:) مونږ د دوی عبادت نه کوو مګر د دې لپاره چې دوی مونږ الله ته نژدې کړي، ښه نژدې کول، بېشکه الله به د دوی په مینځ کې په هغو خبرو کې فیصله کوي چې دوی په هغو کې اختلاف کوي، بېشکه الله هدایت نه کوي هغه چا ته چې هغه دروغجن، ډېر ناشکره وي). [الزمر سورت: 2-3 آیتونه].

او د هغه سپیڅلي او لوړ ذات وینا چې فرمايي:

﴿وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ...﴾

ژباړه: (او ستا رب حکم کړی دی چې تاسو عبادت مه کوئ (د بل هیچا) مګر یواځې د هغه). [الإسراء سورت: 23 آیت].

او د الله تعالی دا قول:

﴿فَٱدۡعُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ ١٤﴾

ژباړه: (نو تاسو الله بلئ، په داسې حال کې چې همده ته د دین خالص کوونکي یئ اګر که کافران یې بد ګڼي) [غافر سورت: 14 آیت].

همدا رنګه، څوک چې په نبوي سنت کې ژور فکر وکړي وبه مومي چې دې اصل ته زیاته پاملرنه شوې ده، لکه په صحیحینو کې چې له معاذ -رضي الله عنه- څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«حَقُّ اللهِ عَلَى العِبَادِ أَن يَعْبُدُوهُ وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا».

ژباړه: «د الله حق پر بنده ګانو دا دی چې عبادت يې وکړي او هيڅ شی ورسره شريک نه کړي».[1]

او په الله تعالی په ايمان کې: په ټولو هغو چارو ايمان داخليږي چې هغه پر خپلو بندګانو فرض کړي دي لکه: د اسلام ښکاره پنځګوني رکنونه.

او هغه دا دي: چې پدې خبره ګواهي ورکول چې له الله پرته بل معبود نشته، او پر دې چې محمد د الله رسول دی، لمونځ کول، زکات ورکول، د رمضان روژه او د بيت الله حج د هغه چا لپاره چې د لارې وس ولري، او ځيني نور فرض عملونه چې پاکيزه شريعت راوړي دي.

او د دې ارکانو تر ټولو اړين او لوی يې: پدې خبره ګواهي ورکول دي چې له الله پرته بل معبود نشته، او پر دې چې محمد د الله رسول دی، او دا ګواهي الله تعالی ته د عبادت خالصول او له هغه پرته يې له نورو نفي کول په بر کې نيسي، او همدا د (لا اله الا الله) معنا ده، ځکه معنا يې داسې ده لکه څنګه چې علماوو فرمايلي: له الله پرته بل بر حق معبود نشته، نو پر دې اساس: هر هغه څه چې له الله پرته يې عبادت کيږي - که بشر وي، يا ملايکه، يا پيری او يا بل څه - نو هغه باطل معبود دی، او په حقه معبود يوازې يو الله دی چې شريک نه لري، الله تعالی فرمايلي:

---

[1] بخاري (2856)، او مسلم (30) روايت کړی.

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ هُوَ ٱلۡبَٰطِلُ...﴾

ژباړه: (دغه په دې سبب چې بېشکه الله، هم دی حق دی او دا چې بېشکه هغه چې دوی يې له هغه (الله) نه غير بولي، همغه باطل دی) [الحج سورت: 62 آيت].

او وړاندې تېر شول چې الله پاک پېريان او انسانان د همدې بنسټيز اصل لپاره پيدا کړي او امر يې ورته پرې کړی، رسولان يې پرې رالېږلي او کتابونه يې پرې نازل کړي دي؛ نو بنده ته په کار دي چې پدې اړه ژور او زيات فکر وکړي؛ تر څو ورته لدې اصل څخه د ډېری مسلمانانو ناپوهي څرګنده شي چې پکې ښکېل دي؛ چې د الله تعالی سره يې د نورو عبادت وکړ او د هغه خالص حق يې نورو ته ورکړ، الله دې مرسته وکړي.

او په الله پاک له ايمان څخه پدې باور لرل دي چې همغه د کائناتو پيدا کوونکی، چارې سمبالوونکی، او په خپل علم او ځواک سره هر رنګ چې وغواړي د هغوی په چارو کې تصرف کوونکی دی، او همغه د دنيا او آخرت مالک او د ټولو کائناتو رب دی، له هغه پرته بل خالق نشته او له هغه پرته بل رب نشته. او دا چې هغه استازي (رسولان) رالېږلي او کتابونه يې د بندګانو د اصلاح او هغه څه ته د بلنې په موخه نازل کړي دي چې په دنيا او اخرت کې د هغوی خلاصون او ښېګڼه پکې ده. او دا چې هغه پاک ذات پدې ټولو کې شريک نه لري، الله تعالی فرمايلي:

﴿ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ ۝٦٢﴾

ژباړه: (الله د هر شي پيدا كوونكى دى او هغه په هر شي باندې نګران دى). [الزمر سورت: 62 ايت].

او الله تعالى فرمايلي:

﴿إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ يُغۡشِي ٱلَّيۡلَ ٱلنَّهَارَ يَطۡلُبُهُۥ حَثِيثٗا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتِۭ بِأَمۡرِهِۦٓۗ أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٥٤﴾

ژباړه: (بېشكه ستاسو رب هغه الله دى چې اسمانونه او ځمكه يې په شپږو ورځو كې پيدا كړي دي، بيا د عرش له پاسه برقراره شو، هغه په شپې سره ورځ پټوي، په دې حال كې چې دا (شپه) هغې (ورځ) لره په تلوار سره طلب كوي او (پيدا كړى يې دى) لمر، او سپوږمۍ او ستوري، چې د هغه په حكم سره مسخر كړى شوي دي، آګاه شئ! خاص هغه لره دي پيدا كول او حكم كول دي، ډېر بركت والا دى الله چې رب العالمين دى). [الأعراف سورت: 54 آيت].

او په الله تعالى له ايمان څخه د هغه په نېكو نومونو او عاليه صفتونو ايمان راوړل دي چې د هغه په كتاب او د هغه د امانتدار رسول په سنت كې راغلي دي، پرته له تحريف، له معنا څخه يې انكار، پرته له څرنګوالي او بېلګې بيانولو څخه،

﴿...لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ﴾

ژباړه: (د هغه په مثل هېڅ شی نشته او هم دغه ښه اورېدونکی، ښه لیدونکی دی). [الشوری سورت: 11 آیت].

نو په اړه يې واجب دريځ دا دی چې لکه څنګه چې راغلي، د څرنګوالي له څېړلو پرته همداسې په خپل حال له هغو لويو معانيو سره پرېښودل شي چې دلالت پرې کوي، چې هغه د الله تعالی صفتونه دي، او واجب دي چې الله تعالی په هغو صفتونو سره د هغه د شان سره سم ياد شي، پرته له دې چې په صفاتو کې يې له مخلوقاتو سره په يو څه کې تشبيه ورکړل شي، لکه چې الله تعالی فرمايلي: او الله تعالی فرمايي:

﴿فَلَا تَضۡرِبُواْ لِلَّهِ ٱلۡأَمۡثَالَۚ إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ وَأَنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ٧٤﴾

ژباړه: (نو تاسو د الله لپاره مثالونه مه بيانوئ، بېشکه الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ). [النحل سورت: 74 آیت].

نو د الله تعالی په اسماوو او صفاتو کې همدا د رسول الله صلی الله عليه وسلم د صحابو کرامو او په نيکۍ کې تر قيامته د هغوی له پيروانو څخه د اهل سنت و الجماعت عقيده ده، او همدا هغه عقيده ده چې امام: أبو الحسن الأشعري رحمه الله په (المقالات) کتاب کې د محدثينو او اهل سنتو څخه رانقل کړې او نورو د علم او ايمان خاوندانو هم رانقل کړې ده.

اوزاعي رحمه الله ويلي: له زهري او مکحول څخه د صفاتو د آيتونو په اړه پوښتنه وشوه، هغوی دواړو وويل:

څنګه چې راغلي دي همغسې يې تېر کړئ[1].

او اوزاعي - رحمه الله - هم فرمايلي دي: موږ او ډيری تابعينو به ويل چې الله پاک په خپل عرش دی او په هغو صفاتو ايمان لرو چې په سنت کې راغلي دي[2].

وليد بن مسلم رحمه الله ويلي دي: ( له مالک، اوزاعي، ليث بن سعد او سفيان الثوري رحمهم الله څخه په صفاتو کې د راغلو رواياتو په اړه پوښتنه وشوه، نو هغوی ټولو وويل چې: د کيفيت په اړه يې له پوښتنې کولو پرته همداسې تېر کړئ (عقيده پرې ولرئ) لکه څنګه چې راغلي دي[3].

او کله چې د مالک د شيخ؛ ربيعة بن أبی عبد الرحمن رحمهما الله څخه د استوا په اړه پوښتنه وشوه هغه وويل: استوا نامعلومه نده، د کيفيت په اړه يې پوښتنه کول غير معقول کار دی، د الله له طرفه پيغام، په رسول يې ښکاره رسول او پر

1 لالکائي په شرح أصول الاعتقاد (735)، او ابن عبد البر په جامع العلم وفضله (1801) کې روايت کړی، خو د: آيات الصفات پر ځای يې أحاديث الفاظ کارولي، چې الفاظ يې داسې دي "اروووا هذه الأحاديث کما جاءت ولا تناظروا فيها". "دا حديثونو همداسې روايت کړئ لکه څنګه چې راغلي دي او مناظرې پکې مه کوئ".

2 بيهقي په الأسماء والصفات (865) کې روايت کړی، او ابن تيمية په الحموية ( 269 مخ) کې اسناد صحيح ګڼلی دی، او ذهبي په العرض (223/2) کې ويلي چې : راويان يې ثقه امامان دي.

3 لالکائي په: شرح أصول الاعتقاد (930)، او بيهقي په: الأسماء والصفات (955) کې روايت کړی دی.

موږ يې منل دي).[1] او کله چې له مالک رحمه الله څخه پدې اړه پوښتنه وشوه هغه وویل: (استوا معلومه، کيفيت يې ناڅرګند، ايمان پرې واجب او په اړه يې پوښتنه کول بدعت دی) بيا يې پوښتونکي ته وويل: ماته يو ډېر بد انسان ښکارې! او امر يې وکړ نو وويستل شو[2]. او همدا معنا له أم المؤمنين أم سلمة رضي الله عنها څخه هم روايت شوې ده[3].

او امام أبو عبد الرحمن بن المبارک رحمة الله عليه ويلي: (موږ خپل سپېڅلی رب پدې پېژنو چې هغه د خپلو اسمانونو د پاسه په خپل عرش دی او له مخلوقاتو څخه يې جلا دی)[4].

او پدې اړه د امامانو خبرې ډېرې زياتې دي چې پدې يو تقرير کې يې راوړل ناشوني دي، او که څوک غواړي چې ډېرو معلوماتو ته پدې اړه لاسرسی ولري نو د اهل سنت علماوو ليکنو ته دې مراجعه وکړي لکه ( السنة ) کتاب؛ د عبد الله بن الامام احمد او ( التوحيد ) د جليل القدر امام محمد بن خزيمة کتاب، او ( السنة ) د ابو القاسم اللالکائي الطبري کتاب، او ( السنة ) د أبی بکر بن أبی عاصم کتاب، د حماة

1 لالکائي په شرح أصول الاعتقاد (665)، او بيهقي په: الأسماء والصفات (868) کې روايت کړی.

2 لالکائي په شرح أصول الاعتقاد (664)، او أبو نعيم په حلية الأولياء (6/325)، او بيهقي په الأسماء والصفات کې په: (867) کې روايت کړی دی.

3 المزکي په المزکيات (29)، ابن بطة په: الابانة (120)، لالکائي په شرح أصول الاعتقاد (663) کې روايت کړی.

4 الدارمي په: الرد على الجهمية (67)، او بيهقي په الأسماء والصفات (903) کې روايت کړی.

کلي اوسیدونکو ته د شیخ الِاسلام ابن تیمیة ځواب، او هغه لوی او ډیر ګټه لرونکی ځواب دی، په نوموړي ځواب کې هغه رحمه الله د اهل سنت عقیده بیان کړې ده او د هغوی زیاتې ویناوې یې نقل کړي دي، همدا رنګه شرعي او عقلي دلیلونه چې د اهل سنت د ویناوو په صحت دلالت کوي او د هغوی د مقابل لورې د ویناوو په بطلان دلالت کوي راوړي دي.

همدا رنګه یې هغه رساله چې د : التدمریة په نوم یادیږي؛ په عقلي او نقلي دلایلو سره یې د اهل سنت و الجماعت عقیده تشریح کړې، او په نیک نیت او حق پیژندنې ته په لیوالتیا سره پکې هر عالم لوستونکي ته ښکاري چې باطل پکې افشا شوی دی. نو په اسماء او صفاتو کې د اهل سنت والجماعت عقیده دا ده چې هغوی الله تعالی ته هغه څه ثابتوي چې هغه په خپل کتاب کې ځانته ثابت کړي او یا یې ورته رسول صلی الله علیه وسلم په خپل سنت کې ثابت کړي دي، پرته له بېلګې بیانولو، او د مخلوق له مشابهت څخه یې داسې سپېڅلی کړی چې له معنا څخه پکې انکار نه وي؛ نو په بریالیتوب سره له تناقض څخه وژغورل شول. او پر ټولو دلایلو یې د الله تعالی په توفیق عمل وکړ؛ ځکه څوک چې پر هغه حق ثابت پاتې شي چې الله تعالی پرې رسولان رالیږلي، او پدې اړه یې خپل زیار وویست، او په لاسته راوړلو کې یې الله تعالی ته اخلاص څرګند کړ، نو الهي تګلاره دا ده چې هغه ته حق ته د رسیدو توفیق ورکوي او دلایل یې څرګندوي، لکه چې هغه تعالی فرمایي:

﴿بَلۡ نَقۡذِفُ بِٱلۡحَقِّ عَلَى ٱلۡبَٰطِلِ فَيَدۡمَغُهُۥ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٞۚ...﴾

ژباړه: (بلکې مونږ په حق سره باطل ولو، نو دا د هغه دماغ راوباسي، نو ناڅاپه هغه ختمېدونکی وي). [الأنبياء سورت: 18 آیت].

او الله تعالی فرمایلي:

﴿وَلَا يَأۡتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ وَأَحۡسَنَ تَفۡسِيرًا ٣٣﴾

ژباړه: (او (د دې لپاره هم چې) هغوی که تاته هر ډول مثال (یا پوښتنه) راوړي، موږ یې سم ځواب او غوره بیان درته راوړو). [الفرقان سورت: 33 آیت].

خو هغه کسان چې د اسماء او صفاتو په باب کې د اهل سنت والجماعت د عقیدې مخالف دي؛ نو خامخا به د عقلي او نقلي دلایلو سره په هغه څه کې په ټکر کې واقع کیږي چې دی یې ثابتوي او یا ترې انکار کوي. او حافظ ابن کثیر رحمه الله په خپل مشهور تفسیر کې د دې موضوع په اړه د دې آیت د تفسیر پر مهال ښایسته وینا کړې ده؛ چې الله تعالی فرمایي:

﴿إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ...﴾

ژباړه: (بېشکه چې ستاسو رب هم هغه الله دی چې پیدا کړي یې دي اسمانونه او ځمکه په شپږو ورځو کې، بیا دی په عرش برقرار شو). [الأعراف سورت: 54 آیت].

چې لوی ګټې ته په لیدو یې دلته راوړل غوره دي؛ هغه

رحمه الله فرمایلي:

خلک د دې موضوع په اړه ډېر نظرونه لري چې دا يې د راوړلو ځای نه دی، بلکې، موږ به پدې ځای کې د سلفو صالحینو؛ مالک، أوزاعي، ثوري، لیث بن سعد، شافعي، أحمد بن حنبل، اسحاق بن راهویه او د مسلمانانو د نورو پخوانیو او اوسنیو امامانو - رحمهم الله - مذهب تعقیبوو چې هغه : اسماء او صفات په خپل حال پرېښودل دي لکه څنګه چې راغلي دي، پرته له څرنګوالي، مشابهت او له معنا څخه يې انکار، او هغه څه چې د تشبیه کوونکو په ذهن کې ښکاره دي، هغه له الله تعالی څخه منفي دي، ځکه الله جل جلاله په هیڅ شي کې د خپلو مخلوقاتو په څېر نه دی،

﴿...لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَيْءٌۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ﴾

ژباړه: (د هغه په مثل هېڅ شی نشته او هم دغه ښه اورېدونکی، ښه لیدونکی دی). [الشوری سورت: 11 آیت].

بلکې خبره هغه ده چې امامانو کړې ده لکه: نعیم بن حماد د بخاري شیخ چې ویلي يې دي: چا چې الله تعالی د مخلوقاتو سره تشبیه کړ، کفر يې وکړ، او چا چې له هغه څه نه انکار وکړ چې الله تعالی پرې ځان نومولی یقینا چې کفر يې وکړ[1]. او په هغه څه کې مشابهت نشته چې الله تعالی پرې خپل ځان موصوف کړی او یا يې پرې رسول توصیف کړی، نو چا چې

---

[1] ذهبي په: العلو (464) کې روایت کړی او: ألباني په: مختصر العلو (184) مخ کې ویلي: وهذا إسناد صحيح، رجاله ثقات معروفون. یعنې دا سند صحیح دی او رجال يې ثقه دي.

الله تعالی ته هغه څه ثابت کړل چې په ښکاره آیتونو او صحیحه اخبارو کې راغلي؛ څنګه چې د الله تعالی د جلال سره ښايي، او له الله تعالی څخه يې نېمګړتياوې نفې کړې؛ نو د هدايت لار يې تعقيب کړې ده. د ابن کثير رحمه الله وينا پای ته ورسيده.[1]

په الله تعالی ايمان کې دا عقيده هم شامله ده چې ايمان قول او عمل دی، دا چې په اطاعت سره زياتيږي او په نافرمانۍ سره کميږي، او دا جواز نلري چې کوم مسلمان د شرک او کفر څخه د کوچنيو ګناهونو له امله کافر وګڼل شي لکه: زنا، غلا، سود، شراب څښل، د مور او پلار نافرماني، او نور لوی ګناهونه، خو چې حلال يې ونه ګڼي، دليل يې د الله تعالی دا قول دی:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ...﴾

ژباړه: (بېشکه الله نه بخښي دا چې له هغه سره دې (څوك) شريك کړی شي او هغه بخښي هغه (ګناه) چې له دې (شرك) نه کمه وي د چا لپاره چې وغواړي). [النساء سورت: 48 آيت]. او هغه څه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په متواترو احاديثو کې ثابت شوي دي لکه د هغه دا وينا:

«إِنَّ اللهَ يُخْرِجُ مِنَ النَّارِ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ

---

1 تفسير ابن کثير (3/427،426).

مِنْ إِيْمَانٍ».

ژباړه: «الله تعالی به هر هغه څوک له دوزخ څخه راوباسي چې په زړه کې یې د اوري د دانې په اندازه ایمان وي»[1].

## دویم اصل: په ملایکو ایمان،

دا دوو چارو ته شاملیږي: لومړۍ چاره: پر ملایکو اجمالي ایمان؛ چې الله تعالی ملایکې د خپل طاعت لپاره پیدا کړې او هغوی یې په ځینو صفتونو سره یادې کړې دي لکه:

﴿وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَلَدٗاۗ سُبۡحَٰنَهُۥۚ بَلۡ عِبَادٞ مُّكۡرَمُونَ ٢٦ لَا يَسۡبِقُونَهُۥ بِٱلۡقَوۡلِ وَهُم بِأَمۡرِهِۦ يَعۡمَلُونَ ٢٧ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ وَلَا يَشۡفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ٱرۡتَضَىٰ وَهُم مِّنۡ خَشۡيَتِهِۦ مُشۡفِقُونَ ٢٨﴾

ژباړه: (او دوی (کافران) وایي: الله (د ځان لپاره) اولاد نیولی دی، هغه (له دې نه) پاك دی، بلکې (ملایك خو) ډېر معزز بنده ګان دي)،

(نه مخکې کیږي د الله تعالی نه په هیڅ خبره کې او بلکې دوی د هغه په حکم باندې عمل کوي)،

هغه ته معلوم دي څه چې د دوی په وړاندې دي او څه چې

[1] بخاري (22)، د أبو سعید الخدري رضي الله عنه له حدیث څخه روایت کړی.

له دوی نه وروسته دي، او دوی شفاعت نشي کولی مګر د هغه چا لپاره چې هغه (الله) ترې راضي وي او دوی خاص د هغه له هیبته وېرېدونکي دي). [الأنبیاء سورت: 26-28 ایتونه].

دوی ډېری ډولونه دي چې ځینو ته یې د عرش د پورته کولو دنده سپارل شوې، ځینې یې د جنت او دوزخ ساتونکي دي، او ځینو ته یې د بندګانو د اعمالو د ساتنې دنده سپارل شوې ده. دویمه چاره: په ملاېکو تفصیلي ایمان؛ داسې چې په هغو ملاېکو ایمان ولرو چې الله تعالی او رسول یې هغوی نومولي دي لکه: جبریل چې پر وحی مکلف دی، او میکائیل چې د باران مسوولیت لري، او مالک چې د دوزخ خزانه دار دی. او اسرافیل چې په شپېلۍ کې د پوکولو دنده پر غاړه لري. لکه څرنګه یې چې په صحیحو حدیثونو کې یادونه شوې ده لکه هغه چې په صحیح کې له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«خُلِقَتِ الـمَلَائِكَةُ مِن نُورٍ، وَخُلِقَ الجَانُّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ، وَخُلِقَ آدَمُ مِمَّا وُصِفَ لَكُم».

ژباړه: «ملاېکې له رڼا (نور) څخه پیدا شوي، او جان ( پیری) د اور له خالصې شغلې څخه پیدا شوی، او ادم علیه السلام له هغه څه څخه پیدا شوی چې تاسو ته بیان شوي دي»[1]. مسلم په خپل صحیح کې روایت کړی.

---

[1] مسلم (2996) د عائشې رضي الله عنها له حدیث څخه روایت کړی.

## دريم اصل: په کتابونو ايمان، چې دوو چارو ته شامليږي:

لومړۍ چاره: په کتابونو اجمالي ايمان؛ داسې چې الله تعالی په خپلو رسولانو او انبياوو کتابونه رالیږلي؛ تر څو يې حق بيان کړي او لور ته يې بلنه ورکړي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي:

﴿لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَنزَلۡنَا مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡمِيزَانَ لِيَقُومَ ٱلنَّاسُ بِٱلۡقِسۡطِۖ...﴾

ژباړه: (پرته له شکه موږ خپل رسولان له ښکاره دليلونو سره لیږلي او له هغوی سره مو کتاب او تله هم را نازل کړي تر څو خلك په انصاف ولاړ اوسي). [الحديد سورت: 25آيت]. او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿كَانَ ٱلنَّاسُ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ فَبَعَثَ ٱللَّهُ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَ ٱلنَّاسِ فِيمَا ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ...﴾

ژباړه: (ټول خلک (په لومړيو کې) يو امت (ډله) وو، (بيا ځينې کافران شول) نو الله پيغمبران ولیږل چې (مؤمنانو ته) زيري ورکوونکي او (کافرانو ته) ويروونکي وو ، او له دوی سره يې په حقه کتاب راولیږه د دې لپاره چې د خلکو ترمنځ فيصله (حکم) وکړي په هغه څه کې چې دوی په هغه کې اختلاف کړی دی). [البقرة سورت: 213 آيت].

دویمه چاره: په کتابونو تفصیلي ایمان دی؛ چې په هغو کتابونو ایمان ولرو چې الله تعالی یې نومونه یاد کړي لکه: تورات، انجیل، زبور او قرآن کریم، او باور ولرو چې قرآن کریم یې تر ټولو غوره او وروستی کتاب دی، او پر هغوی برلاسی دی، او هغوی لره تاییدونکی دی، او دا چې نوموړی هغه کتاب دی چې ټول امت یې باید پیروي وکړي او د پریکړو لپاره یې اساس وګرځوي، سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحیحه سنتو- ځکه چې الله تعالی خپل پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم ټولو انسانانو او پېریانو ته د پیغمبر په توګه رالیږلی او دا قرآن یې پرې نازل کړی، تر څو یې پر مټ د دوی ترمنځ پریکړې وکړي، او د هغه څه لپاره یې شفا ګرځولې چې په زړونو کې دي، او د هرڅه لپاره یې وضاحت، هدایت او د مؤمنانو لپاره یې رحمت ګرځولی دی، لکه چې الله تعالی فرمایلي:

﴿وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ مُبَارَكٞ فَٱتَّبِعُوهُ وَٱتَّقُواْ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ١٥٥﴾

ژباړه: (او دا کتاب دی چې مونږ نازل کړی دی، نو تاسو د ده پیروي وکړئ او پرهېزګاره شئ، دې لپاره چې پر تاسو رحم وکړی شي) [الأنعام سورت: 155آیت]. او الله پاک فرمایلي:

﴿...وَنَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ تِبۡيَٰنٗا لِّكُلِّ شَيۡءٖ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُسۡلِمِينَ﴾

ژباړه: {او پر تا مو کتاب نازل کړی چې د هرڅه بیانوونکی، لاربښوونه، لورېینه او د مسلمانانو لپاره زېری دی} [النحل سورت: 89 آیت]. او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿قُلۡ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُمۡ جَمِيعًا ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِيِّ ٱلۡأُمِّيِّ ٱلَّذِي يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَكَلِمَٰتِهِۦ وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ١٥٨﴾

ژباړه: {ته ووایه: ای خلکو! بې شکه زه ستاسو د ټولو په طرف د هغه الله (رالیږل شوی) رسول یم چې خاص د هغه لپاره د اسمانونو او ځمکې بادشاهي ده، نشته هېڅ حق معبود مګر همدی دی، همدغه ژوند ورکوي او مرګ ورکوي، نو تاسو پر الله او د هغه پر رسول ایمان راوړئ چې نبي دی، امي دی، هغه چې پر الله او د هغه پر کلماتو ایمان لري او تاسو د هغه پیروي وکړئ، د دې لپاره چې تاسو هدایت وموموئ}. [الأعراف سورت: 158 آیت] او په دې معنا سره ډېر آیتونه راغلي دي.

## څلورم فصل: په رسولانو ایمان

دا هم دوه چارو ته شاملېږي: لومړۍ چاره: په رسولانو اجمالي ایمان دی؛ چې ایمان ولرو چې الله تعالی خپلو بندګانو ته پیغمبران رالیږلي، ځینې له دوی څخه زیری ورکوونکي او ځینې یې ویرونکي او همدا رنګه حق ته بلونکي دي؛ نو چا چې د دوی بلنه ومنله نېکمرغه شو، او چا یې چې مخالفت

وکړې پښېمانه او نااميده به شي، د دوی وروستی او غوره يې زمونږ نبي محمد بن عبد الله -صلی الله عليه وسلم- دی، لکه چې الله تعالی فرمايلي:

﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجْتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ...﴾

ژباړه: (او يقيناً مونږ په هر يو امت کې يو رسول لېږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ). [النحل سورت: 36 آيت]. او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿رُّسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةُۢ بَعْدَ ٱلرُّسُلِ...﴾

ژباړه: او (مونږ لېږلي وو) رسولان، چې زېری ورکوونکي او وېروونکي وو، د دې لپاره چې د خلکو ته په الله باندې څه حجت پاتې نشي). [النساء سورت: 165 آيت]. او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ...﴾

ژباړه: (محمد (ﷺ) ستاسو په سړيو کې د هيچا پلار نه دی، مګر د الله رسول او د نبيانو (د لړۍ) پای ته رسوونکی دی). [الأحزاب سورت: 40 آيت].

دويمه چاره: په رسولانو په تفصيل سره ايمان راوړل؛ دا په تفصيل او توضيح سره په هغو کسانو ايمان راوړل دي چې الله تعالى نومولي يا د هغوی نومونه د الله د رسول -صلى الله عليه وسلم- لخوا ثابت شوي دي، لکه: نوح، هود، صالح، ابراهيم او نور صلى الله وسلم عليهم وعلى آلهم وأتباعهم.

## پنځم اصل: د آخرت په ورځ ايمان

چې شامل دی:

پر هر هغه څه ايمان راوړل چې الله او د هغه رسول - صلى الله عليه وسلم - يې په اړه خبر ورکړی دی چې له مرګ نه وروسته به پېښيږي لکه: د قبر آزموينه، د هغه عذاب او نعمت، او د قيامت د ورځې ويره، سختۍ، صراط، ميزان، حساب، جزاء، د خلکو تر منځه د عملنامو غوړيدل، چې چاته به په ښي او چاته په چپ لاس او يا د شا له لورې ورکول کيږي.

په دې کې پر هغه حوض ايمان درلودل هم شامل دي چې زموږ له پيغمبر محمد صلى الله عليه وسلم سره يې ژمنه شوې او په جنت او دوزخ ايمان، د مومنانو لخوا د خپل سپېڅلي رب ليدل او د هغه لخوا د خپلو بندګانو سره خبرې کول او داسې نور شيان دي چې په قرآن کريم او د الله د رسول صلى الله عليه وسلم په صحيح سنت کې راغلي دي، نو پر بنده پدې ټولو ايمان راوړل په هغه طريقه واجب دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم بيان کړې ده.

## شپږم اصل: په تقدير ايمان

او څلورو چارو ته شامليږي:

لومړۍ چاره: پدې ايمان راوړل چې الله پاک پر هر هغه څه پوه دی چې شوي او هغه چې کيږي به، او د خپلو بندګانو په حالاتو، د هغوی په ارزاقو، اجلونو، عملونو او داسې نورو چارو پوه دی، نو له هغه سبحانه وتعالی څخه هيڅ شی لدې شيانو نه پټيږي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي:

﴿...وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ﴾

ژباړه: (او پوهه شئ چې بې شکه الله په هر شي باندې ښه پوه دی). [البقرة سورت: ٢٣١ آيت]. او الله تعالی فرمايلي:

﴿...لِتَعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ وَأَنَّ ٱللَّهَ قَدۡ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عِلۡمَۢا﴾

ژباړه: (د دې لپاره چې تاسو پوه شئ چې يقينًا الله په هر شي ښه قادر دی او دا چې يقينًا الله د علم په لحاظ هر شی راګير کړی دی). [الطلاق سورت: ١٢ آيت].

دويمه چاره: پدې ايمان چې الله تعالی ټول هغه څه ليکلي چې هغه اندازه کړي او د هغو پرېکړه يې کړې ده، لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي:

﴿قَدۡ عَلِمۡنَا مَا تَنقُصُ ٱلۡأَرۡضُ مِنۡهُمۡۖ وَعِندَنَا كِتَٰبٌ حَفِيظُۢ ٤﴾

ژباړه: (يقينًا موږ په هغه څه خبر يو چې ځمکه يې د دوی (له وجود) نه کموي او له زموږ سره يو ښه ياد ساتونکی کتاب

دی) [ق سورت: ۴ آیت]. او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿...وَكُلَّ شَيۡءٍ أَحۡصَيۡنَٰهُ فِيٓ إِمَامٖ مُّبِينٖ﴾

ژباړه: (او هر شی، موږ په ښکاره اصل (لوح محفوظ) کې درج کړی دی). [یس سورت: ۱۲ آیت]. او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّ ذَٰلِكَ فِي كِتَٰبٍۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ٧٠﴾

ژباړه: (آیا ته نه پوهېږې چې یقینا الله تعالی پوه دی په هغه څه چې په اسمان کې دي او په زمکه کې دي، بېشکه دا ټول په کتاب (لوح محفوظ) کې دي، بېشکه دا په الله تعالی باندې آسان دي) [الحج سورت: ۷۰ آیت].

دریمه چاره: د الله تعالی په مؤثره اراده (مشیئت) ایمان؛ هر هغه څه چې هغه یې غواړي هغه به کیږي، او هر هغه څه چې هغه یې نه غواړي هغه به نه کیږي، لکه چې الله تعالی فرمایلي:

﴿...إِنَّ ٱللَّهَ يَفۡعَلُ مَا يَشَآءُ﴾

ژباړه: (یقینا الله کوي هغه څه چې خوښه یې وي) [الحج سورت: ۱۸ آیت]. او الله تعالی فرمایلي:

﴿إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ٨٢﴾

ژباړه: (د هغه امر خو کله چې څه وغواړي ایله دا دی چې و وایي: شه! نو هغه وشي). [یس سورت: ۸۲ آیت]. او

الله پاک فرمايلي:

﴿وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢٩﴾

ژباړه: (او تاسو د (سمې لارې) اراده نشئ کولی مګر دا چې الله رب العلمين يې اراده وکړي). [التکوير سورت: ۲۹ ايت].

څلورمه چاره: پدې ايمان چې ټول موجودات الله تعالی پيدا کړي دي؛ نو له هغه پرته يې بل خالق او له هغه پرته يې بل رب نشته، لکه چې هغه سبحانه وتعالی فرمايلي:

﴿ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ ٦٢﴾

ژباړه: (الله د هر شي پيدا کوونکی دی او هغه په هر شي باندې نګران دی). [الزمر سورت:۶۲ آيت]. او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡۚ هَلۡ مِنۡ خَٰلِقٍ غَيۡرُ ٱللَّهِ يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ٣﴾

ژباړه: (اې خلکو! الله چې پر تاسو څه پيرزوينه کړې هغه درياد کړئ، آيا له الله پرته کوم بل خالق شته چې له آسمان او ځمکې روزي درکړي؟ له هغه پرته کوم بل الله نشته، نو تاسو څنګه اړول کيږئ (له حقه)) [فاطر سورت: ۳ آيت].

نو په تقدير ايمان: پدې ټولو څلور واړو چارو ايمان راوړلو ته شامليږي، لکه څنګه چې د اهل سنت والجماعت عقيده ده؛ د هغو بدعتيانو خلاف چې له ځينو يې انکار کوي.

او د هغې صحيح عقيدې چې اهل سنت والجماعت يې لري، مهمې چارې دا دي:  د الله لپاره محبت او د الله لپاره کرکه کول، د الله لپاره دوستي او د الله لپاره دښمني چې همدې ته د ولاء او براء عقيده وايي، چې په الله تعالی د ايمان يوه برخه ده.

نو مؤمن د مؤمنانو سره مينه لري او دوستي ورسره کوي، او له کافرانو کرکه لري او دښمني ورسره کوي، او د دې امت په سر کې مؤمنان د رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرام دي، لکه څنګه چې د اهل سنت والجماعت په نزد منل شوې ده؛ نو هغوی ورسره مينه لري او دوستي ورسره کوي، او باور لري چې هغوی له پيغمبرانو وروسته غوره خلک دي، دليل يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا قول دی چې فرمايي-:

«خَيْرُ القُرُونِ قَرْنِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُم».

ژباړه: «تر ټولو غوره پېړی زما ده، بيا هغه خلک چې ورپسې دي او بيا هغه خلک چې ورپسې دي».[1] د دې حديث پر صحت اتفاق شوی دی،

او باور لري چې غوره يې : ابوبکر الصديق، بيا عمر الفاروق، بيا عثمان ذوالنورين، بيا علي المرتضی - رضي الله عنهم أجمعين - دي، بيا ورپسې لس هغه صحابه کرام دي چې د جنت زيری ورکړ شوی، بيا پاتې صحابه کرام - رضي الله

[1] بخاري په (۳۶۵۱) شمېره او مسلم په: (۲۵۳۳) شمېره د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه له حديث څخه روايت کړی.

عنهم أجمعين- او دوی د هغه څه په اړه له بحث کولو ډډه کوي چې د دوی ترمنځ پېښ شوي - يعنې د صحابه کرامو - او باور لري چې دوی په دې اړه مجتهدان وو، نو که څوک په سمه و، هغه ته دوه اجرونه ورکول کيږي او که څوک خطا شوی وي هغه ته يو اجر ورکول کيږي.

او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اهل بيت سره مينه لري - هغوی چې په رسول الله صلى الله عليه وسلم يې ايمان راوړی او د هغوی ټولو سره دوستي کوي، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د بيبيانو سره دوستي کوي چې د مؤمنانو مورګاني دي او د ټولو لپاره د الله تعالى رضايت غواړي. او د روافضو له تګلارې بيزاره دي، هغه کسان چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له صحابه کرامو کرکه لري او کنځلې ورته کوي، او د اهل بيت په اړه افراط کوي او له هغې مرتبې يې لوړوي چې الله تعالى ورکړې ده، لکه څرنګه چې له نواصبو بيزاره دي چې په وينا او عمل سره هغوی ازاروي.

نو دا چې موږ يې يادونه وکړه: ټول هغې عقيدې ته شامليږي چې الله تعالى پرې خپل رسول محمد صلى الله عليه وسلم راليږلی او دا هغه عقيده ده چې درلودل، پرې منګولې لګول، ثابت پاتې کېدل او له مخالفت څخه يې ډډه کول واجب دي، او همدا د اهل سنت والجماعت، ژغورل شوې ډلې عقيده ده، چې په اړه يې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«لَا تَـزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي ظَاهِرِينَ عَلَى الحَقِّ، لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ

خَذَلَهُمْ، حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللهِ وَهُمْ كَذَلِكَ».

«همېشه به زما د امت يوه ډله پر حق برياله پاتې وي، څوک يې چې ذلت غواړي هيڅ ضرر به ورته ونه رسوي، تر دې چې د الله پاک امر راشي او دوی به پر همدې حال وي»،[1] او په بل روايت کې راځي:

«لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِنْ أُمَّتِي عَلَى الحَقِّ مَنْصُورَةٌ».

ژباړه: «تل به زما له امت څخه يوه ډله پر حق برياله پاتې وي»،[2] او هغه - عليه الصلاة و السلام - فرمايلي:

«افْتَرَقَتِ اليَهُودُ عَلَى إِحْدَى وَسَبْعِينَ فِرْقَةً، وَافْتَرَقَتِ النَّصَارَى عَلَى اثْنَتَيْنِ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً، وَسَتَفْتَرِقُ هَذِهِ الأُمَّةُ عَلَى ثَلَاثٍ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً كُلُّهَا فِي النَّارِ إِلَّا وَاحِدَةً فَقَالَ الصَّحَابَةُ: مَنْ هِيَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: مَنْ كَانَ عَلَى مِثْلِ مَا أَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِي».

ژباړه: «يهود په يو اويا ډلو وويشل شول، او نصارا په دوه اويا ډلو، او ژر دی چې دا اُمت به درې اويا ډلو ته وويشل شي؛ چې له يوې پرته نورې ټولې به يې په اور کې وي، صحابه وو وويل: هغه کومه ده ای د الله رسوله! ويې فرمايل:

---

1 مسلم (۱۹۲۰)، د ثوبان رضي الله عنه له حديث څخه روايت کړی دی.

2 ابن ماجه (۳۹۵۲)، د ثوبان رضي الله عنه له حديث څخه روايت کړی، او ابن حبان (۶۷۱۴)، او حاکم (۸۶۵۳) صحيح ګڼلی دی.

ځوک چې په هغه لاره وي چې زه او زما ملګري پرې يو»[1]

## د صحيح عقيدې ضد عقايد

هغه کسان چې له دې عقيدې څخه انحراف کوي او د هغې پر ضد ځي؛ ډېرى ډولونه لري؛ له دوى څخه: د بوتانو، مجسمو، ملايکو، اولياوو، پيريانو، ونو، تيږو او داسې نورو عبادت کوونکي دي. نو دا هغه خلک دي چې د پېغمبرانو بلنه يې نده منلې، بلکې مخالفت او ضد يې ورسره کړى، لکه څنګه چې قريشو او رنګارنګ عربو د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وکړل؛ نو هغوى به له خپلو معبودانو څخه د حاجتونو پوره کول، د ناروغانو لپاره روغتيا او پر دښمنانو بريا غوښتله، هغوى ته به يې حلالې کولې او نذرونه به يې ورته وړاندې کول، نو کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم منع کړل، او يوازې د الله لپاره يې ورته د عبادت د خالصولو امر وکړ، دا خبره يې ناشنا وګڼله، انکار يې ترې وکړ او ويې ويل:

﴿أَجَعَلَ ٱلۡأٓلِهَةَ إِلَٰهٗا وَٰحِدًاۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٌ عُجَابٞ۝٥﴾

ژباړه: (ايا ده دغه معبودان يو اله وګرځول، بېشکه دا خامخا ډېر عجيبه ځيز دى) [ص سورت: ٥ آيت].

نو رسول الله صلى الله عليه وسلم تر هغه پورې د الله تعالى

---

1 ترمذي په (٢٦٤١) رقم، د عبد الله بن عمرو رضي الله عنه له حديث څخه روايت کړى، او مناوي په فيض القدير (٥/٣٤٧): کې ويلي "پدې کې عبد الرحمن بن زياد الأفريقي دى، ذهبي ويلي: هغوى ضعيف ګڼلى"، او ألباني په: صحيح الجامع (٥٣٤٣) کې صحيح کړى دى.

لور ته بلنه ورکوله او له شرک څخه يې ويرول، او د هغه څه حقيقت يې ورته بيانوه چې بلنه يې ورکوله، تر دې چې چاته الله تعالی غوښتل هدايت يې ورته وکړ، چې بيا ډلې ډلې د الله تعالی په دين کې داخل شول، نو د پرله پسې بلنې، د رسول الله صلی الله عليه وسلم او صحابه کرامو د اوږد جهاد پسې د اسلام دين پر ټولو اديانو برلاسی شو، الله تعالی دې له هغوی او هغو کسانو څخه راضي شي چې په نيکۍ کې د هغوی پيروي کوي. بيا حالات بدل شول، په ډيری خلکو ناپوهي غالبه شوه؛ چې ډيری خلک د جاهليت دين ته وروګرځيدل، داسې چې د پيغمبرانو او اولياوو په اړه يې افراط وکړ، غوښتنې يې ترې کولې او مرسته يې ترې غوښتله او داسې نور د شرک ډولونه، او د : لا اله الا الله معنا يې ونه پيژنده، لکه څنګه چې د عربو کفارو پيژندلې وه، الله تعالی دې مرسته وکړي.

او دا شرک تر دې مهاله په خلکو کې د هغوی د ناپوهۍ او د نبوت له زمانې سره د زيات واټن د رامنځته کېدو له امله خپريږي.

د دې وروستنيو شبهه، هماغه د لومړنيو شبهه وه، چې هغه دا وينا ده:

﴿...هَـٰٓؤُلَآءِ شُفَعَـٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ...﴾

(...دوی (معبودان) د الله تعالی پر وړاندې زموږ شفاعت کوونکي دي...). [يونس سورت: ۱۸ ايت]، او دا وينا يې:

﴿...مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ...﴾

ژباړه: (...موږ يې يوازې له دې امله لمانځو چې الله ته مو څه نيږدې کړي...). [الزمر سورت: ۳ آيت]. چې الله تعالی د دوی دا شبهه باطله کړه، او دا يې په ډاګه کړه چې څوک له هغه پرته د هر څيز عبادت وکړي نو پر هغه يې شرک کړی او کافر شوی دی، الله تعالی فرمايلي:

﴿وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ...﴾

ژباړه: (او هغوی له الله نه پرته هغه څه لمانځي چې نه څه زيان وررسولای شي او نه څه ګټه او دوی وايي چې دا د الله په وړاندې زموږ سپارښتګر دي). [يونس سورت: ۱۸ ايت]. الله پاک پر دوی په خپلې دې وينا سره رد وکړ:

﴿قُلۡ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ ۝١٨﴾

ژباړه: (ته ووايه: ايا تاسو الله پر هغه څه خبروئ چې هغه يې نه په اسمانونو کې پيژني او نه يې په ځمکه کې، هغه ډېر پاك دی او ډېر اوچت دی له هغو څيزونو نه چې دوی يې ورسره شريکوي). [يونس سورت: ۱۸ ايت].

نو هغه پاک ذات پدې آيت کې دا بيان کړه چې له هغه پرته د نبيانو، وليانو او داسې نورو عبادت لوی شرک دی، اګر که تر سره کوونکی يې دا په نورو نومونو يادوي، او الله تعالی فرمايي:

﴿...وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ...﴾

(...او کومو خلکو چې له هغه پرته نور دوستان نیولي (او وايي چې) موږ خو د دوی عبادت نه کوو مګر د دې لپاره چې دوی نږدې کړي موږ الله ته...) [الزمر سورت: ۳ آیت]. بیا پرې الله تعالی پدې وینا سره رد وکړ:

﴿...إِنَّ ٱللَّهَ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ فِي مَا هُمۡ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَنۡ هُوَ كَٰذِبٞ كَفَّارٞ﴾

ژباړه: (بېشکه الله به د دوی په مینځ کې په هغو خبرو کې فیصله کوي چې دوی په هغو کې اختلاف کوي، بېشکه الله لاربښوونه نه کوي هغه چا ته چې دروغجن، ډېر ناشکره وي) [الزمر سورت: ۳ آیت].

نو پدې سره ورته الله پاک ښکاره کړه چې له هغه پرته بل چاته د دوی عبادت کول په دعاء، ویرې، امید ساتلو او داسې نورو سره په هغه پاک ذات کفر کول دي، او دوی یې دروغجن وګرځول په خپله هغه وینا کې چې دوی ویل: مونږ یې عبادت نه کوو مګر د دې لپاره چې هغه - الله تعالی - ته مو ښه نږدې کړي.

او له کفري عقیدو څخه چې د سمې عقیدې ضد او هغه څه سره مخالفې دي چې پیغمبرانو علیهم الصلاة والسلام پرې راتګ کړی؛ هغه عقیده ده چې بې دینان یې په نن عصر کې لري لکه: د مارکس، لینن پیروان او داسې نور بې دینۍ او

کفر ته بلونکي، برابره ده که دوی یې په سوشیالیزم، کمونیزم، بعث او داسې نورو نومونو یادوي، ځکه د دې بې دینانو له اصولو څخه دا دي چې هیڅ اله نشته او ژوند یوازې ماده ده.

او د دوی له اصولو څخه: ژوندون، جنت او دوزخ څخه منکریدل او په ټولو دینونو کفر کول دي، او څوک چې د دوی په کتابونو کې وګوري او هغه څه چې دوی پرې دي په یقیني توګه به باوري شي، او شک نشته چې دا عقیده د ټولو اسماني دینونو سره په ټکر کې ده، او پیروان یې په دنیا او اخرت کې له تر ټولو ناوړه انجام سره مخ کوي.

او د هغو عقایدو له ډلې چې د حق خلاف دي: د ځینو صوفیانو عقیده ده چې ځینې خلک چې هغوی یې اولیاء او د الله تعالى سره د چارو په تدبیر کې شریک بولي، او د نړۍ په اداره کولو کې تصرف کوي، او هغوی ته قطبونه (د قطب جمع ده او د صوفیانو په اند هغه چاته ویل کیږي چې د کائناتو د تشریح کولو تلسم له ځان سره ولري). اوتاد: (د وتد جمع ده او د صوفیانو په اند هغه چاته ویل کیږي چې له هر شر څخه د ځمکې د ساتنې چاره پر غاړه لري)، أغواث (د غوث جمع ده چې په سختې کې خلکو ته رسیدنه کوي).او داسې نور نومونه کاروي چې له ځان څخه یې خپلو معبودانو ته ټاکلي دي، او دا په ربوبیت کې شرک دی، چې د الله تعالى سره د شرک کولو تر ټولو بد ډول دی.

او څوک چې د جاهلیت د لومړنیو خلکو شرک ته پام وکړي او هغه د وروستنیو د شرک سره پرتله کړي؛ نو وبه مومي چې د وروستنیو نسلونو شرک لوی او جدي دی، چې

وضاحت يې په لاندې ډول دی: د جاهليت پر مهال د عربو كافرانو دوه ځانګړتياوې درلودې: لومړی: هغوی په ربوبيت کې شرک نه کاوه، بلکې شرک يې يوازې په عبادت کې و، ځکه د الله تعالی په ربوبيت يې اعتراف کاوه لکه چې الله تعالی فرمايلي:

﴿وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَهُمۡ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ...﴾

ژباړه: (او كه ودې پوښتل چې هغوی چا پيدا كړي، هرومرو به وايي: الله). [الزخرف سورت: ۸۷ آيت]. او الله - تعالی - فرمايلي:

﴿قُلۡ مَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ أَمَّن يَمۡلِكُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَمَن يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَيُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُۚ فَقُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ ٣١﴾

ژباړه: (ته ووايه: تاسو ته له اسمان او ځمكې څخه روزي څوك دركوي؟ يا د غوږونو او سترګو مالك څوك دى اوڅوك ژوندى له مړي راوباسي او مړى له ژوندي راوباسي او څوك د كارونو تدبير كوي؟ نو يقينًا دوى به وايي چې الله دى، (نو ته ووايه:) ايا نو تاسو نه وېرېږئ). [يونس سورت: ۳۱ آيت] او پدې معنا سره ډېرى آيتونه راغلي دي.

دويم دا چې: د هغوی شرک به په عبادت کې تل نه و، بلکې يوازې د اسانتيا په حالت کې به يې شرک کاوه، خو په سختۍ کې به يې يوازې الله تعالی ته عبادت خالص کوو، لکه چې الله تعالی فرمايي:

﴿فَإِذَا رَكِبُواْ فِي ٱلۡفُلۡكِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ إِذَا هُمۡ يُشۡرِكُونَ٦٥﴾

ژباړه: (او هر کله چې دوی سپاره شي په کښتيو کې نو رابولي الله تعالی لره، اخلاص کوي د هغه په بلنه کې نو هر کله چې دوی ته نجات ورکړي وچې ته، (نو) ناڅاپه دوی (له الله سره) شريکان نيسي) [العنکبوت سورت: ۶۵ آيت].

او ورستي مشرکان چې دي نو دوی پر هغوی له دوو اړخونو ور اوښتي دي: لومړی اړخ: په ربوبيت کې د ځينو شرک. دويم اړخ: په اسانتيا او سختۍ کې شرک، لکه څرنګه چې د دوی په حال هغه څوک ښه پوهيږي چې ورسره يې ناسته پاسته شوې او د دوی حالات يې له نږدې څارلي او هغه څه يې ليدلي چې دوی يې د الحسين او البدوي او نورو له قبرونو سره په مصر او د عدن په عيدروس کې کوي، د الهادي له قبر سره په يمن، او د ابن عربي له قبر سره په شام، او د شيخ عبد القادر الجيلاني له قبر سره په عراق او نورو مشهورو قبرونو سره کوي؛ چې عوام خلک پکې غلو (له حد نه اوړيدل) کوي او د الله تعالی ډيری حقونه يې ورکړي، او داسې ډير کم خلک شته چې رد ورباندې وکړي او د توحيد حقيقت ورته بيان کړي؛ هغه چې الله پرې خپل نبي - صلی الله عليه وسلم - او له هغه وړاندې رسولان عليهم الصلاة والسلام راليږلي، بس مونږ يواځې د الله تعالی يو او خاص هغه ته ورګرځيدونکي يو.

او د اسماء او صفاتو په باب کې د صحيح عقيدې ضد عقيده

د بدعتیانو؛ جهمیه او معتزله و او د دوی د پیروانو عقیده ده، چې له الله - تعالی- څخه صفات نفي کوي او یا یې له معنا څخه انکار کوي، بلکې الله تعالی پداسې صفتونو سره یادوي چې هغه معدوم (نشت)، جامد او یا ناشونې وي، الله تعالی د دوی له ویناوو څخه ډیر پورته دی.

او پدوی کې هغه خلک هم شامل دي چې له ځیني صفتونو منکر دي او ځینې نور ثابتوي لکه: أشعریان، دا چې هغوی ځیني صفتونه ثابتوي نو پرې لازم دي چې ورته نور صفتونه چې دوی یې ثابتوي د هغو صفاتو په څېر چې تېښته ترې کوي او دلایل یې نفي کوي (هم باید ثابت کړي، خو دا چې نه یې کوي) ، نو پدې سره دوی د سمعي او عقلي دلایلو سره په مخالفت کې واقع شول، او پدې سره په ښکاره ټکر کې ولوېدل،

خو أهل سنت والجماعت الله پاک ته د پوره کمال سره له نومونو او صفتونو څخه هغه څه ثابتوي چې هغه (ذات) خپل ځان ته ثابت کړي او یا یې رسول؛ محمد - صلی الله علیه وسلم - ورته ثابت کړي وي، او پاک یې ګڼي له دې چې د مخلوق سره یې تشبیه کړي پداسې پاکوالي سره چې د تعطیل (له معنا څخه) پکې څکه نه وي، نو پدې سره دوی په ټولو دلیلونو عمل کړی، نه یې تحریف کړی او نه هم تعطیل، او له هغه ټکر څخه هم بچ پاتې شوي چې له دوی پرته نور ورسره مخ شوي دي، لکه څرنګه چې پدې اړه وړاندې وویل شول،

او همدا په دنیا او اخرت کې د خلاصون او نیکمرغۍ لار ده؛ هغه نیغه لار چې د دې امت سلفو او امامانو نیولې وه. او

هیڅکله به د دې امت وروستي خلک اصلاح نه شي مګر په هغه څه چې لومړي پرې اصلاح شوي وو، چې هغه د قرآن اوسنت پیروي ده، او د هر هغه څه پرېښودل چې د دې خلاف وي. له الله تعالی څخه سوال کوو چې امت خپلې هوښیارۍ ته راوګرځوي، د هدایت بلونکي پکې ډېر کړي، مشرانو او عالمانو ته یې د شرک پر وړاندې د جنګېدلو او له منځه وړلو توفیق ورکړي او له اسبابو یې خلک وویروي ... بېشکه هغه ذات اوریدونکی او نږدې دی. الله تعالی توفیق ورکوونکی دی، هغه زموږ لپاره کافي دی، او هغه د چارو غوره کار جوړونکی دی، له هغه پرته بل حالت بدلوونکی او هیڅ ځواک نشته. وصلی الله وسلم وبارك علی عبده ورسوله نبینا محمد وآله وصحبه.

***

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحمَنِ الرَّحِيمِ

## دويم پېغام:

## پر پيغمبر ﷺ د مرستې غوښتلو حکم

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وأصحابه ومن اهتدى بهداه.

اما بعد: د کويټ المجتمع ورځپاڼې په خپله پنځلسمه ګڼه کې، چې د ۱۳۹۰ هجري قمري کال د ۴ مياشتې په ۱۹ نېټه خپره شوې وه، (د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د زوکړې کليزه) تر سرليک لاندې بيتونه خپاره کړي وو، چې پکې د امت د ژغورلو، بريا، له بې اتفاقۍ او اختلاف څخه د خلاصون په موخه پر هغه صلى الله عليه وسلم مرسته غوښتل شامل و، دا بېتونه د يو چا په نوم چې ځان (آمنه) بولي لاسليک شوي او دا يې د يادو بيتونو متن دی:

ای د الله رسوله، نړۍ وژغوره ...جګړه اور اخلي او لمبې يې خيژي.

ای د الله رسوله امت وژغوره... ډير وخت وشو چې د شک په تيارو کې بنديوان دی.

ای د الله رسوله امت وژغوره چې ... د غمونو په کړلېچونو کې يې خوبونه ورک شوي دي

. . . تر دې چې وايي:

بيرنۍ بريا راکړه .... لکه د بدر د ورځې په څېر؛ کله دې چې الله راوباله.

نو ذلت پر یوه لویه بریا بدل شو ... الله داسې سرتیري لري چې تاسو یې نه وینئ

(پدې ډول دا لیکواله په رسول الله صلی الله علیه وسلم غږ کوي، مرسته ترې غواړي او د امت لپاره ترې بیړنۍ بریا غواړي، یا یې هېر دي - او یا نه پوهېږي - چې بریا یوازې د الله په لاس کې ده، نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس کې او نه د نورو مخلوقاتو، لکه څرنګه چې الله تعالی په خپل مبین کتاب کې فرمایلي:

﴿...وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ﴾

ژباړه: (او نه دی مدد مګر د الله له جانبه). [آل عمران سورت: ۱۲۶ ایت]، او الله جل جلاله فرمایلي:

﴿إِنْ يَنْصُرْكُمُ اللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ وَإِنْ يَخْذُلْكُمْ فَمَنْ ذَا الَّذِي يَنْصُرُكُمْ مِنْ بَعْدِهِ...﴾

ژباړه: (که چېرې الله ستاسو مدد وکړي، نو بیا پر تاسو باندې هیڅوك غالب راتلونکی نشته او که چېرې تاسو (بې مدده) پرېږدي، نو څوك دی هغه کس چې له هغه (الله) نه بعد به ستاسو مدد وکړي). [آل عمران سورت: ۱۶۰ ایت].

او د دعا او مرستې غوښتلو دا عمل: له الله تعالی پرته بل چا ته یو ډول عبادت کول دي؛ دا د نص (قرآن، حدیث) او اجماع له مخې معلومه ده چې الله پاک مخلوقات د دې لپاره پیدا کړي چې عبادت یې وکړي او د عبادت د څرنګوالي او د عبادت لور ته د بلنې لپاره یې رسولان رالیږلي او کتابونه یې

نازل کړي، لکه چې الله پاک فرمايلي:

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴿٥٦﴾﴾

ژباړه: (او ما پېريان او انسانان نه دي پيدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي). [الذاريات سورت: ۵۶ ايت]، او الله - تعالی - فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ...﴾

ژباړه: (او يقينًا يقينًا مونږ په هر يو امت کې يو رسول ليږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ...). [النحل سورت: ۳۶ آيت]، او الله - تعالی - فرمايلي:

﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ ﴿٢٥﴾﴾

ژباړه: (او له تا مخکې مو کوم رسول نه دی ليږلی مګر هغه ته مو وحي کړې چې له ما پرته بل الله نشته، نو يوازې زما عبادت وکړئ). [الأنبياء سورت: ۲۵ آيت]، او الله جل جلاله فرمايلي:

﴿الر كِتَابٌ أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ ثُمَّ فُصِّلَتْ مِنْ لَدُنْ حَكِيمٍ خَبِيرٍ﴿١﴾ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا اللَّهَ إِنَّنِي لَكُمْ مِنْهُ نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ﴿٢﴾﴾

ژباړه: (الف، لام، را، (دا) کتاب دی چې آيتونه يې محکم

کړی شوي دي، بیا د بنه حکمت والا، پوره خبردار ذات له خوا نه په تفصیل سره بیان شوي دي)
(دا چې تاسو عبادت مه کوئ مګر یواځې د الله، بېشکه زه ستاسو لپاره د هغه له جانبه (رالیږل شوی) وېروونکی او زېری ورکوونکی یم). [هود ایت: ایتونه ١، ٢].
نو هغه، پاک ذات، په دې پرېکنده آیتونو کې روښانه کړېده چې ثقلین (انسانان او پیریان) یې نه دي پیدا کړي مګر د خپل عبادت لپاره، هغه ذات چې شریک نه لري، او دا یې هم روښانه کړې چې هغه پیغمبران - علیهم السلام- ندي رالیږلي مګر د خپل عبادت لپاره؛ چې په عبادت امر وکړي او له ضد څخه یې خلک منع کړي، هغه جل جلاله دا هم څرګنده کړه چې هغه خپل آیتونه محکم او پرېکنده کړي او تشریح کړي یې دي، تر څو له هغه سپېڅلي ذات پرته د بل چا عبادت ونه شي.
او څرګنده ده چې عبادت د الله تعالی یووالی او د هغه اطاعت دی، د هغه د اوامرو په منلو او له نواهیو څخه یې پر منع کېدلو، الله تعالی په ډېری آیتونو کې پدې امر کړی او خبر یې ورکړی، په شمول د دې آیت چې فرمایي:
﴿وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ...﴾
ژباړه: (حال دا چې دوی ته حکم نه و ورکړی شوی مګر په دې چې دوی دې د الله عبادت کوي، په داسې حال کې چې دین (عبادت) دغه (الله) لره خالص کوونکي وي (او) حنیفان (له باطله حق ته راګرځېدونکي) وي...). [البينة سورت: 5

ایت]، او د الله تعالی دا وینا:

﴿وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ...﴾

ژباړه: (او ستا رب حکم کړی دی چې تاسو عبادت مه کوئ (د بل هیچا) مګر یواځې د هغه او له مور او پلار سره ښه احسان کوئ...). [الإسراء سورت: 23 آیت]. او دا قول د الله تعالی:

﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ فَٱعۡبُدِ ٱللَّهَ مُخۡلِصٗا لَّهُ ٱلدِّينَ ۝٢ أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلۡخَالِصُۚ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ فِي مَا هُمۡ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَنۡ هُوَ كَٰذِبٞ كَفَّارٞ ۝٣﴾

ژباړه: (بېشکه مونږ تا ته کتاب په حقه سره نازل کړی، نو ته د الله عبادت کوه، په داسې حال کې چې دین هغه (الله) لره خالص کوونکی یې).

ژباړه: (خبردار شئ! خاص د الله لپاره خالص دین دی، او هغه کسان چې له هغه نه غیر یې دوستان (کارسازي) نیولي (وايي:) مونږ د دوی عبادت نه کوو مګر د دې لپاره چې دوی مونږ الله ته نږدې کړي، ښه نږدې کول، بېشکه الله به د دوی په مینځ کې په هغو خبرو کې فیصله کوي چې دوی په هغو کې اختلاف کوي، بېشکه الله هدایت نه کوي هغه چا ته چې هغه دروغجن، ډېر ناشکره وي). [الزُّمَر سورت: 2-3 ایتونه].

او پدې معنا سره ډېرې آیتونه راغلي چې ټول یې الله تعالی ته په عبادت کې د اخلاص پر وجوب او له هغه پرته د پیغمبرانو او نورو د عبادت په پرېښودلو دلالت کوي.

او په دې کې شک نشته چې دعا د عبادتونو یو له خورا مهمو او جامعو ډولونو څخه دی، نو دا باید یوازې الله لپاره خالص وي، لکه چې الله تعالی فرمایلي:

﴿فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ﴿١٤﴾﴾

ژباړه: (نو تاسو الله بلئ، په داسې حال کې چې همده ته د دین خالص کوونکي یاست، اګر که کافران یې بد ګڼي). [غافر سورت: 14 ایت]. او الله تعالی فرمایلي:

﴿وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا﴿١٨﴾﴾

ژباړه: (او دا چې یقینًا جوماتونه خاص د الله لپاره دي، نو تاسو له الله سره بل هیڅوك مه بلئ). [الجن سورت: 18 آیت]، او دا لاربنوونه چې په عبادت سره د الله تعالی یوازې کول دي ټول مخلوقات، په شمول د پیغمبرانو او نورو ته شاملېږي، او د هغه دا قول:

﴿وَلَا تَدْعُ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ فَإِنْ فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِّنَ ٱلظَّٰلِمِينَ﴿١٠٦﴾﴾

(او له الله نه پرته کوم داسې څوک مه رابله چې نه درته ګټه رسولی شي نه زیان، که ته داسې وکړې نو له ظالمانو نه به یې). [یونس سورت: 106 ایت]، دا پیغمبر صلی الله علیه

وسلم ته خطاب دی خو ښکاره ده چې هغه الله تعالی له شرک څخه ساتلی دی، نو موخه ترې له شرک څخه د نورو ویرول دي، بیا الله تعالی فرمایلي:

﴿وَلَا تَدْعُ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ فَإِنْ فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِنَ الظَّالِمِينَ﴿١٠٦﴾﴾

ژباړه: (او له الله پرته بل هغه څوک مه رابوله چې نه ګټه او نه ضرر درته رسولای شي، که دې دا وکړل؛ نو پرته له شکه ته به له تېري کوونکو څخه یې). [یونس سورت: 106 ایت]، او دا پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته خطاب دی خو موخه یې نورو ته خبرداری ورکول دي. ځکه معلومه ده چې الله تعالی خپل رسول له شرک څخه ساتلی، بیا الله تعالی په سختو الفاظو او ویروني له شرک څخه منع کړې ده او فرمایلي یې دي:

﴿...فَإِنْ فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِنَ الظَّالِمِينَ﴾

ژباړه: (...نو که چېرې ته دغه (کار) وکړې، نو بېشکه ته به په دغه وخت کې له ظالمانو څخه یې). او ظلم چې کله مطلق بیان شي، مراد ترې لوی شرک وي، لکه چې الله تعالی فرمایلي:

﴿...وَالْكَافِرُونَ هُمُ الظَّالِمُونَ﴾

ژباړه: (...او همدا کافران ظالمان دي) [البقرة سورت: ۲۵۴ ایت]. او الله تعالی فرماېلي:

﴿...إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ﴾

ژباړه: (بېشکه شرک یقینًا ډېر لوی ظلم دی). [لقمان سورت: ۱۳ آیت]. نو که د آدم علیه السلام د اولادې سردار - صلی الله علیه وسلم - له الله پرته بل څوک راوبلي، هغه به له ظالمانو څخه شي، نو د نورو خلکو به څه حال وي؟

نو له دې او نورو آیتونو معلومه شوه چې له الله تعالی پرته بل څوک رابلل لکه: مړي، ونې، بوتان او داسې نور - د الله تعالی سره شرک او په عبادت کې د الله تعالی د یووالي سره په ټکر کې عمل دی؛ او عبادت د انسانانو او پېریانو د پیدابښت، د پېغمبرانو د رالیږلو، او د کتابونو د نازلیدلو موخه ده، همدا رنګه (شرک) د : (لا اله الا الله) د معنا سره په ټکر کې دی، چې په حقیقت کې دا کلمه له الله پرته د بل هر څه عبادت نفي کوي او یوازې الله تعالی ته یې ثابتوي، لکه چې الله پاک فرمایلي:

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ هُوَ ٱلۡبَٰطِلُ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ ٦٢﴾

ژباړه: (دغه په دې سبب چې بېشکه الله، هم دی حق دی او دا چې بېشکه هغه چې دوی یې له هغه (الله) نه غیر بولي، همغه باطل دی او دا چې بېشکه الله، هم دی ډېر اوچت، ډېر لوی دی). [الحج سورت: ۶۲ آیت].

او همدا د دین اصل او د ایمان اساس دی، او عبادتونه تر هغه وخته پورې اعتبار نلري تر څو چې دا اصل سم نه وي،

لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴿٦٥﴾﴾

ژباړه: (او یقینًا یقینًا تا ته وحي کړی شوې ده او هغو کسانو ته چې له تا مخکې وو (داسې چې) قسم دی که تا شرك وکړ (نو) ستا عمل به خامخا لازمًا برباد شي او ته به خامخا لازمًا له تاوانیانو څخه شې). [الزمر سورت: ۶۵ ایت]. او الله پاک فرمایلي:

﴿...وَلَوْ أَشْرَكُوا لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾

ژباړه: (او که چېرې هغوی شرك کړی وَی (، نو) له هغوی نه خامخا به ضایع شوي وو هغه عملونه چې دوی به کول). [الأنعام سورت: ۸۸ آیت].

له تېرو دلایلو څرګندیږي چې د اسلام دین او د شهادت کلمه چې: (لا إله إلا الله) ده دوه لوی اصول لري:

یو دا چې یوازې د یو الله عبادت وشي چې شریک نه لري؛ نو څوک چې پېغمبران او نور مړي راوبلي، یا بوتان، ونې، تیږې یا نور مخلوقات راوبلي یا له هغوی مرسته وغواړي، یا په قربانیو او نذرونو سره هغوی ته نږدې شي، یا هغوی ته لمونځ او سجده وکړي، نو یقینا چې هغوی یې له الله پرته د ځان لپاره معبودان او د هغه سپېڅلي ذات سره شریکان نیولي، او په دې سره یې د (لا اله الا الله) معنا نقض کړې ده.

دویم: دا چې د الله تعالی عبادت یوازې د هغه د رسول صلی

الله علیه وسلم په شریعت سره وشي، څوک چې په دین کې د داسې یو څه نوښت وکړي چې الله تعالی یې اجازه نه وي ورکړې؛ نو د محمد صلی الله علیه وسلم په پیغمبرۍ د ګواهۍ ورکولو معنا یې نه ده پر ځای کړې، او عمل یې ورته ګټه نه رسوي او نه ترې قبلیږي، الله تعالی فرمایلي:

﴿وَقَدِمْنَا إِلَى مَا عَمِلُوا مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَاهُ هَبَاءً مَنْثُورًا﴿٢٣﴾﴾

ژباړه: (او دوی چې څه عمل هم کړی دی هغه ته به مونږ ورسو، نو هغه به خور کړی شوی ګرد وګرځوو). [الفرقان سورت: ۲۳ ایت]، او په آیت کې له یادو اعمالو څخه موخه: د هغه چا عملونه دي چې الله تعالی سره د شرک کولو په حال کې مړ شوی وي.

په دې کې هغه بدعتي اعمال هم شامل دي چې الله تعالی یې اجازه نه ده کړې، او د قیامت په ورځ به لکه د خپور کړی شوي ګرد په څېر وګرځي (دوړه به شي) ځکه چې د پاکیزه شریعت مطابق نه وو، لکه څرنګه چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ».

ژباړه: «چا چې زمونږ په دین کې نوي شیان راپیدا کړل چې له هغه څخه نه وي، هغه مردود دي». د دې حدیث پر صحت اتفاق شوی دی.

د وینا لنډیز داسې دی چې: دې لیکوالې په خپل فریاد او دعا سره رسول الله صلی الله علیه وسلم مخاطب ګرځولی او له الله رب العالمین څخه یې مخ اړولی، هغه ذات چې په لاس

کې يې بريا، تاوان او ګټه دي او له هغه پرته د بل چا په لاس کې نشته.

او له شک پرته چې دا لوی ظلم دی، په داسې حال کې چې الله تعالی د هغه په رابللو امر کړی، او څوک يې چې رابلي هغه سره يې د قبلولو ژمنه کړې او څوک چې د هغه له رابلنې سرغړونه کوي هغه يې په جهنم سره ګواښلی لکه چې الله تعالی فرمايلي:

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ۝٦٠﴾

ژباړه: (او ستاسو رب فرمايي: تاسو ما وبلئ چې زه ستاسو دعا قبوله کړم. بېشکه هغه کسان چې زما له عبادت نه تکبر کوي، ژر ده چې دوی به دوزخ ته ننوځي، په داسې حال کې چې خوار او ذليله به وي). [غافر سورت: ايت ٦٠]، يعنې: سپک او ذليل. نو دا مبارک آيت ښيي چې دعا يو عبادت دی او څوک چې ترې کبر او غرور کوي ځای يې جهنم دی، نو کله چې دا د هغه چا حالت وي چې د الله تعالی له رابللو سرغړونه کوي، نو د هغه چا حالت به څنګه وي چې له هغه پرته بل څوک رابلي او له ده څخه مخ اړوي، پداسې حال کې چې هغه پاک ذات نږدې دی، د هرڅه مالک او پر هر څه قادر دی لکه چې فرمايي:

﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ ۝١٨٦﴾

ژباړه: (او چې بندګان مې زما په اړه تا کله وپوښتي؛ نو (ورته وایه چې) زه بالکل نږدې یم، د غوښتونکي سوال قبلوم کله چې ما ورو‌بولي، نو زما (بلنه) دې هم ومني او پر ما دې ایمان راوړي تر څو په سمه لار محکم پاتې شي). [البقرة سورت: ۱۸۶ ایت]، او یقینا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په صحیح حدیث کې خبر ورکړی چې دعا عبادت دی، او خپل د تره زوی عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ته یې وفرمایل:

«احْفَظِ اللهَ يَحْفَظْكَ، احْفَظِ اللهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ، إِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللهَ، وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللهِ».

ژباړه: «الله په یاد لره، ساتنه به دې کوي، الله په یاد لره، مخې ته به یې ومومې. کله چې څه غواړې، له الله نه یې غواړه او کله چې مرسته او ملاتړ غواړې، نو له الله یې غواړه». ترمذي او نورو روایت کړی دی.

او هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَدْعُو لِلهِ نِدًّا؛ دَخَلَ النَّارَ».

ژباړه: «څوک چې پداسې حال کې مړ شو چې له الله سره یې شریک باله نو اور ته به داخل شي». دا حدیث بخاري روایت کړی دی، او په صحیحینو کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت دی چې له هغه څخه پوښتنه وشوه چې کومه ګناه تر ټولو لویه ده؟ هغه وفرمایل:

«أَنْ تَجْعَلَ لِلهِ نِدًّا وَهُوَ خَلَقَكَ».

ژباړه: «دا چې له الله سره شریک وګرځوې، پداسې حال کې چې هغه پیدا کړی یې». او (نِد): برابر او مشابه ته وايي، نو څوک چې له الله تعالی پرته بل څوک رابلي، یا له هغه مرسته وغواړي، یا ورته نذر پېش کړي، یا د هغه لپاره حلاله وکړي، یا یې یو بل ډول عبادت وکړي؛ هغه یې شریک ګڼلی، برابره خبره ده که هغه پېغمبر وي یا ولي، ملاېکه یا پېری، بُت وي او یا نور مخلوق.

نو دلته کېدی شي یو څوک ووايي چې: له ژوندي حاضر انسان څخه سوال کول څه حکم لري، البته په هغو کارونو کې چې هغه یې وړتیا لري، یا په فزیکي کارونو کې ترې مرسته وغوښتل شي چې هغه یې کولی شي؛ جواب دا دی چې: دا هغه شرک نه دی، بلکې د مسلمانانو تر منځه عادي او روا چاره ده، لکه چې الله تعالی د موسی علیه السلام په کیسه کې فرمایلي:

﴿...فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِى مِنْ شِيعَتِهِ عَلَى الَّذِى مِنْ عَدُوِّهِ...﴾

ژباړه: (...نو، هغه کس چې د ده له ډلې څخه و، له ده نه یې مرسته وغوښته، د هغه کس په خلاف چې د ده له دښمنانو څخه و...) [القصص سورت: ۱۵ ایت]، او لکه څنګه چې الله تعالی د موسی علیه السلام په کیسه کې فرمایلي:

﴿فَخَرَجَ مِنْهَا خَايِفًا يَتَرَقَّبُ...﴾

ژباړه: (نو موسٰی له دغه (ښار) نه ووت، په دې حال کې

چې وېرېدونکی و (او) انتظار يې کاوه...). [القصص سورت: ۲۱ ايت] او لکه څنګه چې يو سړی په جګړه کې له خپلو ملګرو مرسته غواړي او يا داسې نورې پېښې چې انسانان پکې د يو بل مرستو ته اړتيا پيدا کوي.

او الله تعالی خپل نبي صلی الله عليه وسلم ته امر کړی چې امت يې له دې خبر کړي چې هيڅوک د ګټې رسولو يا د ضرر د مخنيوي واک نه لري، الله پاک فرمايلي:

﴿قُلْ إِنَّمَا أَدْعُو رَبِّي وَلَا أُشْرِكُ بِهِ أَحَدًا۝٢١ قُلْ إِنِّي لَا أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا رَشَدًا۝٢٢﴾

(ورته ووايه: زه خو يوازې خپل پالونکی رابولم او بل هيڅوك نه ورسره شريکوم.

ورته ووايه: زه تاسي ته نه د تاوان رسولو واك لرم او نه د خير بښېګنې). [الجن سورت: ۲۱، ۲۲ ايتونه]، او الله تعالی فرمايلي:

﴿قُلْ لَا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ وَلَوْ كُنْتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ۝١٨٨﴾

ژباړه: (ته ووايه: زه د خپل ځان لپاره نه د نفعې مالك يم او نه د نقصان مګر هغه چې الله يې وغواړي او كه چېرې زه پر غيبو عالم وَی (، نو) ما به خامخا ډېر خير حاصل كړی و او ما ته به هېڅ تكليف نه و رارسېدلی، زه نه يم مګر

وېرووونکی او زېرې ورکوونکی د هغه قوم لپاره چې ایمان راوړي). [الأعراف سورت: ۱۸۸ آیت].

او په دې معنا سره ډېر آیتونه راغلي دي.

او ښکاره ده چې هغه صلی الله علیه وسلم یوازې خپل رب رابللي، د بدر په ورځ یې په الله مرسته او پر دښمن بریا غوښتله او زارۍ یې کولې او ویل یې: «ای ربه! ژمنه دې راسره پوره کړه». تر دې چې لوی رېښتین ابوبکر رضي الله عنه وویل: بس دی ای د الله رسوله! یقینا چې الله به درسره کړې ژمنه پوره کړي، او په اړه یې الله جل جلاله دا آیت نازل کړ.

﴿إِذۡ تَسۡتَغِيثُونَ رَبَّكُمۡ فَٱسۡتَجَابَ لَكُمۡ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلۡفٖ مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ مُرۡدِفِينَ ٩﴾

ژباړه: (او (یادکړئ) کله چې تاسو فریاد کوو خپل رب ته د مدد کولو نو قبول والی وکړو تاسو لره الله تعالی د دې فریاد چې یقینا زه مدد کوم تاسو لره په ملایکو زرو سره چې یو بل پسې به راځي). [الأنفال سورت: ۹ آیت]. په دې آیتونو کې د سپېڅلي ذات لخوا د دوی د مرستې لپاره د فریاد یادونه او له دې خبر ورکول شوی چې په ملاېکو سره یې د هغوی مرسته وکړه د دې لپاره و چې په بریا او ډاډ سره زیری ورکړي، او دا یې بیان کړه چې بریا د ملاېکو لخوا نه بلکې د هغه سپېڅلي ذات له لورې ده، نو ویې فرمایل:

﴿وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ...﴾

ژباړه: (او نه دی مدد مګر د الله له جانبه...). [آل عمران سورت: ۱۲۶ ایت]، او الله جل جلاله فرمایلي:

﴿وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنْتُمْ أَذِلَّةٌ فَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ﴿١٢٣﴾﴾

ژباړه: (او الله په بدرکې (هم) مرسته درسره کړې وه، هغه مهال چې کمزوري وئ نو الله نه ووېرېږئ، ترڅو يې شکر پرځای کړئ). [آل عمران سورت: ایت 123]. نو په دې آیت کې هغه تعالی څرګنده کړه چې هغه پاک ذات د بدر په ورځ د دوی ملاتړ کوونکی و، نو معلومه شوه چې کومه وسله او ځواک يې چې ورکړی و او هغه څه چې د دوی مرسته يې پرې وکړه، دا ټول د بریا لاملونه، زیری او ډاډګیرنه وه، او بریا د دې خېزونو له امله نه وه، بلکې يوازې د الله لخوا وه. نو دا لیکواله - یا بل څوک - څنګه جرأت کولی شي د مرستې او بریا لپاره خپل فریاد پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته وکړي، او له رب العالمین څخه مخ واړوي، هغه ذات چې د هر څه مالک او پر هر څه قادر ذات دی؟

له شک پرته چې دا تر ټولو بده ناپوهي، بلکې له لوی شرک څخه دی، نو پر لیکوالې واجب دي چې الله تعالی ته رېښتينې توبه وکړي، داسې توبه چې لاندې چارو ته شامله وي: لومړی: پر خپلو کړنو پښېماني. دویم: له دې کار څخه لاس په سر کېدل، دریم: د الله تعالی عظمت ته په لیدو، هغه ته د اخلاص له مخې، او د هغه د امر د پر ځای کولو لپاره هوډ کول چې بیا به داسې نه کوي، او همدې ته سوچه توبه

وايي. او څلورمه ځانګړې چاره هم شته چې که چېرته يې د مخلوق په حق کې بدي کړې وي، نو حق دې خپل حقدار ته وسپاري، يا دې ترې ځان خلاص کړي.

او الله تعالی خپلو بندګانو ته په توبې امر کړی او د قبليدو ژمنه يې ورسره کړې ده لکه چې الله تعالی فرمايي:

﴿...وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾

ژباړه: (او تاسو ټول الله ته توبه وباسئ اې مومنانو! د دې لپاره چې تاسو کامياب شئ). [النور سورت: ۳۱ ايت]، او د نصاراوو په حق کې يې فرمايلي دي:

﴿أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى اللَّهِ وَيَسْتَغْفِرُونَهُ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴿٧٤﴾﴾

ژباړه: (آيا ولې دوی الله ته توبه نه وباسي او له هغه نه بخښنه نه غواړي؟! حال دا چې الله ډېر بخښونکی، بې حده مهربان دی). [المائدة سورت: ۷۴ ايت]، او الله تعالی فرمايلي:

﴿وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ يَلْقَ أَثَامًا﴿٦٨﴾ يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا﴿٦٩﴾ إِلَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُولَئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا﴿٧٠﴾﴾

ژباړه: (او هغه کسان دي چې له الله سره بل معبود نه

رابلي او هغه نفس چې الله حرام کړی وي؛ ناحقه نه قتلوي او زنا نه کوي او څوك چې دغه (کارونه) وکړي (نو) هغه به د خپلې ګناه له سزا سره ملاقات وکړي).

(د قيامت په ورځ به ده ته عذاب دوه چنده کولی شي او په هغه (عذاب) کې به تل وي، په داسې حال چې خوار او ذليله به وي.

مګر هغه کس چې توبه وباسي او ايمان راوړي او نېك عمل وکړي، نو دغه کسان دي چې الله به د دوی بدی په نېکی سره بدلې کړي او الله له ازله ډېر بخښونکی، بې حده رحم کوونکی دی) [الفرقان سورت: ۶۸-۷۰ ايتونه]، او الله تعالی فرمايي:

﴿وَهُوَ الَّذِى يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِۦ وَيَعْفُوا۟ عَنِ السَّيِّـَٔاتِ وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ ﴿٢٥﴾﴾

ژباړه: (او دی همغه ذات دی چې د خپلو بنده ګانو توبه قبلوي او د بديو معافي کوي او په هغو کارونو پوهېږي چې تاسو يې کوئ). [الشوری سورت: ايت ۲۵].

د رسول الله -صلی الله عليه وسلم- څخه په صحيح سند سره روايت دی چې هغه فرمايلي:

«الإِسْلَامُ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ، وَالتَّوْبَةُ تَجُبُّ مَا كَانَ قَبْلَهَا».

ژباړه: «او اسلام هغه (ګناهونه) له منځه وړي چې ترې وړاندې وو، او توبه هم مخکښني ګناهونه له منځه وړي».

نو دا چې شرک لوی خطر او عظيمه ګناه ده او دا ويره

شته چې کیدی شي دا لیکواله په خپلو کړنو دوکه شوي وي، نو د الله تعالی په خاطر او د هغه بندګانو ته د نصیحت لپاره مې دا لنډه وینا ولیکله. او له الله تعالی څخه سوال کوم چې ګټه پرې ورسوي، او زموږ او د ټولو مسلمانانو حالات سم کړي، او پر موږ ټولو په دین کې د پوهې، پرې ثابت پاتې کېدلو لورینه وکړي، او موږ او ټول مسلمانان د خپلو نفسونو او عملونو له شر څخه وساتي، هغه ذات د دې چارې واکمن او پرې څواکمن دی.

وصلی الله وسلم وبارك على عبده ورسوله نبينا محمد وآله وصحبه.

***

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

## دریم پیغام:

## له پیریانو او شیطانانو د مرستې غوښتلو او هغوی ته د نذر وړاندې کولو حکم

د عبدالعزیز بن عبدالله بن باز له خوا هر هغه مسلمان ته چې دا (لیکنه) وینې، الله تعالی دې ما او هغوی ته پر دین د منګولو لګولو او ثابت پاتې کېدلو توفیق راکړي. آمین.

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

اما بعد: ځینو ورونو له ما څخه د ځینو ناپوهه خلکو د کړنو په اړه پوښتنه وکړه؛ چې له الله پرته نور رابلي، د ناخوالو پر مهال ترې مرسته غواړي لکه: د پیریانو رابلل او مرسته ترې غوښتل، نذر ورته وړاندې کول او قرباني ورته کول. چې د ځینو د وینا بېلګې یې داسې دي: (ای اووه کسانو وایې خلئ) لدې څخه یې موخه: د پیریانو اووه مشران دي، هډوکي یې مات کړئ، وینه یې وڅښئ، مثله یې کړئ (پوزې او غوږونه یې غوڅ کړئ). ای اوو کسانو داسې او داسې یې کړئ، د ځینو وینا یې داسې ده: (ای د غرمې پیریانو ویې نیسئ، ای د مازدیګر پیریانو)، دا په ځینبو جنوبي سیمو کې ډېر دي، او هغه څه چې د دې موضوع سره تړاو لري: مړي رابلل لکه پیغمبران، نېکان او داسې نور، ملایکې رابلل او مرسته ترې غوښتل، دا ټول او دې ته ورته شیان د ډیری هغو کسانو لخوا پیښیږي چې اسلام ته منسوب دي، د ناپوهۍ او هغو کسانو د

تقلید له امله چې له دوی مخکې وو. شاید ځینې یې دا خبره ډیره ساده بولي او وایي چې هسې په ژبه راځي، موږ یې قصد نه لرو او نه پرې عقیده لرو.

هغه له ما څخه د هغه چا سره د واده کولو د حکم په اړه هم وپوښتل چې پدې کړنو پیژندل شوی وي، د هغوی د حلالو، پر هغوی د جنازې کولو یا یې تر شا د لمونځ کولو د حکم په اړه، همدارنګه د کوډګرو او فالبینانو په اړه لکه هغوی چې د ناروغ د ځینو شیانو په لیدلو د ناروغتیا د پیژندنې او د هغوی د لاملونو د پیژندلو دعوا کوي، لکه د ناروغ لونګی، کالي، برقه او داسې نورو شیانو لیدل.

جواب: الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، وعلى آله وصحبه ومن اهتدى بهم إلى يوم الدين.

اما بعد: بېشکه الله جل جلاله ثقلین (پیریان او انسانان) د دې لپاره پیدا کړي چې له هر څه پرته یې عبادت وکړي، مرسته او دعا یوازې له هغه څخه وغواړي، ذبح، نذر او ټول عبادتونه د هغه لپاره وکړي، د دې لپاره یې پیغمبران رالیږلي او امر یې ورته پرې کړی، اسماني کتابونه یې نازل کړي چې تر ټولو لوی یې قرآن کریم دی، چې دا هر څه ورته بیان کړي او د هغه لورې ته بلنه ورکړي، خلک د الله تعالی سره له شرک او د غیرالله له عبادت څخه وویروي. دا د بنسټونو بنیاد او د دین او ملت لپاره اساس دی، او همدا په : (لا اِله اِلا الله) د ګواهۍ ورکولو معنا ده، ځکه چې معنا یې ده: له الله پرته بل حق معبود نشته، پدې سره الوهیت نفي کیږي - یعنې له غیر الله څخه عبادت نفي کیږي او له ټولو مخلوقاتو پرته یوازې

الله تعالى ته ثابتيږي، او پدې د الله تعالى د كتاب او د هغه د رسول - صلى الله عليه وسلم - له سنت څخه ډيرى دليلونه شته لكه: الله تعالى فرمايلي:

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ۝٥٦﴾

ژباړه: (او ما پېريان او انسانان نه دي پيدا كړي مګر د دې لپاره چې دوى زما عبادت وكړي) [الذاريات سورت: ٥٦ ايت]، او د الله تعالى دا قول:

﴿وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ...﴾

ژباړه: (او ستا رب حكم كړى چې تاسو عبادت مه كوئ (د بل هيچا) مګر يواځې د هغه او له مور او پلار سره ښه احسان كوئ). [الإسراء سورت: ٢٣ ايت]، او د الله تعالى دا وينا:

﴿وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ...﴾

ژباړه: (حال دا چې دوى ته حكم نه و وركړى شوى مګر په دې چې دوى دې د الله عبادت كوي، په داسې حال كې چې دين (عبادت) دغه (الله) لره خالص كوونكي وي (او) حنيفان (له باطله حق ته راګرځېدونكي) وي). [البينة سورت: ٥ آيت]، او د الله تعالى دا قول:

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ۝٦٠﴾

ژباړه: (او ستاسو رب فرمايي: تاسو ما وبلئ چې زه

ستاسو دعا قبوله کړم. بېشکه هغه کسان چې زما له عبادت نه تکبر کوي، ژر ده چې دوی به دوزخ ته ننوځي، په داسې حال کې چې خوار او ذليله به وي). [غافر سورت: ٦٠ ايت]، او الله تعالى فرمايي:

﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ...﴾

ژباړه: (او کله چې زما په باره کې له تا نه زما بنده ګان پوښتنه وکړي، نو يقينًا زه نږدې يم، د دعا کوونکي دعا قبلوم کله چې له ما نه دعا وغواړي). [البقرة سورت: ايت ١٨٦].

نو پدې آيتونو کې الله تعالى واضحه کړې چې هغه انسانان او پيريان د خپل عبادت لپاره پيدا کړي، او د (قضى) معنا ده: امر يې کړی او په محکم قرآن او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ژبه يې سپارښتنه کړې چې يوازې د خپل رب عبادت به کوي،

او دا يې روښانه کړه چې دعا لوی عبادت دی، چا چې ترې سرغړونه وکړه دوزخ ته به ځي، او خپلو بندګانو ته يې امر کړی چې يوازې هغه راوبلي، او دا يې ورته ويلي چې هغه نږدې او د دعاګانو قبلوونکی دی، نو پر ټولو بندګانو يې فرض دي چې يوازې له هغه څخه دعا وغواړي؛ ځکه چې دا يو ډول هغه عبادت دی چې له امله يې دوی پيدا شوي او امر ورته پرې شوی دی، الله تعالى فرمايلي:

﴿قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٦٢﴾ لَا

﴿شَرِيكَ لَهُ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ﴿١٦٣﴾﴾

ژباړه: (ته ووایه: بېشکه زما لمونځ او زما قرباني او زما ژوند او زما مرګ خاص د الله رب العلمین لپاره دي)،

(د هغه هېڅ شریك نشته او ما ته د همدې (توحید) حکم شوی او زه تر ټولو مسلمانانو اول یم). [الأنعام سورت: ۱۶۲، ۱۶۳ ایتونه].

نو الله تعالی خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته امر کړی چې خلکو ته خبر ورکړي چې د هغه لمونځ او نُسک چې حلاله ده، او د هغه ژوند او د هغه مرګ، دا ټول یوازې د هغه ذات لپاره دي چې د ټولو عالمیانو رب دی او شریک نه لري، نو چا چې له الله پرته بل چاته قرباني وکړه له الله سره یې شرک وکړ، لکه څوک چې له الله پرته بل چاته لمونځ وکړي، ځکه چې الله پاک لمونځ او قرباني دواړه یوځای ذکر کړي او فرمایلي یې دي چې دواړه یوازې د الله لپاره دي چې شریک نه لري، نو چا چې له الله پرته بل چا ته قرباني وکړه لکه پیریانو، ملایکو، مړو او داسې نورو ته او غواړي چې پدې سره ورته ځان نږدې کړي، نو هغه داسې دی لکه څوک چې له الله پرته بل چاته لمونځ وکړي، په صحیح حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«لَعَنَ اللَّهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللَّهِ».

ژباړه: «پر هغه چا دې د الله لعنت وي چې د الله نه غیر د بل چا لپاره حلاله کوي». امام احمد په حسن سند سره له طارق بن شهاب رضي الله عنه څخه روایت کوي چې رسول الله

صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«مرَّ رَجُلَانِ عَلَى قَومٍ لَهُم صَنَمٌ لَا يَجُوزُهُ أَحَدٌ حَتَّى يُقرِّبَ لَهُ شَيئًا، فَقَالُوا لِأَحَدِهِمَا: قَرِّبْ. قَالَ: لَيسَ عِندِي شَيءٌ أَقَرِّبُهُ، قَالُوا: قَرِّبْ وَلَوْ ذُبَابًا، فَقَرَّبَ ذُبَابًا، فَخَلُّوا سَبِيلَهُ، فَدَخَلَ النَّارَ، وَقَالُوا لِلآخَرِ: قَرِّبْ. قَالَ: مَا كُنْتُ لِأُقَرِّبَ لِأَحَدٍ شَيْئًا دُونَ اللهِ جَلَّ جَلَالُهُ، فَضَرَبُوا عُنُقَه، فَدَخَلَ الجَنَّةَ».

ژباړه: «دوه سړي پر يو قوم تېرېدل، هغوی يو بُت درلوده، نو هر څوک به چې ترې تېرېدل خامخا به يې ورته يو څه قرباني کول، نو له دې دواړو څخه يې يو ته وويل چې: يو څه نذر کړه، هغه وويل: ماسره هيڅ نشته چې (د نذر په توګه يې) وړاندې کړم، هغوی ورته وويل: يو څه نذر کړه، که يو مچ هم وي، نو هغه مچ د نذر په توګه وړاندې کړ، هغه يې پرېښود، نو دوزخ ته لاړ، او هغه بل ته يې وويل: يو څه نذر کړه. هغه وويل: له الله جل جلاله پرته به هيچاته څه شی نذر نه کړم، نو د هغه څټ يې وواهه، او هغه جنت ته لاړ».

نو کله چې يو څوک بُت ته د نږدې کېدو په موخه په يو مچ قربانولو مشرک او د دوزخ مستحق ګرځي، نو د هغه چا به څه حال وي چې پيريان، ملايکې او وليان رابلي او مرسته ترې غواړي، نذر ورته وړاندې کوي، په قربانۍ کولو سره ورته ځان نږدې کوي او پدې سره غواړي چې له مال څخه يې ساتنه وشي، يا يې ناروغ روغ شي، يا يې څاروي او کښت

وساتل شي، او د هغه چا به څه حال وي چې دا کار د پیریانو او داسې نورو له ویرې کوي، نو دا او دې ته ورته خلک د هغه سړي په پرتله چې مچ یې قرباني کړی دی په طریقه اولی سره مشرکان او دوزخ ته د تللو مستحق دي.

او له هغه څه نه چې پدې اړه راغلي د الله تعالی دا قول هم دی چې فرمایی:

﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ فَٱعۡبُدِ ٱللَّهَ مُخۡلِصٗا لَّهُ ٱلدِّينَ ٢
أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلۡخَالِصُۚ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ مَا نَعۡبُدُهُمۡ
إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ فِي مَا هُمۡ فِيهِ
يَخۡتَلِفُونَۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَنۡ هُوَ كَٰذِبٞ كَفَّارٞ ٣﴾

ژباړه: (بېشکه مونږ تا ته کتاب په حقه سره نازل کړی دی، نو ته د الله عبادت کوه، په داسې حال کې چې دین هغه (الله) لره خالص کوونکی یې،

خبر اوسئ چې الله لره سوچه (له شرکه پاك) دین (عقیده او عمل) دی او کومو خلکو چې له هغه پرته نور چارواکي نیولي (او وایي چې) مونږ خو د دې شیانو لمانځنه صرف د دې لپاره کوو چې الله ته مو په مرتبه کې ورنږدې کړي. بېشکه الله به د دوی تر منځ په هغه څه کې فیصله کوي چې د دوی یکې اختلاف دی، یقیناً الله هغه چا ته هدایت نه کوي چې دروغجن او ناشکره وي). [الزُّمَر سورت: ١-٣ ایتونه]، او الله تعالی فرمایلي:

﴿وَيَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَؤُلَاءِ شُفَعَاؤُنَا عِنْدَ اللَّهِ قُلْ أَتُنَبِّئُونَ اللَّهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ﴿١٨﴾﴾

ژباړه: (او دوی له الله نه غیر د هغو څيزونو عبادت کوي چې نه دوی ته ضرر رسولی شي او نه دوی ته نفع رسولی شي او دوی وايي: دا د الله په وړاندې زمونږ سفارشيان دي، ته ووايه: ايا تاسو الله پر هغه څه خبروئ چې هغه يې نه په اسمانونو کې پېژني او نه يې په ځمکه کې، هغه ډېر پاك دی او ډېر اوچت دی له هغو څيزونو نه چې دوی يې ورسره شريکوي) [يونس سورت: ۱۸ ايت].

نو الله پاک په دې دوو آيتونو کې خبر ورکوي چې: مشرکانو له الله پرته له مخلوقاتو څخه اوليا نيولي دي؛ چې له الله تعالی سره يې په دعا، ويره، هيله مندی، قربانی، نذر او داسې نورو سره عبادت کوي، پدې ګومان چې دغه اولياء؛ الله تعالی ته هغه څوک نيږدې کوي چې د دوی عبادت کوي، او د الله په وړاندې د دوی لپاره شفاعت کوي، نو الله تعالی دا خلک دروغجن وګڼل، د دوی باطل يې ښکاره کړل او دروغجن، کافران او مشرکان يې ورته وويل، او د خپل ځان پاکي يې له شرک څخه بيان کړه لکه چې فرمايي:

﴿...سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾

ژباړه: (...هغه لره پاکي ده او هغه ډېر اوچت دی له هغه څه نه چې دوی يې ورسره شريکوي). [النحل سورت: ۱

ایت]. له دې څخه معلومه شوه چې څوک ملایک، پېغمبر، پیری، ونه یا ډبره راواخلي او د الله تعالی سره یې یوځای راوبولي، له هغه څخه مرسته وغواړي، او د نذرونو او قربانیو له لارې هغه ته نږدې شي، د الله په وړاندې د شفاعت او هغه ته د نږدې کېدو په هیله، یا دا چې ناروغ یې ورغیږ ي، مال یې وساتل شي، یا یې ورک شوی کس سالم پاتې شي او داسې نور، نو دا انسان په لوی شرک او وحشتناک مصیبت سره اخته شو، هغه چې الله تعالی یې په اړه فرمايي:

﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَى إِثْمًا عَظِيمًا﴿٤٨﴾﴾

ژباړه: (ببشکه الله نه بخښي دا چې له هغه سره دې (څوك) شريك کړی شي او بخښي هغه (ګناه) چې له دې (شرك) نه کمه وي د چا لپاره چې وغواړي او څوك چې له الله سره شريك ونيسي، نو يقيناً هغه ډېره لويه ګناه راجوړه کړله). [النساء سورت: ۴۸ ایت] او الله تعالی فرمايي:

﴿...إِنَّهُ مَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنْصَارٍ﴾

ژباړه: (ببشکه خبره دا ده چې څوک له الله سره شریک نیسي، نو يقيناً په هغه باندې الله جنت حرام کړی دی او د هغه استوګنه اور دی او د ظالمانو لپاره هیڅوک مرستندوی نشته). [المائدة سورت: ۷۲ ایت].

او د قیامت په ورځ به شفاعت یوازې د توحید او اخلاص

والاو ته حاصلیږي، نه مشرکانو ته، لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د یوې پوښتنې په ځواب کې وفرمایل، کله چې ورته وویل شو: ای د الله رسوله! ستاسو د شفاعت (په نصیب کېدلو) تر ټولو نېکمرغه انسان څوک دی؟ هغه وفرمایل:

«مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ خَالِصًا مِنْ قَلْبِهِ».

ژباړه: «چا چې د زړه له اخلاصه (لا إله إلا الله) ویلي وي». او (رسول الله) صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ، فَتَعَجَّلَ كُلُّ نَبِيٍ دَعْوَتَهُ، وَإِنِّي اخْتَبَأْتُ دَعْوَتِي شَفَاعَةً لِأُمَّتِي يَومَ القِيَامَةِ، فَهِيَ نَائِلَةٌ إِنْ شَاءَ اللهِ مَن مَاتَ مِنْ أُمَّتِي لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا».

ژباړه: «د هر نبي لپاره یوه دعا وي چې قبلیږي، نو هر نبي په خپله دعا کې بیړه کړې ده، او ما خپله دعا د قیامت په ورځ د خپل امت لپاره د شفاعت په توګه ساتلې ده، له دې به - ان شاء الله - زما هغه امتي برخمن کیږي چې مړ شي او هیڅ شی یې د الله سره نه وي شریک کړی».

او لومړني مشرکان په دې باور وو چې الله تعالی د دوی رب، خالق او روزي ورکوونکی دی، دوی په پیغمبرانو، اولیاوو، ملایکو، ونو، تیږو او داسې نورو شیانو پدې هېله تکیه درلوده چې د الله تعالی په وړاندې به د دوی شفاعت وکړي او هغه ته به یې نږدې کړي، لکه څنګه چې په آیتونو کې تېره شوه. نو الله تعالی دوی معذور ونه ګڼل، بلکې الله پاک

په خپل عظیم کتاب کې دوی وغندل، او کافران او مشرکان یې وبلل، او په خپل کتاب کې یې پدې ادعا کې دوی دروغجن وګڼل چې فکر یې کاوه دا بوتان به یې د الله تعالی په وړاندې شفاعت وکړي او هغه ته به یې په مرتبه کې نږدې کړي، او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم معذور ونه ګڼل، بلکې د دې شرک له امله یې پر وړاندې وجنګیده، تر څو د الله تعالی د دې وینا پر اساس یوازې د یو الله سوچه عبادت وکړي، لکه چې فرمايي:

﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ...﴾

ژباړه: [او تر هغه ورسره وجنګېږئ، چې هيڅ فتنه پاتې نه شي او ټول دين د الله لپاره شي). [البقرة سورت: ۱۹۳ ايت]. رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

«أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ، وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ، فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُم وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّ الإِسْلَامِ، وَحِسَابُهُم عَلَى اللهِ».

ژباړه: «ما ته امر شوی چې له خلکو سره تر هغه وجنګيږم تر څو شاهدي ورکړي چې له الله جل جلاله پرته بل معبود نشته او په دې چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله رسول دی او پدې چې لمونځ ادا کړي او زکات ورکړي، نو کله يې چې دا کار وکړ، د دوی وينه او مال له ما

څخه خوندي شول مګر د اسلام لپاره، او نور حساب يې د الله جل جلاله سره دی». او د هغه ﷺ د وينا معنیٰ:

«حَتَّى يَشْهَدُوا أَن لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ».

يعنې: تر دې چې يوازې الله له هر څه پرته په عبادت سره ځانګړی کړي.

او يقينا چې مشرکان له پيريانو ويرېدل او پناه يې پرې غوښتله، چې الله تعالی يې په اړه دا آيت نازل کړ:

﴿وَأَنَّهُ كَانَ رِجَالٌ مِنَ الْإِنْسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ مِنَ الْجِنِّ فَزَادُوهُمْ رَهَقًا ٦﴾

ژباړه: [او بېشکه شان دا دی چې په انسانانو کې ډېر داسې سړي وو چې په پيريانو کې به يې په ځينو سړيو پورې پناه نيوله، نو دغو خلقو دغو (پيريانو) ته سرکشي ورزياته کړه]. [الجن سورت: ۶ آيت]. مفسرينو د دې آيت کريمه د معنا په اړه فرمايلي:

﴿...فَزَادُوهُمْ رَهَقًا﴾

﴿...فَزَادُوهُمْ رَهَقًا﴾ يعنې: بزدلي او ويره؛ ځکه چې پيريان هغه وخت مغرور او کبرجن کيږي کله چې دوی خلک وګوري چې په دوی سره پناه غواړي، نو دا مهال يې لا پسې ډير وويروي او بزدله يې کړي، تر څو يې ډير عبادت وکړي او هغوی ته پناه ورووړي.

نو الله تعالی مسلمانانو ته پر هغه او د هغه په بشپړو کلمو د پنا غوښتنې لپاره نور الفاظ په عوض کې ورکړل او په اړه

يې دا آيت نازل کړ.

﴿وَإِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ إِنَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴿٢٠٠﴾﴾

ژباړه: (او که چیرې د شیطان له طرفه کومه وسوسه تا (په ګناه کولو) ورتېز کړي، نو په الله پورې پناه ونیسه، بېشکه هغه ښه اورېدونکی، ښه پوه دی). [الأعراف سورت: ۲۰۰ ایت]، او د الله جل جلاله دا قول:

﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴿١﴾﴾

ژباړه: (ووایه (اې پیغمبره): زه پناه نیسم په رب د سبا پورې). او په مستند ډول روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«مَنْ نَزَلَ مَنْزِلًا فَقَالَ: (أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ)؛ لَم يَضُرَّهُ شَيءٌ حَتَّى يَرْتَحِلَ مِنْ مَنْزِلِهِ ذَلِكَ».

ژباړه: «څوک چې په یو کور کې استوګن شي او ووایي: (أعوذ بكلمات الله التامات من شر ما خلق) یعنې: (زه د الله په بشپړو کلمو سره د هر هغه څه له شر څخه پناه غواړم چې هغه پیدا کړي دي)، نو هیڅ شی به هغه ته ضرر ونه رسوي ترڅو چې له دغه کور څخه کډه نه شي».

له تیرو آیتونو او حدیثونو څخه په ډاګه معلومیږي چې یو نجات غوښتونکی انسان او هغه څوک چې غواړي دین یې وساتل شي او له شرک څخه وژغول شي چې د مړو، ملایکو،

پېریانو او داسې نورو مخلوقاتو پورې نښتل، هغوی رابلل او مرسته پرې غوښتل او داسې نور د جاهلیت د زمانې د خلکو کړنې او په الله پاک ناوړه شرک دی چې پرېښودل او نور ترې ویرول فرض دي او دا چې باید یو بل ته یې د پرېښودلو سپارښتنه وشي، او هغه څوک وغندل شي چې تر سره کوي یې.

او څوک چې په خلکو کې په دې ډول شرکي اعمالو وپېژندل شي نو له نکاح کولو یې باید ډډه وشي، حلاله یې ونه خوړل شي، جنازه پرې ونه شي او نه یې تر شا لمونځ وشي، تر دې چې الله تعالی ته لدې اعمالو خپله توبه اعلان کړي، خاص له هغه دعا وغواړي او یوازې د هغه عبادت وکړي، او دعا عبادت دی بلکې د عبادت مغز دی لکه څنګه چې رسول الله - صلی الله علیه وسلم - فرمایلي:

«الدُّعَاءُ هُوَ العِبَادَةُ».

ژباړه: «دعا عبادت دی». او له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په نورو الفاظو روایت دی چې هغه فرمایلي:

«الدُّعَاءُ مُخُّ العِبَادَةِ».

ژباړه: «دعا د عبادت مغز دی». او د مشرکانو سره د نکاح د راکړې ورکړې په اړه الله تعالی فرمایلي:

﴿وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتَّى يُؤْمِنَّ وَلَأَمَةٌ مُؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِينَ حَتَّى يُؤْمِنُوا وَلَعَبْدٌ

مُؤْمِنٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ أُولَئِكَ يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِإِذْنِهِ وَيُبَيِّنُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ﴿٢٢١﴾

ژباړه: (او له مشرکو ښځو سره نکاح مه کوئ تر هغه پورې چې دوی ایمان راوړي، او خامخا مومنه وینځه ښېخي غوره ده له ازادې مشرکې نه اګر که هغه تاسو حیران کړي (د خوښېدو په وجه) او مشرکانو ته (مسلمانې ښځې) په نکاح مه ورکوئ تر هغه پورې چې دوی ایمان راوړي، او خامخا مومن مَرَيـی ښېخي غوره دی له ازاد مشرك نه، اګر که هغه تاسو (د خوښېدو په وجه) حیران کړي، دغه کسان اور ته بلنه کوي، او الله په خپل اذن سره جنت او مغفرت ته بلنه کوي، او خلقو ته خپل ایتونه بیانوي، د دې لپاره چې دوی نصیحت قبول کړي). [البقرة سورت: ۲۲۱ ایت]، نو الله تعالی مسلمانان د مشرکو او هغو ښځو سره له نکاح کولو منع کړل چې د بوتانو، پېریانو، ملایکو او داسې نورو مخلوقاتو عبادت کوي، تر هغه پورې چې الله تعالی ته د عبادت په خالصولو ایمان راوړي، او رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغه څه کې رېښتینی وګڼي چې هغه پرې راتګ کړی او د هغه د لارې پیروي وکړي، همدا رنګه یې مشرکانو سرېو سره د مسلمانو ښځو نکاح منع کړه، تر هغه پورې چې یوازې الله تعالی ته عبادت په اخلاص کولو ایمان راوړي، رسول صلی الله علیه وسلم رېښتینی وګڼي او پیروي یې وکړي.

او الله پاک وفرمایل چې مؤمنه وینځه له آزادې مشرکې

ښځې غوره ده، که څه هم ورته لیدونکی یې د خوږو خبرو او ښایست له امله خوښوي، او دا چې مؤمن غلام له آزاد مشرک څخه غوره دی، که څه هم فصیحه وینا، ښایست، زړورتیا او داسې نور یې لیدونکی حیرانوي، بیا یې د دې تفصیل اسباب پدې وینا سره تشریح کړل:

﴿...أُولَئِكَ يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ...﴾

ژباړه: (...دغه کسان اور ته بلنه کوي...) [البقرة سورت: ۲۲۱ ایت]. پدې سره یې موخه: نارینه او ښځینه مشرکان دي، ځکه چې دوی په خپلو خبرو، کړنو، چلند او اخلاقو سره دوزخ ته بلنه ورکوي، په داسې حال کې چې نارینه او ښځینه مؤمنان په خپلو اخلاقو، کړنو او سیرت سره جنت ته بلونکي دي، نو دا او هغه سره څنګه برابرېدای شي!

او پر مشرکانو د (جنازې) د لمانځه په اړه، الله تعالی د منافقانو په اړه فرمایلي:

﴿وَلَا تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ إِنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَاتُوا وَهُمْ فَاسِقُونَ﴿٨٤﴾﴾

ژباړه: (او په دوی کې چې کوم یو مړ شي، نو ته د هغه هیڅکله هم جنازه مه کوه او مه یې (د دعا او تدفین لپاره) پر قبر ودرېږه، بېشکه دوی په الله او د هغه په رسول کافران شوي دي او مړه شوي دي، په داسې حال کې چې فاسقان وو) [التوبة سورت: ۸۴ ایت]، نو الله- جل جلاله - په دې مبارک آیت کې دا روښانه کړه چې په منافق او کافر د جنازې لمونځ

نه کيږي. ځکه چې دوی په الله او د هغه په رسول کافران دي، همدا رنګه يې تر شا لمونځ نه کيږي، او نه دوی د مسلمانانو لپاره امامان کېدلی شي، د دوی د کفر او خيانت له امله، او د دوی او مسلمانانو ترمنځ د لوی دښمنۍ له امله، او ځکه چې دوی د لمانځه او عبادت خلک نه دي؛ ځکه چې د کفر او شرک سره عمل نه پاتې کيږي، الله دې ترې موږ وساتي. او د مشرکانو د حلالو د خوړلو په اړه؛ الله تعالی په ډاګه د مردار شوي حيوان او د مشرکانو د حلالو په اړه فرمايلي:

﴿وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَى أَوْلِيَائِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ ﴿١٢١﴾﴾

ژباړه: (او تاسو له هغې (مذبوحې) څخه خوراك مه کوئ چې پر هغې باندې د الله نوم نه وي ياد کړی شوی او بېشکه دا (خوراك کول) خامخا فسق او نافرماني ده او بېشکه يقينًا شيطانان خپلو دوستانو ته وسوسې اچوي، د دې لپاره چې له تاسو سره جګړه وکړي او که چېرې تاسو د هغوی اطاعت وکړئ، (بيا نو) بېشکه تاسو (هم) خامخا مشرکان يئ).

[الأنعام سورت: ۱۲۱ ايت]، الله تعالی مسلمانان د مړو ځارويو يا د مشرکانو په لاس د حلال کړی شوو ځارويو له خوړلو څخه منع کړي دي، ځکه چې ناپاک دي، د هغوی د حلالې حکم د مردارې دی، که څه هم پرې د الله نوم ياد شوی وي، ځکه بسم الله ويل پرې اغېز نه لري او باطل دی، ځکه دا يو عبادت دی، او شرک عبادت له منځه وړي او باطلوي

يې، تر هغه پورې چې مشرک الله پاک ته توبه وباسي. او يوازې الله تعالی د اهل کتابو خواړه په دې وينا سره روا ګرځولي:

﴿...وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حِلٌّ لَكُمْ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَهُمْ...﴾

ژباړه: (...او د هغو کسانو ذبيحه چې کتاب ورته ورکړی شوی دی؛ تاسو لپاره حلاله ده او ستاسو طعام د هغوی لپاره حلال دی...) [المائدة سورت: ۵ آيت]، ځکه چې هغوی د آسماني دين د پيروۍ ادعا کوي، او ګومان کوي چې دوی د موسی او عيسی پيروان دي، که څه هم دوی په دې اړه دروغ وايي. او يقينا چې الله تعالی د دوی دين منسوخ کړی او ټولو خلکو ته يې د (پيغمبر) په توګه د محمد صلی الله عليه وسلم په راليږلو سره باطل ګرځولی، خو الله جل جلاله موږ ته د اهل کتابو خواړه او ښځې روا کړې دي؛ د لوی حکمت او رازونو له امله چې علماوو تشريح کړې دي، د هغو مشرکانو پر خلاف چې بُت پرست دي او د مړو پيغمبرانو، اولياوو او داسې نورو عبادت کوي؛ او ځکه چې دين يې هيڅ اصل نه لري او نه پکې کومه شبهه شته، بلکې له بيخ نه باطل دی، نو حلاله يې د مردارې حکم لري او خوړل يې روا نه دي.

او د هغه چا وينا چې يو چا ته ووايي : "پېريان دربانديې ناست دي"، يا دا چې "پېريانو نيولی يې"، يا "شيطان په هوا کړی يې،" او داسې نور، نو دا سپکې سپورې دي، چې د مسلمانانو تر منځ لکه د نورو کنځلو په څېر روا نه دي، خو

شرک نه دی، مګر دا چې ويونکی يې عقيده ولري چې پيريان په خلکو کې د الله تعالی له اجازې او خوښی پرته تصرف کوي. نو څوک چې د پيريانو يا نورو مخلوقاتو په اړه دا عقيده ولري، پدې عقيده کافر کيږي؛ ځکه چې الله تعالی د هر څه مالک او په هر شي قادر دی، او هغه ګټه او زيان رسوونکی دی، او هيڅ شی د هغه له اجازې، خوښې او مخکني تقدير پرته شتون نه شي درلودلای، لکه چې الله جل جلاله خپل نبي ته په امر کولو سره فرمايلي چې خلک پدې لوی اصل سره خبر کړي.

﴿قُلْ لَا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ وَلَوْ كُنْتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ﴿١٨٨﴾﴾

ژباړه: (ته ووايه: زه د خپل ځان لپاره نه د نفعې مالك يم او نه د نقصان مګر هغه چې الله يې وغواړي او كه چېرې زه پر غيبو عالم وَى (نو) ما به خامخا ډېر خير حاصل كړى و او ما ته به هېڅ تكليف نه و رارسېدلی، زه نه يم مګر وېروونكى او زېرى وركوونكى د هغه قوم لپاره چې ايمان راوړي). [الأعراف سورت: ١٨٨ آيت]، نو کله چې د مخلوقاتو سردار او د هغوی غوره - صلی الله عليه وسلم - د ځان لپاره د هيڅ ګټې يا زيان مالک نه وي، پرته له هغه څه چې الله تعالی يې وغواړي، نو د نورو مخلوقاتو به څه حال وي؟! په دې معنی کې ډېر آيتونه شته.

او د کف شناسانو، کوډګرو، نجومیانو او داسې نورو څخه پوښتنه کول چې له غیبو خبر ورکوي، نو دا کار یې منکر دی او جواز نه لري، او ربنتیا ګڼل یې سخته ګناه او بد کار دی، بلکې د کفر یوه څانګه ده، دلیل یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول دی چې فرمایي:

«مَنْ أَتَى عَرَّافًا فَسَأَلَهُ عَنْ شَيءٍ؛ لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةٌ أَرْبَعِينَ يَومًا».

ژباړه: (څوک چې غیب ویونکي ته ورشي او له هغه څخه د یو څه په اړه پوښتنه وکړي نو څلویښت ورځې یې لمونځ نه قبلیږي). مسلم په خپل صحیح کې روایت کړی دی، او د هغه په صحیح کې دا هم له معاویة بن الحکم السلمي رضي الله عنه څخه روایت دی چې:

«أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهَى عَنْ إِتْيَانِ الكُهَّانِ وَسُؤَالِهِم».

«رسول الله صلی الله علیه وسلم کوډګرو ته له ورتګ او له هغوی څخه پوښتنه کول منع کړي دي».

او اهل سنن له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې هغه فرمایلي:

«مَنْ أَتَى كَاهِنًا، فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ؛ فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ ﷺ».

ژباړه: «څوک چې کوډګر ته ورشي او په هغه څه کې یې ربنتیني وګڼي چې هغه یې وایي، نو پر هغه څه یې کفر وکړ چې پر محمد - صلی الله علیه وسلم - نازل شوي دي». او په

دې معنا سره ډېرې حديثونه راغلي دي. نو پر مسلمانانو واجب دي چې: خلک د کاهنانو، فالبينانو او ټولو غيب ويونکو څخه له پوښتنو کولو منع کړي، هغوی چې په غيبو له خبرولو بوخت دي او مسلمانانو ته دوکې ورکوي، دا که د طب په نوم وي او يا بل څه، لکه چې وړاندې ترې رسول الله صلی الله عليه وسلم منع فرمايلې او په اړه يې خلکو ته خبرداری ورکړی دی. دا ممانعت ځينو هغو غيبي چارو ته هم شامل دی چې ځينې خلک يې طب بولي لکه: د ناروغ پګړۍ يا د ناروغې ښځې حجاب او داسې نور څه چې يو څوک يې بوی کړي او ووايي چې: دې ناروغ سړي، يا ناروغې ښځې دا او دا کړي، هغه غيبي چاري يادوي چې د ناروغ په پګړۍ او داسې نورو کې يې د شتون هيڅ ثبوت نشته، بلکې موخه يې ورڅخه عوام خلک دوکه کول وي، تر څو خلک ووايي چې دا سړی په طبابت پوهيږي، همدارنګه د ناروغتيا ډولونه پيژني او په اسبابو يې پوهيږي، ځيني وختونه درمل هم ورکوي، چې په تصادفي توګه د ده روغتيا د الله تعالی د تقدير سره برابره شي او جوړ شي، نو دوی ګومان وکړي چې دا د هغه درملو له امله ورغېد. بنايي دا ناروغي د ځينو جناتو او شيطانانو له امله وي چې د طبابت د دې مدعي خدمت کوي او هغه ته د ځينو ناڅرګندو شيانو په اړه خبر ورکوي چې په اړه يې پوهيږي، نو په دې معلوماتو تکيه کوي او پيريان او شيطانان په يو ډول عبادت کولو سره راضي کوي، نو له ناروغ څخه پورته شي او هغه زيان پريږدي چې دوی وررسولی دی، او دا د پيريانو، شيطانانو او څوک يې چې

خدمت کوي لخوا يوه پېژندل شوي چاره ده.

نو دا د مسلمانانو دنده ده چې له دې کارونو ځان وساتي، يو بل ته يې د پرېښودلو سپارښتنه وکړي، په الله تعالى تکيه وکړي، او په ټولو چارو کې پر هغه توکل وکړي، او شرعي دم دعا او يا مباح درمل کارول کوم باک نه لري، همدارنګه پر هغو ډاکټرانو درملنه کول چې د ناروغتيا د معلومولو لپاره فزيکي او معقولي معاينې کوي، تر څو يې له ناروغتيا څخه ډاډمن شي، او له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه په صحيح حديث کې روايت دی چې هغه فرمايلي:

«مَا أَنْزَلَ اللهُ دَاءً إِلَّا أَنْزَلَ لَهُ شِفَاءً، عَلِمَهُ مَنْ عَلِمَهُ، وَجَهِلَهُ مَنْ جَهِلَهُ».

ژباړه: «الله جل جلاله هيڅ ناروغي نده نازل کړې مګر دا چې د هغې لپاره يې شفاء نازله کړې ده، چا چې پېژندلې، پېژندلې يې ده او چا چې نده پېژندلې نو نه يې ده پېژندلې». او هغه صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

«لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءٌ، فَإِذَا أُصِيبَ دَوَاءُ الدَّاءَ بَرَأَ بِإِذْنِ اللهِ».

ژباړه: «هره ناروغي درمل لري، نو کله چې په ناروغۍ درمل ولږېږي د الله په اذن سره ورغيږي». او هغه صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«عِبَادَ اللهِ، تَدَاوَوا وَلَا تَدَاوَوا بِحَرَامٍ».

ژباړه: «ای د الله بندګانو، درملنه وکړئ او په حرامو درملنه مه کوئ». او په دې معنا سره ډېرې حديثونه راغلي

دي.

نو له الله جل جلاله څخه سوال کوو چې د ټولو مسلمانانو حالات سم کړي، او زړونه او جسمونه يې له هرې بدۍ ورغوي، او په هدايت يې سره راټول کړي، او موږ او هغوی ټولو ته له ګمراه کوونکو فتنو، د شيطان او د شيطان د اولياوو له اطاعت څخه نجات راکړي، هغه ذات پر هر شي قادر دی، ولا حول ولا قوة الا بالله العلي العظيم.

وصلى الله وسلم وبارك على عبده ورسوله نبينا محمد وآله وصحبه.

***

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحمَنِ الرَّحِيمِ

## ځلورم پېغام:

## په بدعتي او شركي الفاظو (وظېفو) د عبادت حكم

د عبد العزيز بن عبد الله بن باز لخوا عزتمند ورور (...............) ته، الله تعالی دې د هر خېر توفيق درکړي، آمين.

سلام عليكم ورحمة الله وبركاته

أَمَّا بَعْدُ:

ستاسو قدرمند كتاب ماته رارسيدلی، الله دې تاسو په خپل هدايت سره وپالي، دا معلومات يکې و چې ستاسو په هېواد کې ځيني خلک دي چې يو لړ اذکار او دعاګاني په ټينګه وايي، په داسې حال کې چې الله تعالی پرې هيڅ کوم دليل نه دی نازل کړی، ځيني يې بدعتي او ځيني نورې يې شركي دي، او أمير المؤمنين على بن أبی طالب رضي الله عنه او نورو ته يې منسوبوي. او دا اذكار د ذكر په مجالسو او يا د ماښام د لمانځه نه وروسته په جوماتونو کې لولي، پدې ګومان چې الله تعالی ته د نږدې کېدو لامل ګرځي، لکه دا وينا يې: د الله په حق، د الله وليانو، د الله په مرسته زموږ مرسته وکړئ او د الله لپاره مو مرستندوی شئ. او يا يې دا وينا: اې قطبونو، اې بادارانو، قبول کړئ (جواب راکړئ)، اې هغو کسانو چې زموږ تر منځه مرسته کوونکي ياست، د الله لپاره شفاعت وکړئ، دا ستاسو بنده ولاړ دی، او ستاسو په دروازه کې تم او ولاړ دی، د خپلو نيمګړتياوو څخه ويره لري، زموږ مرسته وکړه ای د

الله رسوله، او زه له تاسو پرته بل څوک نه لرم چې ورشم، او ستاسو څخه غوښتنه تر لاسه کیږي، او تاسو د الله خلک یاست، د حمزه په روی چې د شهیدانو سردار دی، او ستاسو پرته څوک دي چې زموږ مرسته وکړي؟ موږ سره مرسته وکړه ای د الله رسوله. او لکه څنګه چې دوی وايي: ای الله پر هغه چا دې رحمت نازل کړه چې تا د خپلو جبروتي رازونو د راسپړلو او د خپلو رحماني رڼاګانو د خپرولو سبب ګرځولی او د الهي حضور او ستاسو د ذاتي اسرارو استازی شوی دی.

ستاسو لیوالتیا چې روښانه کړو چې کوم یې بدعت او کوم یې شرک دی، او آیا د هغه امام پسې لمونځ صحیح دی چې پدې الفاظو سره دعا غواړي (حال دا چې) دا هر څه ښکاره دي؟

او جواب داسې دی: الحمد لله وحده، والصلاة والسلام علي من لا نبي بعده، وعلى آله وصحبه، ومن اهتدى بهداه إلى يوم الدين.

أَمَّا بَعْدُ: پوه شه، الله پاک دې توفیق درکړي چې الله جل جلاله د دې لپاره مخلوقات پیدا کړي او رسولان -علیهم الصلاة و السلام- یې رالیږلي چې له هر څه پرته یوازې د هغه ذات عبادت وشي چې شریک نه لري، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایلي:

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴿٥٦﴾﴾

ژباړه: (او ما پیریان او انسانان نه دي پیدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي). [الذاریات سورت:

۵۶ آیت].

او عبادت -لکه څنګه چې وویل شو- د هغه پاک ذات او د هغه د رسول محمد صلى الله عليه وسلم، پیروي ده، د هغه څه په ترسره کولو چې الله او رسول یې پرې امر کړی، او د هغه څه په پرېښودلو چې الله او رسول یې ترې منع فرمایلې ده، (دا ټول) په الله او رسول یې د ایمان برخه، او په عمل کې الله تعالی ته اخلاص، خورا زیات محبت او یوازې د هغه پر وړاندې بشپړه عاجزي ده، لکه چې الله تعالی فرمایلي:

﴿وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ...﴾

ژباړه: (او ستا رب حکم کړی چې تاسو عبادت مه کوئ (د بل هیچا) مګر یواځې د هغه). [الإسراء سورت: ۲۳ آیت].
یعنې: امر یې کړی او سپارښتنه یې کړې ده چې یوازې د هغه عبادت وشي. او الله تعالی فرمایلي:

﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ۝٢ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ۝٣ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ۝٤ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝٥﴾

(ټول (د کمال) صفتونه خاص د الله لپاره دي چې د ټولو عالَمونو ښه پالونکی دی،
ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی،
څښتن د ورځې د بدلې دی،
خاص ستا بنده ګي کوو او خاص ستا څخه مرسته غواړو). [الفاتحة سورت: ۲-۵ ایتونه]، نو په دې آیتونو کې الله تعالی روښانه کړې چې یوازې هغه د عبادت او مرستې

غوښتلو وړ دی. او الله جل جلاله فرمايلي:

﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ فَٱعۡبُدِ ٱللَّهَ مُخۡلِصٗا لَّهُ ٱلدِّينَ ٢ أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلۡخَالِصُ...﴾

(موږ يقينا دا كتاب تا ته په حقه نازل كړی پس د يو الله عبادت كوه په داسې حال كې چې سوچه كوونكی يې الله لره په طاعت كې.

خبر اوسئ چې الله لره سوچه (له شركه پاك) دين دی...) [الزُّمَر سورت: ۲، ۳ ايتونه]، او الله تعالى فرماېلي:

﴿فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ ١٤﴾

ژباړه: (نو تاسو الله بلئ، په داسې حال كې چې همده ته د دين خالص كوونكي ياست، اګر كه كافران يې بد ګڼي). [غافر سورت: ۱۴ آيت]. او الله تعالى فرماېلي:

﴿وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا ١٨﴾

ژباړه: (او دا چې يقينًا جوماتونه خاص د الله لپاره دي، نو تاسو له الله سره بل هيڅوك مه بلئ). [الجن سورت: ۱۸ آيت]، په دې معنى ډېرى آيتونه راغلي او ټول پدې دلالت كوي چې يوازې د الله جل جلاله عبادت فرض دی.

او دا هم ښكاره ده چې د دعا ټول ډولونه عبادت دی، نو پر دې آيتونو د عمل پر بنا او هغه څه چې يې د معنا په اړه راغلي؛ هيچا ته روا نه ده چې له خپل رب پرته بل څوك راوبلي، يا ترې مرسته وغواړي، دا د هغو عادي مسايلو او

حسي لاملونو پرته چې حاضر او ژوندی مخلوق يې کولی شي، ځکه هغه عبادت نه دی، بلکې د نص او اجماع په دليل روا دي چې يو انسان له بل ژوندي او توانمند انسان څخه په عادي چارو کې مرسته وغواړي، البته په هغو کارونو کې چې توانايي يې ولري؛ د بېلګې په توګه د هغه د اولاد، خدمتګار او يا يې د سپي د شر په دفع کولو او يا داسې نورو چارو کې ترې مرسته وغواړي. يا لکه يو څوک چې د خپل کور په جوړولو کې له ژوندي حاضر انسان څخه مرسته وغواړي چې د دې کار ورتيا لري، يا له غايب څخه د فزيکي اسبابو پر مټ مرسته وغواړي لکه ليک ورليږل او داسې نور چې د کور په ودانولو، موټر جوړولو او دې ته ورته کارونو کې ورسره مرسته وکړي، او همدارنګه: په جهاد، جګړه او داسې نورو ځايونو کې له خپلو ملګرو د ملاتړ غوښتنه. لکه د موسی -عليه السلام- په کيسه کې د الله تعالی دا قول:

﴿...فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِى مِنْ شِيعَتِهِ عَلَى الَّذِى مِنْ عَدُوِّهِ...﴾

ژباړه: (...نو، هغه کس چې د ده له ډلې څخه و، له ده نه يې مرسته وغوښته، د هغه کس پر خلاف چې د ده له دښمنانو څخه و...) [القصص سورت: ۱۵ ايت].

او له مړو، پېريانو، ملايکو، ونو او ډبرو څخه د مرستې غوښتل د لوی شرک يوه بېلګه ده، او دا د خپلو معبودانو پر وړاندې د لومړنيو مشرکانو د عمل په څېر عمل دی لکه: عُزی، لات او داسې نور، همدا رنګه له هغو ژونديو کسانو مرسته او ملاتړ غوښتل چې باور کيږي د ژونديو په منځ کې

وليان دي، په هغو چارو کې چې يوازې الله جل جلاله يې د کولو توان لري لکه: د ناروغانو رغول، د زړونو هدايت، جنت ته تلل، د دوزخ له اوره ژغورل کېدل او داسې نور.

مخکني او نور هغه آيتونه او حديثونه چې ورته معنى لري، ټول پدې دلالت کوي چې په ټولو چارو کې د الله تعالى لور ته د زړونو سيخ کول او يوازې هغه په عبادت سره ځانګړى کول واجب دي، ځکه چې بندګان د همدې لپاره پيدا شوي او په همدې ورته امر شوى، لکه څنګه چې په آيتونو کې تېر شول، او همدا رنګه د الله تعالى په دې قول کې چې فرمايي:

﴿وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا...﴾

ژباړه: (د الله عبادت وکړئ او هېڅ شى ورسره مه شريکوئ). [النساء سورت: ۳۶ آيت]، او د الله تعالى دا قول:

﴿وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ...﴾

ژباړه: (حال دا چې دوى ته حکم نه و ورکړى شوى مګر په دې چې دوى دې د الله عبادت کوي، په داسې حال کې چې دين (عبادت) دغه (الله) لره خالص کوونکي وي). [البينة سورت: ۵ ايت]، او د معاذ رضي الله عنه په حديث کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم وينا ده چې فرمايي:

«حَقُّ اللهِ عَلَى العِبَادِ أَنْ يَعْبُدُوهُ وَلَا يُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا».

ژباړه: «د الله حق پر بنده ګانو دا دى چې عبادت يې وکړي او هيڅ شى ورسره شريک نه کړي». د دې حديث پر صحت

اتفاق شوی دی. او د ابن مسعود رضي الله عنه په حدیث کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا قول چې فرمايي:

«مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَدْعُو لِلهِ نِدًّا؛ دَخَلَ النَّارَ».

ژباړه: «څوک چې پداسې حال کې مړ شو چې له الله سره یې شریک باله نو اور ته به داخل شي». بخاري روایت کړی.

او په صحیحینو کې د ابن عباس رضي الله عنهما حدیث دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کله معاذ یمن ته ولیږه نو ورته یې وویل:

«إِنَّكَ تَأْتِي قَوْمًا أَهْلَ كِتَابٍ، فَلْيَكُنْ أَوَّلَ مَا تَدْعُوهُم إِلَيهِ شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ».

ژباړه: «ته داسې یو قوم ته ور روان یې چې اهل کتاب دي، نو لومړی شی چې ته یې بلنه ورکوې هغه پدې خبره ګواهي ورکول دي چې له الله پرته بل برحق معبود نشته مګر یو الله دی». او په بل لفظ کې دي:

«اُدْعُهُمْ إِلَى شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ».

ژباړه: «بلنه ورکړه تر څو ګواهي ورکړي چې نشته دی برحق معبود مګر یو الله دی او دا چې زه د الله رسول یم». او د بخاري په روایت کې دی:

«فَلْيَكُنْ أَوَّلَ مَا تَدْعُوهُم إِلَى أَنْ يُوَحِّدُوا اللهَ».

ژباړه: «نو لومړی شی چې ته یې بلنه ورکوې هغه پدې خبره ګواهي ورکول دي چې له الله پرته بل حق معبود نشته

مګر یو الله دی». او په صحيح مسلم کې له طارق بن أشيم الأشجعي رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

«مَنْ قَالَ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وَكَفَرَ بِمَا يُعْبَدُ مِن دُونِ اللهِ؛ حَرُمَ مَالُهُ وَدَمُهُ، وَحِسَابُهُ عَلَى اللهِ جَلَّ جَلَالُهُ».

ژباړه: «چا چې :( لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) وويل: او په هر هغه څه يې کفر وکړ چې له الله جل جلاله پرته يې عبادت کيږي، نو د هغه مال او وينه حرام دي، او حساب يې د الله جل جلاله سره دی». او پدې معنا سره حديثونه ډير دي.

او دا توحيد د اسلام د دين اصل او د ملت بنسټ دی، او دا د چارې سر او تر ټولو مهم فرض دی، او د ثقلينو (انسانانو او پيريانو) له پيدايښت او د ټولو رسولانو -عليهم السلام-له راليږلو څخه حکمت دی، لکه څنګه چې پدې اړه آيتونه تېر شول، چې له جملې څخه يې د الله تعالى دا قول هم دی چې فرمايي:

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ۝٥٦﴾

ژباړه: (او ما پيريان او انسانان نه دي پيدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي) [الذاريات سورت: ۵۶ ايت]، او پر دې له دلايلو څخه د الله جل جلاله دا قول دی چې فرمايي:

﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا

﴿الطَّاغُوتَ...﴾

ژباړه: (او یقینًا یقینًا مونږ په هر یو امت کې یو رسول لیږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ). [النحل سورت: ۳۶ آیت]، او د هغه سپیڅلي او لوړ ذات وینا چې فرمايي:

﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ﴿٢٥﴾﴾

ژباړه: (او له تا مخکې مو کوم رسول نه دی لیږلی مګر هغه ته مو وحي کړې چې له ما پرته بل په حقه معبود نشته، نو یوازې زما عبادت وکړئ). [الأنبياء سورت: ۲۵ آیت]. او د هغه جل جلاله دا وینا چې د نوح، هود، صالح او شعیب علیهم الصلاة و السلام په اړه یې فرمايلي چې هغوی خپلو قومونو ته وويل:

﴿...اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ...﴾

ژباړه: (...تاسو د الله عبادت کوئ، ستاسو لپاره له هغه نه سِوا (بل) هیڅ حق معبود نشته...). [الأعراف سورت: ۵۹ آیت]، او دا د ټولو رسولانو بلنه ده، لکه څنګه چې په تیرو دوو آیتونو کې اشاره شوې ده، او یقینا چې د رسولانو دښمنانو اقرار وکړ چې رسولانو یې دوی ته امر کړی و چې یوازې د الله عبادت وکړي او له نورو ټولو هغو معبودانو انکار وکړي چې له هغه پرته یې عبادت شوی دی، لکه څنګه چې هغه - جل جلاله- د عاد په کیسه کې فرمايلي چې هغوی هود علیه

الصلاة و السلام ته وويل:

﴿...أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللَّهَ وَحْدَهُ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُنَا...﴾

ژباړه: (...آيا ته د دې لپاره مونږ ته راغلی يې چې مونږ د يو الله عبادت وکړو او هغه معبودان پرېږدو چې زمونږ پلرونو يې عبادت کاوه...) [الأعراف سورت: ۷۰ آيت]، او الله - پاک - د قريشو په اړه وويل چې کله زمونږ پيغمبر محمد -صلی الله عليه وسلم- هغوی ته بلنه ورکړه چې يوازې د الله عبادت وکړي او هغه څه پرېږدي چې دوی يې له هغه پرته عبادت کوي: له ملاېکو، اولياوو، بوتانو، ونو او نورو څخه:

﴿أَجَعَلَ الْآلِهَةَ إِلَهًا وَاحِدًا إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ۝٥﴾

ژباړه: (ايا ده دغه معبودان يو اله وګرځول، بېشکه دا خامخا ډېر عجيبه څيز دی). [ص سورت: ۵ ايت]، او د دوی په اړه الله سبحانه وتعالی فرمايلي:

﴿إِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ۝٣٥ وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوا آلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَجْنُونٍ۝٣٦﴾

ژباړه: (بېشکه دوی (داسې) وو چې کله به دوی ته وويل شول چې له الله نه غير هېڅ لايق د عبادت نشته (نو) دوی به تکبر کاوه،

او دوی به ويل چې آيا مونږ به د يو لېوني شاعر لپاره د خپلو باطلو معبودانو پرېښودونکي يو؟) [الصافات سورت: ۳۵، ۳۶ ايتونه]، او پدې معنا سره ډېری آيتونه راغلي دي.

کوم آیتونه او حدیثونه مو چې ذکر کړل؛ الله تعالی دې ما او تاته په دین کې پوهه او د رب العالمین په حق کې بصیرت راکړي، لدې ټولو معلومیږي چې: دا دعاګانې او مرسته غوښتل چې تا یې په سوال کې یادونه وکړه، ټول د لوی شرک له ډولونو څخه دي؛ ځکه چې د الله نه غیر د بل چا عبادت او له هغه چا نه د چارو غوښتنه ده چې له الله پرته یې بل څوک ورتیا نه لري، لکه مړي او غائب خلک، او دا د پخوانیو له شرک څخه ډیر بد دی، ځکه چې هغوی به یوازې د راحت پر مهال شرک کاوه، او په سختیو کې به یې خاص د الله عبادت کاوه؛ ځکه هغوی پوهېدل چې هغه پاک ذات له سختیو څخه د دوی په ژغورنه قادر دی او بل هیڅوک یې نه شي خلاصولی، لکه چې په خپل مبین کتاب کې د هغو مشرکانو په اړه فرمایي:

﴿فَإِذَا رَكِبُواْ فِي ٱلۡفُلۡكِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ إِذَا هُمۡ يُشۡرِكُونَ ٦٥﴾

(او هر کله چې دوی سپاره شي په کښتیو کې نو رابولي الله تعالی لره، اخلاص کوي د هغه په بلنه کې نو هر کله چې دوی ته نجات ورکړي وچې ته، دغه وخت دوی شریک جوړوي (له الله تعالی سره). [العنکبوت سورت: ۶۵ آیت]، او الله پاک په یو بل آیت کې دوی مخاطبوي او فرمایي:

﴿وَإِذَا مَسَّكُمُ ٱلضُّرُّ فِي ٱلۡبَحۡرِ ضَلَّ مَن تَدۡعُونَ إِلَّآ إِيَّاهُۖ فَلَمَّا نَجَّىٰكُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ أَعۡرَضۡتُمۡۚ وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ كَفُورًا ٦٧﴾

(او کله چې په سمندر کې څه کړاو در ورسیږي، له هغه (الله) پرته ټول هغه (معبودان) چې تاسو يې رابلئ، درنه ورک شي، خو چې بیا مو کله وچې ته راوژغوري نو ترې ځنګ کوئ او انسان خو دی ناشکره). [الإسراء سورت: ٦٧ ایت].

که چیرې د دې وروستیو مشرکانو څخه یو ووايي: زموږ مطلب دا نه دی چې دا خلک پخپله ګټه رسوونکي دي، او زموږ ناروغان پخپله رغوي، یا موږ ته پخپله همدوی ګټه رارسوي، یا موږ ته پخپله زیان رارسوي، بلکې زموږ مطلب دا دی چې پدې کې الله تعالی ته شفاعت وکړي.

نو جواب دا دی چې وویل شي: همدا خو د لومړنیو کافرانو موخه او مراد و، د هغوی دا مقصد نه و چې خدایان يې پیدا کول کوي او روزي ورکوي، په خپله ګټه رسوي یا تاوان، ځکه دا خبره په هغه څه سره باطلیږي چې الله تعالی د هغوی په اړه په قرآن کریم کې فرمایلي چې هغوی يې یوازې د شفاعت او روی ارزو درلوده چې د الله په وړاندې يې لري او دا چې الله تعالی ته یوه مرتبه نږدې دي، لکه چې الله پاک فرمايي:

﴿وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ...﴾

(او هغوی د الله نه پرته هغه څه لمانځي چې نه څه زیان ور رسولای شي او نه څه ګټه او دوی وايي چې دا د الله په وړاندې زموږ سپارښتګر دي...) [یونس سورت: ٢٨ ایت]،

نو الله تعالی پرې په خپلې دې وینا سره رد وکړ چې فرمايي:

﴿...قُلۡ أَتُنَبِّـُٔونَ ٱللَّهَ بِمَا لَا يَعۡلَمُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ﴾

(... ووایه: آیا تاسو الله له هغه څه خبروئ چې هغه ته نه په آسمانو کې معلوم دي او نه په ځمکه کې (یعنې بالکل نشته) هغه پاک او لوړ دی له هغه څه چې دوی یې شریکوي).

[یونس سورت: ۱۸ ایت]، نو الله پاک په ډاګه کړه چې هغه ذات داسې کوم شفاعت کوونکي په ځمکه او اسمان کې نه پیژني چې مشرکان یې قصد لري، او هغه څه چې الله تعالی یې په شتون نه پوهیږي معنا یې دا ده چې داسې څه نشته؛ ځکه چې له هغه ذات څخه هیڅ شی پټ نه دی. او الله تعالی فرماېلي:

﴿تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ ١ إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ فَٱعۡبُدِ ٱللَّهَ مُخۡلِصٗا لَّهُ ٱلدِّينَ ٢ أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلۡخَالِصُۚ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ فِي مَا هُمۡ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَنۡ هُوَ كَٰذِبٞ كَفَّارٞ ٣﴾

ژباړه: (راتلل د دې کتاب د الله له طرفه دي چې زورور او حکمتونو والا دی.

موږ یقینا دا کتاب تا ته په حقه نازل کړی پس د يو الله

عبادت کوه په داسې حال کې چې سوچه کوونکی یې الله لره په طاعت کې.

خبر اوسئ چې الله لره سوچه (له شرکه پاك) دين (عقيده او عمل) دی او کومو خلکو چې له هغه پرته نور چاروواکي نیولي (او وايي چې) مونږ خو د دې شيانو لمانځنه صرف د دې لپاره کوو چې الله ته مو په مرتبه کې ورنږدې کړي. بېشکه الله به د دوی تر منځ په هغه څه کې فیصله کوي چې د دوی پکې اختلاف دی، یقیناً الله هغه چا ته هدايت نه کوي چې دروغجن او ناشکره وي). [الزُّمَر سورت: ۱-۳ ايتونه].

او دلته د دین معنا؛ عبادت دی، او عبادت د هغه او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم اطاعت دی لکه وړاندې چې تېر شول، او پدې کې: دعاء، مرسته غوښتل، ويره، هيله مندي، حلاله او نذر داخل دي، همدا رنګه پکې لمونځ، روژه او داسې نور چې الله او رسول يې پرې امر کړی شامل دي. نو هغه (جل جلاله) روښانه کړه چې عبادت يوازې د هغه لپاره دی، او دا چې پر بندګانو واجب دي هغه په عبادت سره ځانګړی کړي، څکه چې پيغمبر ته يې د عبادت په خالصولو امر؛ ټولو ته امر دی.

بيا الله تعالی د کافرانو په اړه وضاحت وکړ او ويې فرمايل:

﴿...وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ...﴾

ژباړه: (...او کومو خلکو چې له هغه پرته نور دوستان

نیولي (او وايي چې) موږ خو د دوی عبادت نه کوو مګر د دې لپاره چې دوی نږدې کړي موږ الله ته...). [الزُّمَر سورت: ۳ ایت]. نو الله تعالی پرې پدې وینا سره رد وکړ:

﴿...إِنَّ ٱللَّهَ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ فِي مَا هُمۡ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَنۡ هُوَ كَٰذِبٞ كَفَّارٞ﴾

ژباړه: (...بېشکه الله به د دوی په مینځ کې په هغو خبرو کې فیصله کوي چې دوی په هغو کې اختلاف کوي، بېشکه الله لارښوونه نه کوي هغه چا ته چې هغه دروغجن، ډېر ناشکره وي) [الزُّمَر سورت: ۳ ایت]، نو الله پاک پدې آیت کریمه کې روښانه کړه چې: کافرانو له الله تعالی پرته د خپلو اولیاوو عبادت د دې لپاره کاوه چې الله تعالی ته یې نږدې کړي؛ او همدا د پخوانیو او اوسنیو کافرانو مقصد دی چې الله تعالی یې دا مقصد په خپلې دې وینا سره باطل ګرځولی چې فرمايي:

﴿...إِنَّ ٱللَّهَ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ فِي مَا هُمۡ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَنۡ هُوَ كَٰذِبٞ كَفَّارٞ﴾

ژباړه: (...بېشکه الله به د دوی تر منځ په هغه څه کې فیصله کوي چې د دوی پکې اختلاف دی، یقیناً الله هغه چا ته هدایت نه کوي چې ډېر دروغجن او غټ کافر دی). [الزُّمَر سورت: ۳ ایت]، نو الله پاک د دوی دروغ په دې ادعا کې ښکاره کړل چې د دوی معبودان دوی الله ته نږدې کوي، او د هغوی په عبادت کولو سره یې ورته د هغوی کفر هم په ډاګه کړ، نو په دې توګه، هر څوک چې لږه پوهه ولري پوهیږي

چې د لومړنیو کافرانو کفر یوازې په دې کې و چې دوی پیغمبران، اولیاء، ونې، ډبرې او نور مخلوقات د خپل ځان او الله تر منځ د شفاعت کوونکو په توګه نیولي وو، او دا باور یې درلوده چې هغوی د الله له اجازې او رضایت پرته اړتیاوې پوره کوي، لکه څنګه چې وزیران د واکمنانو پر وړاندې شفاعت کوي، نو الله تعالی یې د واکمنانو او ملکانو سره مقایسه کړل، او وایي: لکه څنګه چې یو څوک پاچا یا مشر ته اړتیا لري چې د ځانګړو کسانو او وزیرانو له لارې یې ورته شفاعت وشي، همداسې موږ هم هغه ته د هغه د پیغمبرانو او اولیاوو په عبادت سره نږدې کیږو! او دا تر ټولو ستر باطل (باور) دی، ځکه چې هغه پاک ذات هیڅ سیال نلري، او هغه د مخلوق سره پرتله کیدی نه شي، او له اجازې پرته یې پر وړاندې څوک شفاعت نه شي کولی، او له موحدینو پرته بل چاته د شفاعت اجازه نه کوي، هغه پاک ذات پر هر څه قادر او په هر څه پوه دی، هغه تر ټولو زیات مهربان ذات دی، له هیچا ډار او ویره نه لري؛ ځکه چې هغه سپیڅلی ذات پر بندګانو غالب دی، او څنګه چې وغواړي په چارو کې یې تصرف کوي. د پاچاهانو او مشرانو برعکس؛ چې هیڅ نشي کولی، او د هغو کارونو لپاره چې خپله ترې عاجز دي یو چاته اړتیا لري؛ لکه خپل وزیران، خاص خلک او عسکر، همدا رنګه اړتیا لري چې د نورو خلکو له احوالو خبر شي، نو یو څوک باید معلومات ورکړي، ځکه خو اړتیا لري له خپلو خاصو خلکو او وزیرانو څخه یې یو څوک راضي کړي تر څو له اړمنو سره (مرسته وکړي)، او رب جل جلاله چې دی،

نو هغه له خپلو ټولو مخلوقاتو څخه غني دی، پر هغوی يې له مورګانو زيات مهربان دی، عادل پادشاه دی، هر کار په خپل ځای کې کوي، څنګه چې د هغه د حکمت، علم او قدرت غوښتنه وي، نو روا نه دی چې له مخلوقاتو سره يې په هيڅ وجه پرتله شي، لدې امله هغه پاک ذات په خپل کتاب کې روښانه کړې: چې مشرکانو دا منلې ده چې هغه خالق، روزي ورکوونکی او چار سازی، هغه ذات دی چې په سختيو کې مرستې ته رسيدنه کوي، مصيبت لرې کوي، ژوندي کول، مړه کول او داسې نورې کړنې تر سره کوي. او يقينا چې د مشرکانو او پيغمبرانو ترمنځ شخړه يوازې الله جل جلاله ته په اخلاص سره عبادت کولو کې ده، لکه چې فرمايي:

﴿وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَهُمۡ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ...﴾

ژباړه: (او که ودې پوښتل چې هغوی چا پيدا کړي، هرومرو به وايي: الله...) [الزخرف سورت: ۸۷ آيت]. او الله تعالی فرمايلي:

﴿قُلۡ مَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ أَمَّن يَمۡلِكُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَمَن يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَيُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُۚ فَقُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ ٣١﴾

ژباړه: (ورته ووايه: له اسمان او ځمکې نه څوک تاسو ته روزي درکوي او د اورېدو او ليدو واک څوک لري، او څوک دی چې ژوندی له مړي راوباسي او مړی له ژوندي راوباسي او د (نړۍ) چارې څوک سموي؟ نو زر به ووايي چې: الله،

نو ورته ووايه: آيا نو تاسو نه وېرېږئ) [يونس سورت: ٣١ ايت]، او پدې معنا سره ډيرى آيتونه راغلي دي.

پدې اړه آيتونه تېر شول چې د پېغمبرانو او امتونو تر منځ شخړه يوازې الله تعالى ته په اخلاص سره عبادت كولو كې وه، لكه چې هغه ذات فرمايي:

﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ...﴾

ژباړه: (او موږ هر ولس ته يو رسول لېږلى وو چې د الله عبادت وكړئ او له باطلو معبودانو ځان وساتئ...) [النحل سورت: ٣٦ آيت]، او هغه آيتونه چې پدې معنا سره راغلي دي. او هغه پاک ذات د خپل سپېڅلي كتاب په ډېرى ځايونو كې د شفاعت خبره تشريح كړې ده، الله تعالى فرمايلي:

﴿...مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦ...﴾

ژباړه: (دا به څوك وي چې د هغه له خوښې پرته د چا سپارښتنه ورته وكړي؟) [البقرة سورت: ايت ٢٥٥]، او الله تعالى فرمايلي:

﴿وَكَم مِّن مَّلَكٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ لَا تُغۡنِي شَفَٰعَتُهُمۡ شَيۡـًٔا إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ أَن يَأۡذَنَ ٱللَّهُ لِمَن يَشَآءُ وَيَرۡضَىٰٓ ٢٦﴾

ژباړه: (او په آسمانونو كې څومره ملايكې دي چې سپارښتنه يې هيڅ ګټه نه شي رسولاى، مګر له هغه وروسته چې الله اجازه وركړي چاته چې وغواړي او پرې رضا شي).

[النجم سورت: ۲۶ آیت].

او د ملایکو په اړه یې فرمایلي:

﴿...وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ٱرْتَضَىٰ وَهُم مِّنْ خَشْيَتِهِۦ مُشْفِقُونَ﴾

ژباړه: (...او پرته له هغه چا چې (د الله ورته) رضا وي، بل د هېچا سپارښتنه نه کوي او د هغه له وېرې ډارېدونکي دي). [الأنبياء سورت: ۲۸ آیت].

او هغه - جل جلاله - فرمایلي چې د خپلو بندګانو لپاره کفر نه خوښوي، بلکې خوښ ګڼي چې هغوی شکر ګذاره اوسي، او د هغه شکر ادا کول د هغه توحید او د هغه پر طاعت عمل کول دي، الله تعالی فرمایلي:

﴿إِن تَكْفُرُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنكُمْۖ وَلَا يَرْضَىٰ لِعِبَادِهِ ٱلْكُفْرَۖ وَإِن تَشْكُرُواْ يَرْضَهُ لَكُمْ...﴾

ژباړه: (که تاسو کفر وکړئ نو الله یقیناً له تاسي بې پروا دی او هغه خپلو بندګانو ته کفر نه خوښوي او که شکر وکړئ نو دا درته خوښوي...) [الزمر سورت: ۷ آیت].

او بخاري په خپل صحیح کې له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت کړی چې هغه وویل: ای د الله رسوله! ستا په شفاعت نېکمرغه انسان څوک دی؟ هغه وفرمایل:

«مَنْ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ خَالِصًا مِنْ قَلْبِهِ».

ژباړه: «چا چې د زړه له اخلاصه (لا إله إلا الله ) ویلي وي». او یا یې فرمایلي:

«مِنْ نَفْسِهِ».

«يعنې د زړه د اخلاصه».

او په صحيح کې له أنس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ، فَتَعَجَّلَ كُلُّ نَبِيٍّ دَعْوَتَهُ، وَإِنِّي اخْتَبَأْتُ دَعْوَتِي شَفَاعَةً لِأُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَهِيَ نَائِلَةٌ إِنْ شَاءَ اللهُ مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِي لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا».

ژباړه: «د هر نبي لپاره يوه دعا وي چې قبليږي، نو هر نبي په خپله دعا کې بيړه وکړه، او ما خپله دعا د قيامت په ورځ د خپل امت لپاره د شفاعت په توګه ساتلې ده، له دې به -ان شاء الله- زما هغه امتي برخمن کيږي چې مړ شي او هيڅ شی يې د الله سره نه وي شريک کړی». او پدې معنا سره حديثونه ډير دي.

او ټول آيتونه او حديثونه مو چې ذکر کړل پدې دلالت کوي چې عبادت يوازې د الله حق دی، او هيچا ته روا نه دي چې څه شی ترې بل چاته صرف کړي، نه پيغمبرانو او نه بل چاته او دا چې شفاعت د الله ملکيت دی لکه چې فرمايي:

﴿قُل لِّلَّهِ ٱلشَّفَٰعَةُ جَمِيعًا...﴾

ژباړه: (ورته ووايه: سفارش ټول د الله په واک کې دی...) [الزمر سورت: ۴۴ آيت]. او هيڅوک د شفاعت مستحق نه ګرځي مګر هغه وخت چې شفاعت کوونکي ته اجازه وشي،

او له هغه چا څخه الله راضي شي چې شفاعت يې كيږي، او هغه سپېڅلى ذات يوازې توحيد خوښوي، لكه وړاندې چې تېر شول. نو پر دې اساس: مشركانو ته په شفاعت كې برخه نشته، او الله تعالى دا خبره په خپلې دې وينا سره روښانه كړې ده چې فرمايي:

﴿فَمَا تَنفَعُهُمۡ شَفَٰعَةُ ٱلشَّٰفِعِينَ ٤٨﴾

ژباړه: (نو بيا به د سپاربنت كوونكو سپاربنت څه ګټه ور ونه رسوي). [المدثر سورت: ۴۸ آيت]. او الله تعالى فرمايلي:

﴿...مَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ حَمِيمٖ وَلَا شَفِيعٖ يُطَاعُ﴾

ژباړه: (...د ظالمانو به نه كوم دوست وي او نه څوک سپاربنتونكى چې خبره يې ومنل شي). [غافر سورت: ۱۸ ايت].

او ښكاره ده چې ظلم كله مطلق ذكر شي نو مراد ترې په الله تعالى شرک كول وي، الله تعالى فرمايلي:

﴿...وَٱلۡكَٰفِرُونَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ﴾

ژباړه: (...او ظالمان اصلاً هغه كسان دي چې د كفر لاره غوره كوي). [البقرة سورت: ۲۵۴ ايت]. او الله تعالى فرمايلي:

﴿...إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٞ﴾

ژباړه: (...يقيناً شرك يو ستر ظلم دى). [لقمان سورت: ۱۳ آيت].

او د کوم څه یادونه دې چې په سوال کې وکړه؛ چې ځینې صوفیان په جوماتونو او نورو ځایونو کې وایي: اللهم صل على من جعلته سببًا لانشقاق أسرارك الجبروتية، وانفلاقًا لأنوارك الرحمانية، فصار نائبًا عن الحضرة الربانية، وخليفة أسرارك الذاتية.. إلخ. یعنې ای الله پر هغه چا دې رحمت نازل کړه چې تا د خپلو جبروتي رازونو د راسپړلو او ستا د رحماني انوارو د چاودېدلو سبب ګرځولی، چې پدې سره د ربانیت د حضور استازی او د ذاتي رازونو خلیفه ګرځیدلی دی.. تر پای.

نو جواب یې دا دی چې وویل شي: دا او دې ته ورته څرګندونې د هغه تکلف او مبالغې یوه برخه ده چې زموږ پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم یې په اړه خبرداری ورکړی، لکه په صحیح مسلم کې چې د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په روایت کې راغلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«هَلَكَ الْمُتَنَطِّعُونَ» قَالَهَا ثَلَاثًا.

ژباړه: «تشدد کوونکي هلاک شول» درې ځلې یې دا خبره وکړه.

امام خطابي رحمه الله فرمایلي: متنطع: هغه چاته ویل کیږي چې د اهل کلام (منطقیانو) د عقیدې مطابق په یو شي کې د پلټنې په موخه ژور ننوځي په ژوره توګه ورډوبیږي او په پلټنه کې وریسې ځان په زحمت کوي، او په هغه څه کې لاسوهنه کوي چې اړه ورپورې نه لري او په هغه څه پسې

ژوره پلټنه کوي چې عقلونه يې ورته نه رسيږي.

أبو السعادات ابن الأثير وايي: هغه خلک چې په خبرو کې ژور ځي او افراطيت کوي، د مريو (حلقونو) له بيخ څخه غږيږي، دا کلمه له (نطع) څخه اخېستل شوې چې د خولې پورته غار ته وايي، بيا د هر هغه څه لپاره وکارول شوه چې انسان پکې ژور ځی؛ هغه که وينا يې يا کړنه.

او هغه څه چې دوو ژبپوهه امامانو يې يادونه کړې، نو تا او هر هغه چاته چې لږ څه بصيرت ولري روښانه کيږي چې زموږ پر پيغمبر او سردار، صلی الله عليه وسلم دا ډول درود ويل د هغه تکلف يو ډول دی چې منع ترې راغلې ده. او مسلمان بايد پدې اړه په رسول الله صلی الله عليه وسلم په درود ويلو کې ثابت شوی کيفيت تعقيب کړي، او همدا ورته بسنه کوي.

له دې جملې هغه حديث دی چې بخاري او مسلم په خپلو صحيحينو کې روايت کړی او الفاظ د بخاري دي؛ د کعب بن عجرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې صحابه کرامو رضي الله عنهم وويل: ای د الله رسوله! موږ ته الله امر کړی چې پر تا درود ووايو، نو څنګه درود درباندې ووايو؟ هغه وفرمايل:

«قُولُوا: اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبرَاهِيمَ

إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ».

ژباړه: «ووایئ: یا الله! پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پرکورنی رحمت و اوروه، لکه پر ابراهیم علیه السلام او د هغه پرکورنی دې چې ورولی و، بېشکه ته ستایل شوی او لوی یې. یا الله ! پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پر کورنی برکتونه و اوروه، لکه پر ابراهیم - علیه السلام - او د هغه پرکورنی دې چې ورولي و، بېشکه ته ستایل شوی او لوی یې».

او په صحیحینو کې له أبی حمید الساعدي رضي الله عنه څخه روایت دی: هغوی وویل: ای د الله رسوله! پر تا څنګه درود ووایو؟ هغه وفرمایل:

«قُولُوا: اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبرَاهِيمَ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ».

ژباړه: «ووایئ: ای الله، پر محمد - صلی الله علیه وسلم - او د هغه په کورنی رحمت نازل کړه لکه څنګه چې تا د ابراهیم -علیه السلام- په کورنی رحمت لیږلی، او پر محمد - صلی الله علیه وسلم - او د هغه په کورنی برکتونه نازل کړه لکه څنګه چې تا د ابراهیم -علیه السلام- پر کورنی برکت نازل کړی وو، بېشکه ته ستایل شوی او لوی یې».

او په صحیح مسلم کې له أبو مسعود الأنصاري رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې بشیر بن سعد وویل: ای د الله

رسوله! الله تعالی موږ ته امر کړی چې پر تا درود ووایو، نو څنګه درود درباندې ووایو؟ هغه چپ شو، بیا یې وفرمایل:

«قُولُوا: اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ؛ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبرَاهِيمَ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ؛ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبرَاهِيمَ فِي العَالَمِينَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، وَالسَّلَامُ كَمَا عَلِمتُم».

ژباړه: «ووایئ: یا الله! پر محمد - صلی الله علیه وسلم - او د هغه پرکورنۍ رحمت نازل کړه، لکه پر ابراهیم -علیه السلام- دې چې نازل کړی. او پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پر کورنۍ برکتونه نازل کړه، لکه پر ابراهیم - علیه السلام - دې چې نازل کړی، بېشکه ته ستایل شوی او لوی یې». او سلام پرې داسې وایئ لکه چې وړاندې پوه شوئ.

دا او دې ته ورته نور الفاظ چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت دي، هغه څه دي چې یو مسلمان یې باید په خپلو دعاګانو او په رسول الله صلی الله علیه وسلم په سلام ویلو کې وکاروي، ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم تر ټولو خلکو ښه پوهیږي چې د هغه په اړه څه کارول مناسب دي، او پدې هم تر هر چا ښه پوهیږي چې د هغه د رب په اړه کوم الفاظ وکارول شي.

او هغه تکلفي او نوي جوړ شوي الفاظ او هغه چې کیدی شي غلطه معنی ولري؛ لکه کومې کلمې چې په پوښتنه کې

ذکر شوي دي، نو دا هغه څه دي چې باید ونه کارول شي، ځکه چې تکلف پکې دی، او کیدی شي په باطله معناوو سره تفسیر شي، سربیره پر دې د هغو الفاظو خلاف دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ټاکلي او د امت لارښوونه یې ورته کړې ده، او هغه صلی الله علیه وسلم تر ټولو پوه او ټولو ته غوره نصیحت کوونکی او له تکلف څخه لرې انسان دی، پر هغه دې د خپل رب له طرفه غوره درود او سلام وي.

پدې سره زه هیله لرم، څه مو چې د توحید د حقیقت، د شرک د حقیقت، په دې برخه کې د لومړنیو او وروستنیو مشرکانو ترمنځ د توپیر، او په رسول الله صلی الله علیه وسلم د درود ویلو د مشروع کیفیت په اړه بیان کړل د یو زده کوونکي لپاره بسنه وکړي او د حق پسې پلټونکي ته د قناعت وړ وګرځي. او هغه څوک چې د حق پېژندلو ته لیوالتیا نه لري؛ نو هغه د خپلو خواهشاتو پیرو دی، الله تعالی فرمایلي:

﴿فَإِن لَّمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَكَ فَٱعۡلَمۡ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهۡوَآءَهُمۡۚ وَمَنۡ أَضَلُّ مِمَّنِ ٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ بِغَيۡرِ هُدٗى مِّنَ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ٥٠﴾

ژباړه: (نو که ستا خبره یې ونه منله نو پوه شه چې هغوی ایله خپلو هوسونو پسې روان دي، او تر هغه چا زیات بې لارې به څوك وي چې د الله لخوا له لارښوونو پرته خپلو هوسونو پسې درومي؟ بې شکه الله ظالمو خلکو ته هدایت نه کوي). [القصص سورت: ۵۰ ایت].

نو پدې آیت کریمه کې الله -جل جلاله- روښانه کړه چې خلک، د هغه څه په اړه چې الله تعالی پرې خپل پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم د لاربښوونې او حق دین سره رالیږلی دوه ډوله دي:

یو یې هغه ډول خلک دي چې د الله او د هغه د رسول منونکي دي.

دویم: هغه څوک دی چې د خپلو خواهشاتو پیرو دی؛ او هغه (جل جلاله) فرمایي چې له هغه چا ډېر ګمراه بل څوک نشته چې د الله له لاربښوونو پرته د خپلو خواهشاتو پیروي کوي.

موږ له الله -جل جلاله- څخه سوال کوو چې د نفساني خواهشاتو له پیروۍ څخه مو وژغوري، همدا رنګه ترې سوال کوو چې مونږ، تاسو او زمونږ ټول ورونه د الله جل جلاله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم منونکي، د هغه شریعت ته درناوی کوونکي، او له هر هغه څه نه ځان ساتونکي وګرځوي چې د شریعت خلاف وي لکه: بدعتونه او د خواهشاتو پیروي .. بېشکه چې هغه سخي او مهربان ذات دی.

وصلی الله علی عبده ورسوله نبینا محمد وآله وأصحابه وأتباعه بإحسان إلی یوم الدین.

***

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

## پنځم پېغام:

## د رسول الله صلى الله عليه وسلم او نورو میلادونو د لمانځلو حکم

الحمد لله، والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن اهتدى بهداه.

أما بعد:

ډېری خلکو په وار وار د رسول الله صلى الله عليه وسلم د میلاد د لمانځلو، په دې جریان کې هغه ته ودریدلو، سلام پرې ویلو او داسې نورو هغو کړنو په اړه پوښتنې کړي دي چې د زوکړې د ورځې د تجلیل پر مهال تر سره کیږي.

جواب یې دا دی چې وویل شي: د رسول الله صلى الله عليه وسلم یا د بل چا د مېلاد تجلیلول جایز نه دي؛ ځکه دا په دین کې نوی رامنځته شوی بدعت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم، خلفای راشدینو او نورو صحابه کرامو رضوان الله علیهم دا کار نه دی کړی، او نه د غوره پېړیو هغو تابعینو کړی چې په نیکۍ کې یې دوی پسې اقتدا کړې ده، حال دا چې هغوی پر سنت تر هر چا ښه پوه وو، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره یې بشپړ محبت درلود او له هغه وروسته یې له هر چا زیاته د هغه د شریعت پیروي کړې ده، او الله تعالی په خپل مبین کتاب کې فرمایلي:

﴿...وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُواْ...﴾

ژباړه: (او څه چې رسول (الله) درکړي، هغه واخلئ او له څه مو چې ایساروي، ترې ایسار شئ)
[الحشر سورت: ٧ آیت] او الله جل جلاله فرمایلي:

﴿...فَلۡيَحۡذَرِ ٱلَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنۡ أَمۡرِهِۦٓ أَن تُصِيبَهُمۡ فِتۡنَةٌ أَوۡ يُصِيبَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾

ژباړه: (...نو هغه کسان چې د هغه له امره مخالفت کوي، له دې څخه دې وویرېږي چې څه فتنه ور ونه رسي، یا څه دردناك عذاب ورته ونه رسیږي). [النور سورت: ٦٣ آیت]، او الله پاک فرمایي:

﴿لَّقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرۡجُواْ ٱللَّهَ وَٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرٗا ٢١﴾

ژباړه: (بېشکه ستاسي لپاره د رسول الله په تابعدارۍ کې ښائسته پیروي شته، د هغه چا لپاره چې د الله او د آخرت د ورځې هیله لري او الله ډېر یادوي). [الأحزاب سورت: ٢١ آیت]. او الله تعالی فرماېلي:

﴿وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلۡأَوَّلُونَ مِنَ ٱلۡمُهَٰجِرِينَ وَٱلۡأَنصَارِ وَٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُم بِإِحۡسَٰنٖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُ وَأَعَدَّ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي تَحۡتَهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ١٠٠﴾

ژباړه: (د مهاجرینو او انصارو لومړني کسان او هغوی چې په ښتینولۍ سره په دوی پسې تللي، الله ترې راضي

شوی او دوی هم الله نه راضي شوي او (الله) داسې جنتونه ورته تيار کړي چې د هغو لاندې ويالې بهيږي تل تر تله به وي په هغو کې، همدا ستر برياليتوب دی). [التوبة سورت: ۱۰۰ ايت]، او الله تعالی فرمايلي:

﴿...ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗا...﴾

ژباړه: (...نن مې ستاسو دين درته پوره کړی، خپل نعمت مې درباندې تمام کړی او همدغه اسلام مې ستاسو د دين په توګه درته غوره کړی دی...). [المائدة سورت: ۳ ايت]. او پدې معنا سره ډير آيتونه راغلي دي. او له پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه روايت دی چې هغه فرمايلي:

«مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ مِنهُ فَهُوَ رَدٌّ».

ژباړه: «چا چې زموږ په دين کې نوي شيان راپيدا کړل چې له (دين) څخه نه وي، هغه مردود دي». يعنې: بېرته پرې وركړځي او ترې نه منل کيږي. او په يو بل حديث کې يې فرمايلي:

«عَلَيكُم بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ المَهْدِيِّينَ مِنْ بَعدِي، تَمَسَّكُوا بِهَا، وَعَضُّوا عَلَيهَا بِالنَّوَاجِذِ، وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الأُمُورِ، فَإِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ».

ژباړه: «تاسې زما او د هدايت موندونکو راشدينو خلفاوو

په سنتو کلکي منګولي ولګوئ، د ژامي غاښونه پرې کلک کړئ او په دين کې له نويو طريقو راوښتلو ځان وساتئ، ځکه چې (په دين کې) هر نوښت بدعت دى او هر بدعت ګمراهي ده». نو په دې دوو حديثونو کې د بدعتونو د رامنځته کولو او پر هغو د عمل کولو په وړاندې سخت خبرداری ورکړل شوی دی.

او د ميلاد د داسې جشنونو جوړول پدې معنی دي چې الله جل جلاله د دې امت لپاره دين بشپړ کړی نه دی، او رسول الله صلی الله عليه وسلم خپل امت ته هغه څه نه دي رسولي چې دوی پرې بايد عمل وکړي، تر دې چې دا وروستي خلک راغلل، نو د الله په دين کې يې هغه څه راوويستل چې هغه يې اجازه نه ده کړې، پدې ګومان چې دا کار يې الله تعالی ته نږدې کوي. له شک پرته چې پدې کې لوی خطر او پر الله جل جلاله او د هغه پر رسول صلی الله عليه وسلم اعتراض دی، حال دا چې الله جل جلاله خپلو بندګانو ته دين بشپړ کړی او خپله لورينه يې پرې پوره کړې ده، او رسول الله صلی الله عليه وسلم په ښکاره رسولو سره دين خلکو ته رسولی، او هيڅ داسې لار يې نده پرېښې چې انسان جنت ته رسوي او له دوزخ څخه يې لرې کوي مګر دا چې ورته يې روښانه کړې ده، لکه څنګه چې له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه په صحيح حديث کې روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

«مَا بَعَثَ اللهُ مِن نَبِيٍ إِلَّا كَانَ حَقًّا عَلَيهِ أَن يَدُلَّ أُمَّتَهُ عَلَى خَيرِ مَا

يَعْلَمُهُ لَهُم، وَيُنْذِرَهُمْ شَرَّ مَا يَعْلَمُهُ لَهُمْ».

ژباړه: «بېشکه الله تعالی هېڅ پېغمبر ندی لیږلی مګر دا چې پر هغه واجب وو چې خپل امت ته هغه خیر وښایي چې ورته معلوم وي، او له هغه شر څخه يې وویروي چې ورته معلوم وي». مسلم په خپل صحیح کې روایت کړی دی.

او ښکاره ده چې زموږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم غوره او وروستی پیغمبر او په پیغام رسولو او نصیحت کولو کې تر ټولو بشپړ دی، نو که چیرته د زیږونونو لمانځل د دین هغه برخه وای چې الله پرې راضي کېده، نو خامخا به رسول الله صلی الله علیه وسلم امت ته بیان کړی وی، یا به يې خپل ژوند کې دا کار کړی و، یا به يې صحابه کرامو کړی و. نو کله چې دا کار نه دی شوی معلومه شوه چې له اسلام څخه نه دی، بلکې دا کار له هغو نوښتونو څخه دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې امت ویرولی، لکه په حدیثونو کې وړاندې تېر شول. او پدې معنا سره ډیری آیتونه او حدیثونه شتون لري.

د علماوو یوې ډلې په پورته ذکر شویو او نورو شواهدو د عمل کولو پر بنا د میلاد لمانځل غندلي او پر وړاندې يې خپل خبرداری په څرګنده توګه بیان کړی، خو ځینو وروستیو علماوو له دې سره مخالفت څرګند کړی او د منکراتو د نه شتون په صورت کې يې جایز ګڼلی؛ لکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اړه مبالغه، د ښځو او نارینه وو تر منځ اختلاط، د موسیقۍ د وسایلو کارول او داسې نور چې پاکیزه شریعت يې ردوي، او ګومان يې کړی چې دا حسنه بدعتونه دي.

او شرعي قاعده (وايي): هغه څه چې خلک يې په اړه اختلاف لري بايد د الله جل جلاله کتاب او د هغه د رسول محمد صلى الله عليه وسلم سنت ته راجع شي، لکه چې الله تعالى فرمايلي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا ۝٥٩﴾

ژباړه: (اى مومنانو! د الله حکم ومنئ! او د رسول ومنئ! او د خپلو چارواکو، نو که په څه کی مو سره شخړه راغله نو الله او رسول ته يې ور وګرځوئ، که (رښتيا) تاسو په الله او د آخرت په ورځ ايمان لرئ، دا غوره او په انجام کې ډېره ښه ده). [النساء سورت: ٥٩ ايت]، او الله تعالى فرمايلي:

﴿وَمَا ٱخۡتَلَفۡتُمۡ فِيهِ مِن شَيۡءٖ فَحُكۡمُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ ...﴾

ژباړه: (او تاسو چې په څه کې اختلاف کوئ نو پرېکړه يې د الله په لور ده ...) [الشورى سورت: ١٠ ايت].

موږ دا موضوع - چې: د زوکړې لمانځل دي - د الله تعالى کتاب ته راجع کړه، نو ومو موندل چې د الله کتاب موږ ته امر کوي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم پيروي په هغه څه کې وکړو چې راتګ يې پرې کړی، او د هغه څه په اړه خبرداری راکوي چې هغه ترې منع فرمايلې. او هغه سپېڅلی ذات موږ ته خبر راکوي چې دين يې دې امت ته بشپړ کړی، او د زوکړې دا جشن هغه څه نه دي چې رسول الله صلى الله

علیه وسلم راوړی وي او د هغه دین برخه نه وي چې الله تعالی
موږ ته بشپړ کړی او موږ ته یې په اړه د رسول د پیروۍ امر
کړی دی.

او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت ته مو هم راجع
کړ؛ نو ومو نه موندل چې هغه دا کار کړی وي او یا یې پرې
امر کړی وي، یا یې صحابه کرامو رضي الله عنهم کړی وي،
نو پدې سره پوه شو چې له دین څخه نه دی، بلکې په دین کې
نوښت او د اهل کتابو -یهودو او نصاراوو- د اخترونو سره
یوکې هغوی ته ورته والی دی.

په دې توګه، دا هر هغه چا ته روښانه ده چې لږ بصیرت
او د حق بیانولو او پلټنې ته لیوالتیا ولري چې په زوکړو جشن
نیول د اسلام له دین څخه نه دي، بلکې دا کار له هغو بدعتونو
څخه دی چې په دین کې له ځانه راویستل شوي او الله جل
جلاله او رسول یې صلی الله علیه وسلم د پرېښودلو امر کړی
او په اړه یې خبرداری ورکړی. او هیڅ عقلمند ته نه ښایي چې
د هغو کسانو په ډیروالي دوکه شي چې په ډیری هېوادونو کې
پرې جشنونه نیسي، ځکه چې حق د کوونکو په زیاتوالي نه
پېژندل کیږي، بلکې په شرعي دلیلونو پېژندل کیږي لکه
څنګه چې الله تعالی د یهودو او نصاراوو په اړه فرمایلي:

﴿وَقَالُواْ لَن يَدۡخُلَ ٱلۡجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا أَوۡ نَصَٰرَىٰۗ تِلۡكَ
أَمَانِيُّهُمۡۗ قُلۡ هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ١١١﴾

ژباړه: (او (اهل کتاب) وایي: هېڅکله به جنت ته نه
ننوځي پرته له هغو چې یهودي یا نصراني وي، دا د دوی

هیلي (غوښتنې) دي، (دوی ته) ووایه: (ای محمده!) خپل دلیل راوړئ، که تاسې رښتیني یاست). [البقرة سورت: ۱۱۱ ایت]، او الله تعالی فرمایلي:

﴿وَإِنْ تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ...﴾

ژباړه: (او که چېرې ته اطاعت وکړې د هغو کسانو د اکثریت چې په ځمکه کې دي (نو) دوی به تا د الله له لارې نه واړوي...). [الأنعام سورت: ۱۱ ایت].

سربېره پردې، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د زوکړې دېرې دا جشنونه - سره له دې چې بدعت دي - د نورو غندلو وړ شیانو څخه خالي نه دي. لکه د ښځو او نارینه وو اختلاط، د سندرو او موسیقی د وسایلو کارول، د الکولو او مخدره توکو څښل، او داسې نورې بدې کړنې. کېدای شي له دې څخه په لویو کارونو کې ښکېل شي، چې هغه لوی شرک دی، کله چې دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حق کې افراط وکړي، یا د نورو اولیاوو په حق کې چې سوال ترې وکړي، یا پرې د مرستې غوښتنه وکړي او مرسته ترې وغواړي، او دا باور درلودل چې هغه په غیبو پوهیږي او داسې نورې کفري چاري چې خلک یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او نورو هغو خلکو د زوکړې په جشنونو کې کوي چې اولیا یې بلي، حال دا چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په صحیح روایت ثابت دي چې هغه فرمایلي:

«إِيَّاكُم وَالغُلُوَّ فِي الدِّينِ، فَإِنَّمَا أَهْلَكَ مَن كَانَ قَبْلَكُم الغُلُوَّ فِي

الدِّينِ».

ژباړه: «خبردار اوسئ او ځانونه په دين کې له زيادت څخه وساتئ، ځکه له تاسو مخکې خلک په دين کې د زيادت له امله تباه شول». او هغه - عليه الصلاة و السلام - فرمايلي:

«لَا تُطْرُونِي كَمَا أَطْرَتِ النَّصَارَى ابْنَ مَرْيَمَ، إِنَّمَا أَنَا عَبدٌ، فَقُولُوا: عَبدُ اللهِ وَرَسُولُه».

ژباړه: «زما په ستاينه کې له بريده مه اوړئ لکه نصاراوو چې د مريمې زوی له بريده زيات وستايلو، بېشکه زه يو بنده يم؛ نو ووايئ: د الله بنده او د هغه رسول دی». بخاري په خپل صحيح کې د عمر رضي الله عنه له حديث څخه روايت کړی.

د حيرانتيا او نااشنا خبرو څخه يوه دا هم ده چې ډيری خلک دې جشنونو کې د حاضريدو لپاره هڅاند وي او زيار باسي، دفاع ترې کوي او پر ځای يې له هغه څه نه شاته پاتې کيږي چې الله پرې واجب کړي دي لکه د جمعې او جماعت لمونځونو ته حاضريدل، او پدې سره هيڅ سر نه پورته کوي، او دا فکر هم نه کوي چې کوم لوی ناروا کار يې کړی دی. نو پدې کې شک نشته چې دا يې د ايمان له کمزورۍ، لږ بصيرت او د هغو ګناهونو د زياتوالي له امله دی چې د ډول ډول ګناهونو له امله يې په زړونو زنګ راوښتی دی، له الله تعالی څخه د ځان او ټولو مسلمانانو لپاره د سلامتيا سوال کوم.

لدې جملې څخه دا ده چې: ځينې يې فکر کوي د الله رسول

صلی الله علیه وسلم د زوکړې د ورځې په جشن کې ګډون کوي، لدې امله ورته د هرکلي او هغه سره د مینې لپاره ودریږي، چې دا یو تر ټولو لویه باطل او بدترینه ناپوهي ده، ځکه یقینا رسول الله صلی الله علیه وسلم له قیامت نه وړاندې له خپل قبر څخه نه راوځي او نه له چا سره اړیکې ټینګوي او نه یې غونډو ته حاضریږي، بلکې هغه په خپل قبر کې د قیامت تر ورځې پورې استوګن دی، او روح یې په پورته علیین کې د خپل رب سره د عزت په مقام کې دی، لکه چې الله تعالی فرمایلي:

﴿ثُمَّ إِنَّكُمْ بَعْدَ ذَٰلِكَ لَمَيِّتُونَ ۝١٥ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تُبْعَثُونَ ۝١٦﴾

ژباړه: (بیا بېشکه تاسو له دې (ژوند) نه بعد خامخا مړه کېدونکي یئ.

بیا به یقینًا تاسو د قیامت په ورځ ژوندي راپاڅولی شئ).
[المؤمنون سورت: ۱۵، ۱٦ ایتونه].

او پېغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«أَنَا أَوَّلُ مَنْ يَنْشَقُّ عَنْهُ القَبْرُ يَومَ القِيَامَةِ، وَأَنَا أَوَّلُ شَافِعٍ، وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ».

ژباړه: «زه لومړی هغه څوک یم چې قبر یې څېرول کیږي او لومړی کس یم چې په قیامت کې به شفاعت کوونکی وي او لومړی هغه کس یم چې شفاعت یې منل کیږي». د هغه

د رب له طرفه دې پرې غوره درود او سلام وي.

نو دا دوه کريمه آيتونه، حديث شريف او هغه څه چې د دوی په معنا له آيتونو او حديثونو څخه راغلي دي، ټول پر دې دلالت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم او نور مړي به له قبرونو څخه د قيامت په ورځ راوځي، پدې خبرې د مسلمانانو د علماوو اجماع ده، چې هيڅ خلاف پکې نشته، نو هر مسلمان ته ښايي چې دې چارو ته پاملرنه وکړي او له هغه څه نه ځان وساتي چې جاهلانو او ورته خلکو له بدعتونو او خرافاتو څخه راويستلي، هغه چې الله پرې هيڅ دليل نه دی نازل کړی، الله مرسته کوونکی دی، پر هغه مو توکل دی او د هغه له امر پرته له هيڅ چارې بلې ته اوړيدل او ځواک نشته.

او په رسول الله صلی الله عليه وسلم درود او سلام چې دی، نو له غوره عملونو څخه دی چې الله تعالی ته پرې نږدې کېدل کيږي او له نېکو عملونو څخه دی لکه چې الله تعالی فرمايلي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا٥٦﴾

ژباړه: (بيشکه الله (ثنا او صفت وايي) او ملايکې يې درود (دعا کوي) نبي ته، ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! درود ووایاست پر هغه (نبي) او سلام (پرې) ووایاست په سلام ويلو سره). [الأحزاب سورت: ۵۶ ايت]، او پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

«مَنْ صَلَّى عَلَيَّ وَاحِدَةً؛ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ بِهَا عَشْرًا».

ژباړه: «چا چې پر ما يو ځل درود وويل، الله تعالی به يې په ملأ أعلی کې لس ځله وستايي». دا په هر وخت کې روا دی، او د هر لمانځه په پای کې پرې تاکيد شوی، بلکې د هر لمانځه په وروستي شهادت کې د علماوو د يوې ډلې په اند واجب دی. او پر مسنونيت يې په ډېری ځايونو کې ټينګار شوی؛ لکه له اذان څخه وروسته، د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - له ياد وروسته او د جمعې په ورځ او شپه کې، لکه څنګه چې پرې ډېری حديثونه دلالت کوي.

له الله جل جلاله څخه سوال کوو چې موږ او ټولو مسلمانانو ته په دين کې د پوهې توفيق راکړي، پرې مو ثابت وساتي او دا چې پر ټولو د سنتو د عملي کولو لورينه وکړي او له بدعتونو يې وساتي، بېشکه چې هغه سخي او عزتمند ذات دی.

وصلّى الله وسلّم على نبيّنا محمّدٍ وعلى آله وصحبه.

***

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

## شپږم پیغام:

## د اسراء او معراج د شپې د لمانځلو حکم

الحمد لله، والصلاة والسلام على رسول الله، وعلى آله وصحبه.

أَمَّا بَعْدُ: له شک پرته چې اسراء او معراج د الله جل جلاله د قدرت له لویو نښانو څخه دي چې د هغه د رسول محمد صلی الله علیه وسلم رښتینولي او د الله تعالی په وړاندې د هغه د مقام عظمت ښیي، همدا رنګه دا د الله جل جلاله د حیرانوونکي قدرت ثبوت او پر ټولو مخلوقاتو یې په پورته والي دلیل دی الله تعالی فرمایلي:

﴿سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ إِلَى ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنۡ ءَايَٰتِنَآۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١﴾

ژباړه: (پاك دی هغه ذات چې یوه شپه یې خپل بنده له مسجد حرام نه تر هغه لرې مسجد (اقصی) پورې بوتللو چې د هغه چاپېریال مو برکتي کړی دی، تر څو پر هغه خپلې ځینې نښانې وګورو، په حقیقت کې هماغه د هر څه اورېدونکی او لیدونکی دی). [الإسراء سورت: ۱ ایت].

له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه متواتر روایتونه راغلي چې هغه اسمانونو ته خېژول شوی، دروازې یې ورته

پرانېستل شوي تر دې چې له اووم اسمان څخه تېر شوی او رب يې چې څه غوښتل په اړه يې ورسره خبرې کړي او پنځه وخته لمونځونه يې پرې فرض کړي، په داسې حال کې چې په لومړي سر کې يې پنځوس فرض کړل، نو زموږ پېغمبر صلی الله عليه وسلم به بار بار ورګرځيده او د کمېدو سوال به يې ترې کاوه، تر دې چې پنځو لمونځونه ته يې راکم کړل ، خو دا په شمېر کې پنځه او په ثواب کې پنځوس دی؛ ځکه چې نيکي يو په لسه ده، نو الله تعالی لره د هغه په ټولو نعمتونو ستاينه او شکر دی.

دا شپه چې په کې اسراء او معراج شوي، په صحيحو احاديثو کې مشخص شوې نه ده، نه په رجب او نه کومه بله مياشت کې، او هر څه چې يې د مشخص کېدلو په اړه راغلي د محدثينو له انده له پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه ثابت نه دي، او د الله تعالی پدې کې لوی حکمت دی چې له خلکو يې هېره کړې ده، او که چېرته يې مشخص کېدل ثابت شي، نو هيڅ مسلمان ته جايز نه دي چې په عبادت سره يې ځانګړې کړي، يا دا چې ويې لمانځي، ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم او صحابه کرامو يې نده لمانځلې او نه يې په کوم عمل سره ځانګړې کړې ده. او که چيرته يې لمانځل روا عمل و نو رسول الله صلی الله عليه وسلم به امت پرې په وينا او يا عمل کولو سره خبر کړی و، او که چېرته داسې کوم څه شوي و نو خامخا به پېژندل شوی او مشهور شوی و او خامخا به صحابه کرامو -رضي الله عنهم- موږ ته رانقل کړی و، ځکه يقينا هغوی د خپل پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه هر هغه

شی رانقل کړی چې امت ورته اړتیا درلوده او د دین په هیڅ شي کې یې ناغیړي نده کړې، بلکې هغوی هرې ښېګڼې ته مخکښ وو، نو که چېرته د دې شپې لمانځل روا عمل و، نو هغوی به په دې کار کې تر ټولو مخکښ وو. او رسول الله صلی الله علیه وسلم خلکو ته د خلکو غوره نصحیت کوونکی و او په پوره توګه یې پیغام رسولی او امانت یې ادا کړی، نو که چېرته د دې شپې تعظیم او لمانځل د الله له دین څخه و نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به ترې هیڅ کله غافله شوی نه و او نه به یې پټه کړې وه، نو کله چې داسې څه نه شته، معلومه شوه چې د دې شپې لمانځل او تعظیم د اسلام څخه نه دي، حال دا چې الله تعالی دې امت ته خپل دین بشپړ کړی او نعمت یې پرې پوره کړی، او هر هغه څوک یې غندلی چې په دین کې یې داسې څه راویستلي چې الله تعالی یې اجازه نه ده کړې، الله پاک په خپل مبین کتاب کې فرمایلي:

﴿...ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗا...﴾

ژباړه: (...نن مې ستاسو دین درته پوره کړی، خپل نعمت مې درباندې تمام کړی او همدغه اسلام مې ستاسو د دین په توګه درته غوره کړی دی...). [المائدة سورت: ۳آیت]، او الله جل جلاله فرمایلي:

﴿أَمۡ لَهُمۡ شُرَكَٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمۡ يَأۡذَنۢ بِهِ ٱللَّهُۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةُ ٱلۡفَصۡلِ لَقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۗ وَإِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٢١﴾

ژباړه: [آیا هغوی لره داسې شریکان دي چې ورته یې د دین داسې احکام جوړ کړي چې الله یې حکم نه دی کړی، او که چیرې د پریکړې خبره (ځنډول) شوې نه وای، خامخا به یې ترمنځ پریکړه شوې وه او بېشکه د همدې ظالمانو لپاره دردوونکی عذاب دی). [الشوری سورت: ۲۱ آیت].

او له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په صحیحو أحادیثو کې د بدعتونو پر وړاندې خبرداری ثابت دی او په صراحت سره ویل شوي چې بدعتونه ګمراهي ده، تر څو یې امت د لوی خطر په وړاندې بیدار شي، او له کولو یې تېښته وکړي، لدې څخه یو هغه حدیث دی چې په صحیحینو کې له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ؛ فَهُوَ رَدٌّ».

ژباړه: «چا چې زموږ په دین کې نوي شیان راپیدا کړل چې له هغې څخه نه وي، هغه مردود دي». او د مسلم په روایت کې دي:

«مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيهِ أَمْرَنَا؛ فَهُوَ رَدٌّ».

ژباړه: «که څوک کوم کار وکړي او زمونږ د دین امر ورباندې نه وي، هغه مردود دی». او په صحیح مسلم کې له جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه روایت دی وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د جمعې د ورځې په خطبه کې ویل:

«أَمَا بَعْدَ، فَإِنَّ خَيرَ الحَدِيثِ كِتَابُ اللهِ، وَخَيرَ الهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ ﷺ، وَشَرَّ الأُمُورِ مُحْدَثَاتُهَا، وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلاَلَةٌ».

ژباړه: «اما بعد، بېشکه تر ټولو غوره وینا د الله تعالی کتاب دی، او غوره لارښوونه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده، او (په دین کې) تر ټولو بد کارونه هغه دي چې نوي وي، او هر بدعت ګمراهي ده». نسائي پکې په جيد سند سره اضافه کړې:

«وَكُلَّ ضَلاَلَةٍ فِي النَّارِ».

«او هره ګمراهي په اور کې ده». او په سننو کې له العرباض بن سارية رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله ﷺ موږ ته داسې ژوره وينا وکړه چې زړونه ترې وربېږدېدل او له سترګو اوښکې وبهېدې، نو موږ وويل: ای د الله رسوله! دا خو داسې وعظ دی لکه د خدای په امانی کوونکي، نو موږ ته وصيت وکړه، هغه وفرمايل:

«أُوصِيكُم بِتَقْوَى اللهِ وَالسَّمعِ وَالطَّاعَةِ وَإِنْ تَأَمَّرَ عَلَيكُم عَبدٌ، فَإِنَّهُ مَنْ يَعِشْ مِنْكُم فَسَيَرَى اخْتِلَافًا كَثِيرًا، فَعَلَيكُم بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الخلُفَاءِ الرَّاشِدِينَ المَهْدِيِّينَ مِنْ بَعْدِي، تَمَسَّكُوا بِهَا وَعَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ، وَإِيَّاكُم وَمُحْدَثَاتِ الأُمُورِ، فَإِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٍ وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلاَلَةٌ».

ژباړه: «له الله تعالی څخه په ویره، اوریدلو او اطاعت درته وصیت کوم اګر که یو غلام دربانديې امیر وټاکل شو، یقینا خبره داسې ده چې که په تاسو کې څوک ژوند وکړي نو ډیر اختلافات به ووینې، نو تاسې زما او د هدایت موندونکو راشدینو خلفاوو په سنتو کلکې منګولې ولګوئ، د ژامې غاښونه پرې کلک کړئ او په دین کې له نویو طریقو راوېستلو ځان وساتئ، ځکه (په دین کې) هر نوښت بدعت دی او هر بدعت ګمراهي ده». او په دې معنا سره ډیری حدیثونه راغلي دي.

او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له أصحابو او ورپسې وروسته له سلفو څخه د بدعتونو پر وړاندې خبرداری او ترې ویرول ثابت دي؛ دا یوازې له دې امله چې په دین کې زیاتوالی او داسې یو شریعت رامنځته کول دي چې الله یې اجازه نه ده کړې او د الله تعالی له دښمنانو؛ یهودو او نصاراوو سره پکې ورته والی دی چې هغوی هم په خپل دین کې زیادت کړی و، او داسې نوښت یې پکې راوستی و چې الله یې اجازه نه وه کړې، او ځکه چې لدې څخه په اسلامي دین کې نیمګړتیا لازمیږي، او له بشپړتیا وروسته په نابشپړتیا سره متهم کیږي او دا ښکاره ده چې پدې کې څومره لوی فساد دی، او دا یو ناوړه منکر او د الله تعالی د دې وینا سره په ټکر کې عمل دی چې فرمایي:

﴿...ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ...﴾

ژباړه: (...نن مې ستاسو دین درته پوره کړی...) [المائدة سورت: ۳ آیت]، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیثونو

سره پکې ښکاره مخالفت دی، هغو حدیثونو سره چې له بدعتونو ویرول او ترې په تېښته (امر) کوي.

پدې سره امید لرم چې کوم څه مو له دلایلو سره ذکر کړل کافي او د حق پلټونکي لپاره د قناعت وړ وي، چې دا بدعتونه پرې وغندي؛ یعنې د اسراء او معراج د شپې لمانځل او دا چې دا عمل له اسلام څخه هیڅ نه دی.

نو دا چې الله تعالی مسلمانانو ته نصیحت او هغه څه بیانول واجب کړي چې ورته یې روا کړي او تر څنګه یې د علم کتمان حرام کړی؛ نو ما وپتېبله چې خپلو مسلمانانو ورونو ته د دې بدعت په اړه خبرداری ورکړم، کوم چې په ډیری هېوادونو کې دومره خپور شوی چې ځینې فکر کوي له دین څخه دی.

له الله تعالی سوال کوو چې د ټولو مسلمانانو حالات سم کړي، په دین کې پوهه ورکړي، موږ او هغوی ته پر حق د منګولو لګولو، پرې ټېنګ پاتې کېدلو او د هغه خلاف د هر څه پرېښودلو توفیق راکړي، هغه د دې واکمن او پرې ځواکمن ذات دی.

وصلی الله وسلم وبارك علی عبده ورسوله نبینا محمد وآله وصحبه.

***

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحمَنِ الرَّحِيمِ

## اووم پیغام:

## د شعبان میاشتې د نیمایي شپې د لمانځلو حکم

الحمد لله الذي أكمل لنا الدين، وأتم علينا النعمة، والصلاة والسلام على نبيه ورسوله محمد نبي التوبة والرحمة.

أَمَّا بَعْدُ: الله تعالی فرمایلي:

﴿...ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗا...﴾

ژباړه: (...نن مې ستاسو دین درته پوره کړی، خپل نعمت مې درباندې تمام کړی او همدغه اسلام مې ستاسو د دین په توګه درته غوره کړی دی...) [المائدة سورت: ۳ آیت]، او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿أَمۡ لَهُمۡ شُرَكَٰٓؤُاْ شَرَعُواْ لَهُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا لَمۡ يَأۡذَنۢ بِهِ ٱللَّهُ...﴾

ژباړه: (آیا هغوی لره داسې شریکان دي چې ورته یې د دین داسې احکام جوړ کړي چې الله یې حکم نه دی کړی...) [الشوری سورت: ۲۱ آیت]. او په صحیحینو کې له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ؛ فَهُوَ رَدٌّ».

ژباړه: «چا چې زموږ په دین کې نوي شیان راپیدا کړل

چې له هغې څخه نه وي، هغه مردود دي». او په صحيح مسلم کې له جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي عليه الصلاة و السلام به د جمعې په خطبه کې ويل:

«أَمَّا بَعْدُ: فَإِنَّ خَيرَ الحَدِيثِ كِتَابُ اللهِ، وَخَيرَ الهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ، وَشَرَّ الأُمُورِ مُحْدَثَاتُهَا، وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلاَلَةٌ».

ژباړه: «أما بعد: د الله تعالی له حمد او ثنا وروسته، بېشکه غوره وينا د الله تعالی کتاب دی، او غوره لاربښوونه د پېغمبر صلی الله عليه وسلم لاربښوونه ده، او (د دين په چارو کې) بده يې نوې (بدعت) ده او بدعت ګمراهي ده». او پدې معنا سره آيتونه او حديثونه ډېر راغلي، چې په روښانه توګه دلالت کوي چې الله تعالی دې امت ته دين پوره کړی او خپل نعمت يې پرې بشپړ کړی دی، او هغه مهال يې خپل نبي وفات کړی، کله يې چې په ښکاره او بشپړه توګه خلکو ته دين رسولی او امت ته يې له وينا او کړنو هر هغه څه بيان کړي چې الله ورته روا کړي دي. او رسول الله صلی الله عليه وسلم روښانه کړې چې هر هغه څه چې خلک يې له هغه وروسته په (دين کې له ځانه) راباسي او بيا يې اسلام ته نسبت ورکوي؛ هغه که وينا وي او يا عمل، نو دا ټول بدعت دي او چا چې جوړ کړي پر همغه بېرته مردود دي اګر که دا کار يې په ښه نيت کړی وي، او د رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرام او وروسته د اسلام علما په دې موضوع پوهېدل، نو بدعتونه يې وغندل او

خلک یې ترې وویرول، دا خبره هر هغه چا ذکر کړې ده چې د سنتو د عظمت او د بدعت د غندلو په اړه یې لیکل کړي دي لکه: ابن وضاح، طرطوشي، أبو شامة او داسې نورو.

له هغو بدعتونو چې ځینو خلکو رامنځته کړي: د شعبان د نیمایي میاشتې د شپې د لمانځلو او د ورځې روژه نیولو بدعت دی، چې په دې اړه هیڅ داسې دلیل نشته چې اعتماد پرې وشي، که څه هم د فضیلت په اړه یې ضعیف حدیثونه شته خو اعتماد پرې روا نه دی.

او هغه څه چې پدې شپه کې د لمانځه د فضیلت په اړه راغلي؛ نو ټول موضوعي دي، لکه څنګه چې ډیری علماوو دې خبرې ته اشاره کړې ده ، چې وروسته به یې د ځینو ویناوې راشي إن شاء الله.

پدې اړه د شام او نورو ځایونو د ځینو سلفو آثار هم شته.

او هغه څه چې جمهورو علماوو پرې اجماع کړې دا دی چې د دې شپې لمانځل بدعت دی او دا چې د فضیلت په اړه یې کوم حدیثونه راغلي ټول ضعیف او ځینې یې موضوعي دي، پدې علماوو کې حافظ ابن رجب په خپل کتاب: (لطائف المعارف) کې دې ته اشاره کړې، او نورو علماوو هم دا کار کړی دی، بل دا چې په ضعیف حدیث یوازې په هغو عباداتو کې عمل کیږي چې اصل یې په نورو صحیحو دلایلو سره ثابت شوی وي. او د شعبان د نیمایي میاشتې د شپې لمانځل کوم صحیح اصل نه لري چې سړی پرې د ضعیفه حدیثونو له لارې قناعت وکړي، دا عظیمه قاعده شیخ الاسلام أبو العباس ابن تیمیة رحمه الله ذکر کړې ده.

او ګرانه لوستونکیه! زه درته پدې مسأله کې د ځینو علماوو ویناوې راوړم، تر څو درسره پدې اړه دلیل ولرې.

د علماوو -رحمهم الله- پدې اجماع ده چې هغه مسایل چې خلک یې په اړه اختلاف لري، د الله -جل جلاله- کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت ته ورګرځول یې واجب دي، نو په هر څه چې دواړو یا یو یې فیصله وکړه همغه شریعت دی چې پیروي یې واجب ده، او څه شی چې د دې دواړو خلاف و نو پرېښودل یې واجب دي، او پدې دواړو کې چې کوم عبادات نه دي راغلي نو هغه بدعت دي او کول یې روا نه دي، دا خو لا پرېږده چې بلنه ورکړل شي او خوښ وګڼل شي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا ٥٩﴾

ژباړه: (ای مومنانو! د الله حکم ومنئ! او د رسول ومنئ! او د خپلو چارواکو، نو که په څه کی مو سره شخړه راغله نو الله او رسول ته یې ور وګرځوئ، که (رښتیا) تاسو په الله او د آخرت په ورځ ایمان لرئ، دا غوره او په انجام کې ډېره ښه ده). [النساء سورت: ۵۹ ایت]، او الله تعالی فرمایلي:

﴿وَمَا ٱخۡتَلَفۡتُمۡ فِيهِ مِن شَيۡءٖ فَحُكۡمُهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ...﴾

﴿ ژباړه: (او تاسو چې په څه کې اختلاف کوئ نو پرېکړه یې د الله په لور ده...) [الشوری سورت: ۱۰ آیت]. او الله تعالی

فرمايلي دي:

﴿قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡ...﴾

ژباړه: (اى پيغمبره! خلكو ته) ووايه: كه تاسې په رښتيا له الله سره مينه لرئ نو زما د پيروى لاره غوره كړئ، الله به له تاسې سره مينه وكړي او ستاسې خطاوې به دروبخښي...) [آل عمران سورت: ۳۱ ايت]. او الله جل جلاله فرمايلي:

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجٗا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمٗا ٦٥﴾

ژباړه: (نو، نه، قسم دى په رب چې تر هغه نه شي مومنان كېدلى چې خپل منځي شخړو كې دې فيصله كوونكى ونه ټاكي، بيا ستا له پرېكړې په زړونو كې څه خپګان هم ونه مومي او ښه پخه يې ومني). [النساء سورت: ۶۵ آيت]. ډېر آيتونه شته چې همدا معنى لري، او دا د اختلافي مسألو په اړه اړتيا ده چې قرآن او سنت ته ورو‌ګرځول شي او په پرېكړه يې خوښي وښودل شي، او همدا د ايمان غوښتنه او په دنيا او اخرت كې د بندګانو لپاره او د انجام له اړخه غوره دى.

حافظ ابن رجب - رحمه الله - په خپل كتاب (لطائف المعارف) كې د دې مسألې په اړه - له مخكيني بحث وروسته - فرمايلي:

«د شام تابعينو؛ لكه: خالد بن معدان، مكحول، لقمان بن

عامر او نورو به د شعبان د نيمايي شپې درناوی کاوه او پدې شپه به يې په عبادت کې زيار ويسته، او له همغوی څخه يې خلکو فضيلت او تعظيم زده کړی دی، او داسې ويل شوي چې هغوی ته پدې اړه اسراييلي روايتونه رسيدلي و، او کله چې دا خبره په هيوادونو کې د دوی په اړه مشهوره شوه، نو په اړه يې په خلکو کې مخالفت پيدا شو، ځينو يې دا خبره له دوی څخه ومنله او د دوی سره يې د هغې په تعظيم موافقه راغله، چې په دې کې د بصرې يوه ډله عابدان او ځينې نور خلک وو، دا خبره د حجاز ډېری علماوو رد کړې ده په شمول د: عطاء، ابن ابي مُليکه، او عبدالرحمن بن زيد بن اسلم د مدينې له فقهاوو رانقل کړې ده، او دا د امام مالک د پيروانو او ځينو نورو وينا ده او ويلي يې دي چې دا ټول بدعت دی.

د شام علماء يې د لمانځلو د طريقې په اړه دوه قوله لري:

يو يې داسې دی چې: په جوماتونو کې يې په ډلييزه توګه لمانځل مستحب دي، او خالد بن معدان، لقمان بن عامر او نورو به پکې ښايسته جامې اغوستې، خوشبويي به يې لګوله او رانجه به يې کول او ټوله شپه به يې په جومات کې په قيام تېروله، او اسحق بن راهويه ورسره هم پدې اړه موافق دی. او په جوماتونو کې يې د جماعت سره د دې د ترسره کولو په اړه ويلي چې: دا بدعت نه دی، دا خبره حرب الکرماني په خپلو مسائلو کې رانقل کړې ده.

او دويم: په جوماتونو کې د لمانځه، کيسو او دعاګانو لپاره راټوليدل مکروه دي، مګر دا مکروه ندي چې يو سړی په جومات کې ځانته لمونځ وکړي، دا د الاوزاعي وينا ده، چې د

شام د خلکو امام، فقیه او د دوی عالم دی، او همدا (حق ته) تر ټولو نږدې نظر دی، إن شاء الله تعالی». تر دې چې وېلي: «د امام احمد څخه د شعبان د نیمايي شپې په اړه کومه وینا نده پېژندل شوې، او د قیام د مستحب والي په اړه يې له هغه څخه دوه روايتونه کیږي: له هغو دوو روايتونو څخه د دوو اخترونو په شپو کې قیام دی چې په (یو روایت کې) هغه په جماعت سره قیام مستحب نه دی ګڼلی؛ ځکه چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه له اصحابو څخه ندی نقل شوی، او په (یو بل روایت کې ) يې مستحب ګڼلی، ځکه چې عبد الرحمن بن یزید بن الأسود کړی دی، او هغه تابعي دی، نو همدا رنګه د شعبان د نیمايي شپې قیام هم دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو څخه پکې کوم څه ثابت نه دي، خو د شام د فقهاوو د تابعينو له یوې ډلې څخه پکې ثبوت شته».

د حافظ ابن رجب رحمه الله د خبرو مطلوبه معنی پای ته ورسېده، چې په ځرګنده توګه وايي چې له پيغمبر صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه د شعبان میاشتې د نیمايي شپې (د برات شپې) په اړه هيڅ شی ثابت نه دی.

هغه څه چې اوزاعي -رحمه الله- د افرادو لپاره د قیام په اړه انتخاب کړي او ابن رجب چې دا وینا غوره کړې، نو دا قول نا اشنا او کمزوری دی؛ ځکه هر شی چې په شرعي دلایلو يې مشروعیت ثابت نه وي، مسلمان ته روا نه دي چې د الله په دین کې يې نوی له ځان څخه وزیږوي، برابره خبره

ده كه يوازې يې كړې وي او يا په ډله كې، يا دا چې پټ يې ادا كړې وي يا په ښكاره، دليل يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وينا عموميت دى چې فرمايي:

«مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيهِ أَمْرُنَا؛ فَهُوَ رَدٌّ».

ژباړه: «كه څوک كوم كار وكړي او زمونږ د دين امر پرې نه وي، هغه مردود دی». او داسې نور دلائل چې د بدعتونو د انكار او د هغوی په وړاندې د خبرداري ښودنه كوي.

او امام ابوبكر طرطوشي - رحمه الله - په خپل كتاب «الحوادث والبدع» كې داسې ويلي:

«او ابن وضاح له زيد بن اسلم څخه روايت كړی وايي چې: موږ له خپلو شيخانو يا فقهاوو څخه هيڅوک ونه موندل چې د شعبان د مياشتې منځنۍ برخې ته يې پاملرنه كړې وي، يا يې د مكحول حديث ته پاملرنه كړې وي، او نه دې شپې ته پر نورو په كوم فضيلت قايل وو».

او ابن ابى مليكة ته وويل شو چې: زياد النميري وايي: «د شعبان د نيمايي مياشتې د شپې اجر لكه د قدر د شپې په څېر دی». هغه وويل: «كه مې ترې اوريدلي وای او زما په لاس كې امسا وی نو مخامخا به مې وهلی و» او زياد يو قصه ويوونكی و، مقصوده وينا پای ته ورسيده.

او علامه شوكاني - رحمه الله - په «الفوائد المجموعة» كې داسې فرمايلي:

ژباړه: دا حديث: «ای علي چا چې د شعبان د مياشتې په

نیمايي کې د شپې سل رکعته لمونځ وکړ؛ چې په هر رکعت کې فاتحه او: (قل الله احد) لس ځلې ووايي؛ نو الله به يې هره اړتیا پوره کړي»، تر اخره. موضوعي حدیث دی، او دا چې د ثواب په اړه پکې کوم صراحت شوی، نو هر انسان چې تمیز ولري په جعلي توب کې يې شک نه کوي، او رجال يې نامعلوم دي، او په دویم او دریم سند هم روایت شوی چې ټول موضوعي دي او راویان يې مجهول دي. او په : «المختصر»: کې راغلي چې: د شعبان د میاشتې د نیمايي په اړه حدیث باطل دی، او ابن حبان د علي له حدیث څخه چې فرمايي: کله چې د شعبان د نیمايي میاشتې شپه شي نو شپه يې په قیام او ورځ يې په روژه تېره کړئ) ضعیف دی. او په: «اللآلئ» کې : «د شعبان د میاشتې په نیمايي کې لس ځلې په سورت اخلاص سره سل رکعته لمونځ کول» د اوږدوالي د فضیلت سره چې دیلمي او نورو روایت کړی، موضوعي دی او په درې واړو طریقو کې يې جمهور راویان ناپېژندل شوي او ضعیف دي. وايي: «او دیرش ځلې په سورت اخلاص سره دولس رکعته» موضوعي دی، او «څوارلس رکعته» موضوعي دی.

د فقهاوو یوه ډله د دې حدیث له امله دوکه شوې ده لکه: د (الإحیاء) لیکوال او نور، همدارنګه ځینې مفسرین، او د دې شپې لمونځ - یعنې: د شعبان د نیمايي شپې - په بېلابېلو طریقو روایت شوی، چې ټول يې باطل او جعلي دي، دا د ترمذي د روایت خلاف نه دی چې د عایشې -رضی الله عنها- له حدیث څخه اخیستل شوی چې هغه -صلی الله علیه وسلم- بقیع ته تللی، او په نیمه شپه کې د دنیا آسمان ته د رب تبارک وتعالی

نزول، او دا چې هغه د بنو کلب (قبیلې) د پسونو د ویښتانو له شمېر څخه زیاتو خلکو ته بخښنه کوي، ځکه وینا یوازې پدې شپه کې د دې موضوعي لمانځه په اړه ده. چې د عایشې - رضي الله عنها- دا حدیث ضعیف او منقطع دی، لکه څنګه چې د علي حدیث دی چې مخکې یې د هغې شپې د لمانځه په اړه یادونه وشوه چې دا لمونځ موضوعي دی، د هغه ضعف له امله چې یادونه یې وشوه» مقصد دلته پای ته ورسید.

او حافظ العراقي ویلي: «د شعبان د نیمایي میاشتې د شپې د لمانځه په اړه حدیث په رسول الله صلی الله علیه وسلم جوړ شوی او پر هغه دروغ ویل دي». او امام النووي په کتاب: (المجموع) کې ویلي: (هغه لمونځ چې د رغائب د لمانځه په نوم یادیږي، چې د رجب د لومړۍ جمعې په شپه د ماښام او ماسخوتن ترمنځه دولس رکعته دی، او د شعبان د نیمایي شپې لمونځ چې سل رکعته دی، دا دوه لمونځونه د غندنې وړ بدعتونه دي، او څوک باید د (قوت القلوب) او (احیاء علوم الدین) په کتابونو کې د دوی د ذکر له امله دوکه نشي ... او نه هم په دوی کې په ذکر شوي حدیث، ځکه هغه ټول باطل دي، او په ځینو هغو امامانو باید څوک دوکه نه شي چې د حکم په اړه یې مغشوش دي او د مستحب والي په اړه یې څو ورقې لیکلي دي، ځکه هغه پدې کې غلط شوی دی).

او شیخ امام ابو محمد عبدالرحمن بن اسماعیل المقدسي د هغوی د بطلان په اړه یو ارزښتناک کتاب لیکلی، چې ښه او غوره لیکنه یې کړې ده، او پدې مساله کې د علماوو ویناوې زیاتې دي او که وغواړو پدې مساله کې ټولې ویناوې دلته

رانقل کړو نو خبره به اوږده شي نو، شاید هغه څه چې موږ يې یادونه کړې ده، د حقیقت غوښتونکي لپاره کافي او قانع کوونکې وي.

له پورته آیتونو، احادیثو او د علماوو له ویناوو څخه، د حق غوښتونکي ته روښانه کیږي چې د شعبان د میاشتې د نیمې شپې لمانځل په لمانځه یا نورو شیانو سره، او د هغې ورځې روژه نیول د ډیری عالمانو په وینا یو د غندلو وړ بدعت دی، او په پاکیزه شریعت کې هیڅ اساس نلري، بلکې دا هغه څه دي چې د صحابه کرامو -رضي الله عنهم- له دورې وروسته په اسلام کې راپیښ شوي دي، او د حق غوښتونکي لپاره په دې او نورو مواردو کې د الله جل جلاله دا قول بسنه کوي چې فرمايي:

﴿...ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ...﴾

ژباړه: (...نن مې ستاسو دین درته پوره کړی...) [المائدة سورت: ۳ ایت]. او پدې معنا سره چې کوم آیتونه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیثونه راغلي په لاندې ډول دي:

«مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ».

ژباړه: «چا چې زموږ په دین کې نوښت وکړ، چې له دین څخه نه وي، هغه مردود دی». او کوم حدیثونه چې په دې معنا سره راغلي.

په صحیح مسلم کې له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«لَا تَخُصُّوا لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ بِقِيَامٍ مِنْ بَيْنِ اللَّيَالِي، وَلَا تَخُصُّوا يَوْمَهَا بِالصِّيَامِ مِنْ بَيْنِ الْأَيَّامِ، إِلَّا أَنْ يَكُونَ فِي صَوْمٍ يَصُومُهُ أَحَدُكُمْ».

ژباړه: «تاسو د جمعې شپه د لمانځه او ورځ یې د روژې لپاره مه ځانګړې کوئ، مګر دا چې په داسې ورځ راشي چې تاسو پکې روژه کیږئ». نو که چیرته دا روا وای چې یوه ځانګړې شپه د کوم ډول عبادت لپاره خاص شي، نو د جمعې شپه به د بلې هرې شپې په پرتله ډیره غوره وای؛ ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیث پر بنا یې ورځ تر ټولو غوره ورځ ده چې لمر پرې راختلی. نو کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې شپو څخه د یوې شپې د لمانځه لپاره د ځانګړي کولو په اړه خبرداری ورکړی، دا په ګوته کوي چې نورې شپې په طریقه اولی سره روا نه دي، او په هیڅ عبادت سره یې ځانګړي کول روا نه دي، مګر دا چې د تخصیص په اړه یې صحیح دلیل شتون ولري.

او کله چې د قدر شپه او د رمضان شپې؛ هغه شپې دي چې قیام او زیار ویستل پکې روا دي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته د خلکو پام اړولی او په عبادت سره تېرولو ته یې هڅولي او دا کار یې خپله هم کړی دی، لکه په صحیحینو کې چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت دی چې هغه فرمایلي:

«مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ، وَمَنْ

قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ».

ژباړه: «څوک چې د روژې میاشت د ایمان او ثواب په نیت په عبادت سره تېره کړي پخواني ګناهونه به يې وبښل شي، او څوک چې د قدر شپه د ایمان او ثواب په نیت په عبادت تېره کړي، د هغه پخواني ګناهونه به وبښل شي». نو که چېرته د شعبان د نیمايي شپه، یا د رجب د لومړۍ جمعې شپه، یا د اسراء او معراج شپه د لمانځلو یا د کوم ډول عبادت لپاره ځانګړې کېده، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به يې په اړه خامخا امت ته لارښوونه کړې وه، یا به يې خپله ځانګړې کړې وه، او که له دې کارونو کوم څه شوي وو نو خامخا به صحابه کرامو -رضوان الله علیهم- امت ته رانقل کړي و او هیڅکله به یې دا خبره پټه نه وه ساتلې، حال دا چې هغوی له پیغمبرانو علیهم السلام وروسته غوره خلک او زیات نصیحت کوونکي دي، او الله تعالی دې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ملګرو څخه راضي شي او هغه له دوی څخه راضي دی.

او تاسو د علماوو له خبرو پوه شوئ چې د رجب (بزرګې میاشتې) لومړۍ جمعه د شپې او د شعبان (برات) پنځلسمې د فضیلت په اړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو -رضوان الله علیهم- څخه هیڅ شی ثابت نه دی، نو ښکاره شوه چې لمانځل يې په اسلام کې یو نوی رامنځته شوی بدعت دی، او همدا رنګه یې په یو عبادت سره ځانګړې کول د غندلو وړ بدعت دی، همدا رنګه د رجب (بزرګې) د میاشتې اووه ویشتمه شپه، چې ځینې خلک یې د اسراء او معراج شپه ګڼي، په هیڅ عبادت سره يې ځانګړې کول روا نه دي، او د

تېرو دلايلو پر بنسټ يې لمانځل هم روا نه دي، دا که چېرته معلومه وي، او دا خو لا پرېږده چې د علماوو د صحيحو ويناوو پر بنسټ نا معلومه ده. او د هغه چا وينا چې وايي: چې هغه د رجب (بزرگې) د مياشتې اوه ويشتمه شپه ده، باطل قول دی چې په صحيحو احاديثو کې هيڅ بنسټ نه لري، او چا څه ښه ويلي:

تر ټولو غوره شيان هغه دي چې په لارښوونو ولاړ وي ... او تر ټولو بد شيان هغه دي چې نوي او بدعت وي.

له الله جل جلاله څخه سوال کوو چې موږ او ټولو مسلمانانو ته په سنتو د منګولو لګولو او پرې ثابت پاتې کېدلو توفيق راکړي، او له هغه څه مو وساتي چې د دې خلاف وي، هغه سخي او مهربان ذات دی.

وصلى الله وسلم على عبده ورسوله نبينا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

***

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

## اتم پيغام:

## د منسوب شوي وصيت د دروغوالي په اړه مهم خبرداری

### د مسجد نبوي د خادم؛ شيخ احمد

د عبدالعزيز بن عبدالله بن باز له خوا له مسلمانانو څخه هر هغه چا ته چې دا لولي، الله تعالی دې دوی په اسلام سره وساتي، او موږ او دوی دې د جاهلانو د تورونو له شر څخه وساتي، آمين.

سلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

أَمَّا بَعْدُ:ما د مسجد نبوي خادم شيخ احمد ته منسوبه يوه وينا ولوستله چې سرليک يې و: (دا له مديني منورې څخه د نبوي مسجد د خادم شيخ احمد پيغام دې) چې پکې يې ويلي:

«زه د جمعې په شپه تر ناوخته ويښ وم او د قرآن کريم تلاوت مې کاوه، او د الله تعالی د ښکلو نومونو له لوستلو چې وزګار شوم د ويده کېدو لپاره چمتو شوم، نو ما داسې يو څوک وليد چې ځليدونکی رابښکاره شو، د الله جل جلاله رسول صلی الله عليه وسلم؛ چا چې مخلوقاتو ته د رحمت په توګه قرآني آيتونه او شريف احکام راوړي دي، زموږ سردار محمد صلی الله عليه وسلم، نو هغه وويل: ای شيخ احمده، ما وويل: لبيک يارسول الله ای د الله تر ټولو عزتمند مخلوقه! نو ماته يې وويل: زه د خلکو د بدو کړنو له امله خجالت يم، او نشم کولی چې له

خپل رب او ملاېکو سره مخ شم؛ ځکه چې له یوې جمعې څخه تر بلې پورې یو لک او شپېته زره کسان په داسې حال کې مړه شول چې اسلام یې نه و راوړی، بیا یې د ځینو هغو ګناهونو یادونه وکړه چې خلک پکې ښکیل شوي دي، بیا یې وویل: دا وصیت پر دوی د غالب او زورور ذات له لورې د رحمت په توګه دی. بیا یې د قیامت ځینې علامې یادې کړې، تر دې چې ویې ویل: شیخ احمده! پر دې وصیت یې خبر کړه، ځکه چې دا د تقدیر په قلم سره له لوح محفوظ څخه رانقل شوی او چا چې ولیکه یا له یو هېواد څخه بل هېواد ته یا یو کور څخه بل کور ته ولیږه، په جنت کې به ورته ماڼۍ ودانه شي، او چا چې ونه لیکه او یا یې و نه لیږه، نو د قیامت په ورځ به زما له شفاعت څخه محروم شي، او چا چې ولیکله او فقیر و، نو الله به یې غني کړي، که قرضداره و، الله به یې قرضونه خلاص کړي او یا یې ګناه کړې وه، الله تعالی به ده ته او د دې مور او پلار ته د دې وصیت په برکت ښښنه وکړي، او د الله تعالی کومو بندګانو چې ونه لېکله نو په دنیا او اخرت کې به مخ تورن وي. او درې ځلې یې وویل: و الله العظیم چې دا حقیقت دی، او که چیرته دې دروغجن وي نو الله تعالی دې له دنیا څخه کافر بوځي، او چا چې رښتیا وګڼله د اور له عذاب څخه به خلاص شي، او چا چې دروغ وګڼله کفر یې وکړ).

دا په رسول الله صلی الله علیه وسلم د دروغو جوړ شوي وصیت لنډیز و،

چې دا په دروغو جوړ شوی وصیت مو څو ځلې له څو کلونو راپدیخوا اوریدلی و چې د خلکو په منځ وخت په وخت

خپریده، او د عامو خلکو تر منځه ډیر خپور شوی و، او په الفاظو کې یې توپیر شتون لري، او په دروغو جوړوونکی یې وایي چې: هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم په خوب کې لیدلی او دا وصیت یې ورته کړی، او پدې وروستۍ خپره شوې نسخه کې چې تا قدرمن لوستونکي ته مو وړاندې کړه، دروغجن انسان پکې ادعا کړې چې ده رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه مهال ولیده کله یې چې خوب ته چمتووالی نیوه، نو معنا یې دا ده چې هغه په ویښه لیدلی!

دې دروغجن په دې وصیت کې د ډیرو شیانو دعوا کړې ده، چې څرګند دروغ او روښانه باطل دي، چې ژر به د دې وینا له لارې ترې خبر درکړم ان شاء الله، او ما په تېرو کلونو کې هم پدې اړه د خلکو پاملرنه راړولې وه، او خلکو ته مې په ډاګه کړې وه چې دا روښانه دروغ او باطل دي، او کله مې چې دا وروستۍ خپره شوې نسخه ولیده نو په لیکلو کې متردد وم، ځکه چې بطلان یې ښکاره و او جوړوونکو یې د دروغو لوی جرات کړی و، او ما فکر نه کاوه چې باطلوالی به یې د هغه چا لخوا ومنل شي چې لږ بصیرت یا سالم فطرت ولري. خو ډېری وروڼو خبر کړم چې دا د ډېرو خلکو په منځ کې مشهوره شوې او په خپلو کې یې سره شریکه کړې ده او ځینو یې پرې باور درلود، لدې امله، راته مناسب ښکاره شوه چې زما په څېر خلکو ته اړینه ده چې په اړه یې د بطلان په موخه لیکل وکړي او دا چې دا په رسول الله صلی الله علیه وسلم تړل شوي دروغ دي، تر څو پرې څوک دوکه نه شي. او هر هغه څوک چې د علم او ایمان خاوند وي، که په دې

(خبره/موضوع) غور او فکر وکړي، یا سالم فطرت ولري او د روغ عقل خاوندان وي؛ نو پوه به شي چې دا په ډېرو وجوهاتو دروغ او تور تړل دي.

او ما د شیخ احمد له یو خپلوان څخه د دې دروغجن وصیت په اړه پوښتنه وکړه چې شیخ احمد ته یې نسبت کیږي، نو هغه راته په ځواب کې وویل چې دا په شیخ احمد دروغ ویل شوي او هغه هیڅکله ندي ویلي، او یاد شیخ احمد ډېره موده مخکې مړ شوی، او که فرض کړو چې یاد شیخ احمد او یا بل څوک له هغه څخه لوی کس دعوا وکړي چې هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم په خوب کې یا په ویښه لیدلی او پدې وصیت سره یې ورته وصیت کړی، نو موږ به په یقیني توګه په ډېرو وجوهاتو سره پوه شو چې دروغ دي، یا دا چې شیطان ورته ویلي، نه رسول الله صلی الله علیه وسلم:

۱- لومړی وجه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه له وفات نه وروسته په ویښه نه لیدل کیږي، او څوک چې له جاهلو صوفیانو څخه ادعا کوي چې هغه په ویښه پیغمبر صلی الله علیه وسلم ویني، یا دا چې هغه د زوکړې د لمانځلو محفل ته راځي او دې ته ورته باورونه؛ نو هغه تر ټولو بده تېروتنه کوي او له حده زیات دوکه شوی، او په لویه تېروتنه کې ښکېل شوی، او د کتاب، سنت او د علماوو د اجماع مخالفت یې کړی؛ ځکه چې مړي یوازې د قیامت په ورځ له خپلو قبرونو څخه راوځي، نه په دې دنیا کې. او څوک چې د دې خلاف وایي هغه دروغجن دی، او دروغ یې ښکاره دي، یا دوکه باز دی چې دوکه شوی او ګمراه شوی، هغه حق یې ندی پېژندلی

چې سلفو صالحو پېژندلی و، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو -رضوان الله علیهم- او په نیکۍ کې د هغوی پیروان پرې و، الله تعالی فرمایلي:

﴿ثُمَّ إِنَّكُم بَعْدَ ذَٰلِكَ لَمَيِّتُونَ ﴿١٥﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تُبْعَثُونَ ﴿١٦﴾﴾

ژباړه: (بیا له هغه وروسته تاسو هرومرو مړه کېدونکي یاست.

بیا به تاسو هرومرو د قیامت په ورځ راپاڅول کیږئ). [المؤمنون سورت: ۱۵، ۱۶ آیتونه]، او پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرماېلي:

«أَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الْأَرْضُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَأَنَا أَوَّلُ شَافِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ».

ژباړه: «زه لومړی هغه څوک یم چې قبر یې څېرول کیږي او لومړی کس یم چې په قیامت کې به شفاعت کوونکی وي او هغه کس چې شفاعت یې منل کیږي». او په دې معنا سره ډېرې آیتونه او احادیث راغلي دي.

دویمه وجه: رسول الله صلی الله علیه وسلم، د حق پر خلاف هیڅ خبره نه کوي، نه د خپل ژوند او نه هم د خپلې مړینې په اړه. او دا وصیت په ډېری وجوهاتو د هغه د شریعت سره په ډاګه مخالفت لري - کوم چې راتلونکي دي- او هغه صلی الله علیه وسلم ځینې وختونه په خوب کې لیدل کیږي،

چا چې هغه مبارک په خوب کې ولیده نو هغه یې لیدلی دی. ځکه چې شیطان د هغه په څېره نه شي ښکاره کېدلی، لکه څنګه چې په صحیح حدیث کې راغلي دي، خو ټوله خبره د هغه چا په ایمان، ریښتیولی، عدالت، یادداښت، دینداری او امانت کې ده چې هغه -صلی الله علیه وسلم- یې په خپل شکل کې لیدلی او یا په بل کې.

که چېرته له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه کوم حدیث راغلی و چې هغه په خپل ژوند کې ویلي و، خو راویان یې ثقه، عادل، د ضبط خاوندان نه وي، نو باور پرې نه کیږي او نه د ثبوت په توګه کارول کیږي، یا دا چې د ثقه راویانو او د ضبط د خاوندانو له لارې روایت شوی وي خو د هغه چا د روایت خلاف وي چې له هغه څخه په حفظ کې پیاوړی او ثقه وي او مخالفت یې په دومره کچه وي چې د دواړو روایتونو جمع کول ناشوني وي، نو یو به یې منسوخ و چې عمل پرې نه کېده، او دویم به یې ناسخ و چې عمل پرې کېده، چې دا کار د هغه د شروطو له امله ممکن و، او که چیرته یې تر منځه جمع او یا نسخ ممکن نه وه نو د هغه چا د روایت لرې کول واجب دي چې حفظ یې لږ وي، عدالت یې کم، او دا حکم پرې کول چې دا شاذ دی عمل پرې نه کیږي.

نو د داسې وصیت به څه حال وي چې هغه خاوند یې نامعلوم دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه رانقل کړی او د راوي عدالت او امانتداري هم معلومه نه ده، نو په داسې حال کې خو حقیقت دا دی چې باید له پامه وغورځول شي او هیڅ پاملرنه ورته ونه شي، حتی که هیڅ شی یې د

شریعت سره په ټکر کې نه وي، دا خو لا پرېږده چې ډېری داسې څه پکې دي چې بطلان يې په ګوته کوي او د الله په رسول صلی الله علیه وسلم د دروغو تړل شوی وصیت دی او داسې یو قانون پکې دی چې الله جل جلاله یې اجازه نه ده ورکړې؟

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«مَنْ قَالَ عَلَيَّ مَا لَمْ أَقُلْ؛ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ».

ژباړه: «چا چې پر ما داسې یو څه وویل چې ما نه وي ویلي؛ نو په دوزخ کې دې خپل ځای وټاکي». او په دروغو د دې وصیت جوړونکي په رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه څه ویلي چې هغه نه دي ویلي، او په ښکاره توګه جدي دروغ يې پرې ویلي، نو که په بېړه توبه ونه باسي او خلک بېرته د دې وصیت له دروغولی خبر نه کړي چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم یې ویلي دي، نو شک نشته چې په لویه پیمانه د دې خطرناک ګواښ مستحق او حقدار شي! ځکه څوک چې په خلکو کې دروغ خپروي او دین ته یې نسبت ورکوي؛ د هغه توبه تر هغه وخته پورې نه قبلیږي چې هغه دروغ ښکاره نه کړي او خلکو ته یې په ډاګه نه کړي، ترڅو خلک پوه شي چې دروغ دي او بېرته تړې وګرځي، او دا دروغجن خپله دروغولي اعلان کړي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡتُمُونَ مَآ أَنزَلۡنَا مِنَ ٱلۡبَيِّنَٰتِ وَٱلۡهُدَىٰ مِنۢ بَعۡدِ مَا بَيَّنَّٰهُ لِلنَّاسِ فِي ٱلۡكِتَٰبِ أُوْلَٰٓئِكَ يَلۡعَنُهُمُ ٱللَّهُ وَيَلۡعَنُهُمُ

ٱللَّٰعِنُونَ﴿١٥٩﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ وَأَصۡلَحُواْ وَبَيَّنُواْ فَأُوْلَٰٓئِكَ أَتُوبُ عَلَيۡهِمۡ وَأَنَا ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ﴿١٦٠﴾﴾

ژباړه: (بېشکه کوم کسان چې زموږ نازلې کړل شوې روښانه لارښوونې او هدایات پټوي پس له هغه چې موږ هغه خلکو (بني اسرائیلو) ته په کتاب (تورات) کې روښانه کړل، دا هغه کسان دي چې الله پرې لعنت وایي او لعنت ویونکي (ملایکې، انسانان، پېریان او نور مخلوقات) هم پرې لعنت وايي.

مګر هغه کسان چې توبه یې وویستله (له شرکه او پټولو د نعمت څخه) او ځانونه یې جوړ (اصلاح) کړل او (هغه څه یې چې پټول) هغه یې بیان کړل، نو دا هغه کسان دي چې زه به ورته بخښنه وکړم او زه ښه توبه قبلوونکی، همیشه رحم کوونکی یم). [البقرة سورت: ١٥٩، ١٦٠ ایتونه]، نو، الله تعالی په دې مبارک آیت کې په ډاګه کړې: څوک چې له حق څخه یو څه پټ کړي، توبه یې نه صحیح کېږي مګر له سمونتیا او ښکاره کولو وروسته، او الله تعالی خپلو بندګانو ته دین بشپړ کړی او خپل نعمت یې پرې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لېږلو او د هغه شریعت په بشپړولو سره پوره کړی دی چې الله تعالی یې ورته وحې کړې ده او هغه وخت یې وفات کړی چې دین یې ورته بشپړ او ښکاره کړی، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿...ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي

وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗا...﴾

ژباړه: (...نن ورځ مې ستاسو دين درته پوره کړی، خپل نعمت مې درباندې تمام کړی او همدغه اسلام مې ستاسو د دين په توګه درته غوره کړی دی...) [المائدة سورت: ٣ ايت].

او د دې دروغجن وصيت جوړونکی په څوارلسمه پيړۍ کې راغلی، او غواړي چې خلک په يوې نوې عقيدې سره دوکه کړي، چې په پايله کې به يې هغه څوک جنت ته ځي چې د هغه پر دين عمل وکړي، او هغه څوک به په جنت حراموي او اور ته به يې ننباسي چې شريعت يې ونه مني. او غواړي چې دې وصيت ته له قرآن څخه لوی حيثيت ورکړي، ځکه په اړه يې ويلي چې: چا وليکله او له يو هېواد څخه يې بل ته وليږله، يا يې له يو کور څخه بل کور ته وليږله؛ نو په جنت کې به ورته ماڼۍ جوړه شي، او چا چې ونه ليکله، يا يې ونه ليږله نو د رسول الله صلی الله عليه وسلم له شفاعت څخه به محروم شي، دا يو له بدو دروغو څخه دی، او د دې وصيت په دروغولۍ، د دې د جوړونکي په بې شرمۍ، په دروغ ويلو يې د لوی جرئت يو له روښانه دلايلو څخه دی؛ ځکه څوک چې قرآن کريم وليکي او له يو هيواد څخه يې بل ته، يا له يو کور څخه يې بل ته ليږدوي او په قرآن عمل ونه کړي دومره فضيلت نه شي تر لاسه کولی، نو څنګه به يې د دې تهمت ليکونکي او له يو هيواد څخه بل هيواد ته ليږدوونکي ته تر لاسه کوي؟ او چا چې قرآن نه وي ليکلی او له يو ښار څخه يې بل ته نه وي ليږدولی، بيا هم د رسول الله صلی الله عليه وسلم له شفاعت څخه نه محروميږي، پدې شرط چې پر هغه

ایمان ولري او د شریعت پیروي یې وکړي. په دې وصیت کې یوازې دا یو تهمت د دې د باطلوالي او د هغې د خپرونکي د دروغو، د هغه د بې ادبۍ، حماقت او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د راوړل شوې لارښوونې له پوهیدو څخه د هغه د لرې والي څرګندونه کوي.

په دې وصیت کې - د هغه څه سربیره چې یادونه یې شوې - نور مسایل هم شته، چې ټول یې باطل والی او دروغ په ګوته کوي، تر دی که جوړوونکی یې په ریښتیاوالي زر قسمونه - یا ډیر - هم وکړي، او یا ځان ته په لوی عذاب او سختې ربړونې سره خبرا هم وکړي چې دی ریښتینی دی، بیا به هم ریښتینی نه وي، او وصیت به یې سم نه وي، بلکې قسم په الله او بیا هم قسم په الله چې تر ټولو لوی او بدتر دروغجن دی او موږ پدې سره الله او حاضرې ملایکې ګواهان ګرځوو. او هر هغه مسلمان ګواه ګرځوو چې دا لیکنه لولي - او داسې ګواهي ورکوو چې د الله جل جلاله سره به پرې د قیامت په ورځ مخ کیږو چې: دا وصیت دروغ او په رسول الله صلی الله علیه وسلم تهمت دی، الله دې هغه څوک ذلیل کړي چې دا یې په دروغ جوړ کړی، او په هغه څه دې ورسره معامله وکړي چې مستحق یې وي.

او پرته له مخکنیو دلایلو نور ډیری دلایل شته چې باطلوالی یې په ګوته کوي لکه:

لومړی یې دا وینا چې: (له یوې جمعې څخه تر بلې پورې یو لک او شپېته زره خلک نامسلمانه مړه شوي)؛ ځکه دا وینا له غیبو څخه ده، حال دا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم

له وفات څخه وروسته له هغه نه وحې قطع شوې ده او هغه په ژوند کې هم په غيبو نه پوهېده نو له مړيني وروسته به پرې څنګه پوه شي، دليل يې د الله تعالى دا قول دى:

﴿قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ...﴾

ژباړه: (ووايه زه تاسي ته دا نه وايم چې له ما سره د الله خزانې دي او نه زه د غيبو علم لرم...) [الأنعام سورت: ۵۰ آيت]، او د الله تعالى دغه قول:

﴿قُل لَّا يَعۡلَمُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلۡغَيۡبَ إِلَّا ٱللَّهُ...﴾

ژباړه: (ورته ووايه: په آسمانو او ځمکه کې هيڅوك په غيبو نه پوهيږي مګر الله...) [النمل سورت: ۶۵ ايت]، او په صحيح حديث کې له رسول الله ﷺ څخه روايت دى چې فرمايي:

«يُذَادُ رِجَالٌ عَنْ حَوْضِي يَوْمَ القِيَامَةِ، فَأَقُولُ: يَا رَبِّ! أَصْحَابِي أَصْحَابِي، فَيُقَالُ لِي: إِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ، فَأَقُولُ كَمَا قَالَ العَبْدُ الصَّالِحُ: ﴿وَكُنتُ عَلَيۡهِمۡ شَهِيدٗا مَّا دُمۡتُ فِيهِمۡۖ فَلَمَّا تَوَفَّيۡتَنِي كُنتَ أَنتَ ٱلرَّقِيبَ عَلَيۡهِمۡۚ وَأَنتَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ﴾ [المائدة: ۱۱۷]».

ژباړه: «د قيامت په ورځ به ځيني خلک زما له حوض څخه منع کړى شي، نو زه به ووايم: اى ربه! زما ملګري، زما ملګري. نو ماته به وويل شي: ته نه پوهيږې چې دوى له

تا وروسته څه بدعتونه رامینځته کړي دي. نو زه به هغه ووایم لکه صالح بنده چې ویلي وو: (او زه په دوی باندې ګواه وم تر څو پورې چې زه په دوی کې موجود وم، نو کله چې تا زه واخیستلم (، نو) هم ته پر دوی نګهبان وې او ته په هر شي باندې ګواه یې).

دویم: له هغو دلایلو چې د دې وصیت پر بطلان دلالت کوي، او دا چې دروغ دی، د هغه دا خبره ده چې وایي: (چا چې دا ولیکله او غریب و، نو الله تعالی به یې شتمن کړي، یا پوروړی و، الله تعالی به یې پور ادا کړي، یا یې ګناه کړې وي، الله تعالی به هغه او د هغه مور او پلار ته د دې وصیت له برکته مغفرت وکړي) تر پایه. دا یو له سترو دروغو او د دې د جوړونکي په دروغوالي ښکاره دلیل او د الله تعالی د بندګانو په مخ کې د هغه د بې شرمۍ څرګند ثبوت دی، ځکه چې دا درې شیان یوازې د قرآن کریم په لیکلو سره هم نه تر لاسه کیږي، نو هغه څوک به یې څنګه تر لاسه کړي چې دا دروغجن وصیت یې لیکلی وي! دا خبیث یوازې غواړي خلک مغشوش کړي او پدې وصیت سره یې وتړي؛ تر څو یې ولیکي او په دې ادعا شوي فضیلت ټینګ پاتې شي، او هغه اسباب پریږدي چې الله پاک خپلو بندګانو ته ټاکلي او د شتمنۍ، پورونو ادا کولو او ګناهونو بخښلو لپاره یې وسیله ګرځولي ده. نو موږ د ذلت او د خواهشاتو د اطاعت کولو له اسبابو او شیطان څخه په الله پناه غواړو.

دریم څیز چې د دې وصیت د باطوالي ښودنه کوي د هغه دا وینا ده چې: (او چا چې د الله له بندګانو څخه و نه لیکه؛ نو

په دنيا او اخرت کې به يې مخ تور وي). دا هم يو له تر ټولو بد دروغ دي او د دې وصيت د بطلان او د هغه د جوړونکي د دروغو يو له ځرګندو ثبوتونو څخه دی. څنګه د يو هوښيار انسان په ذهن کې دا جواز لرلی شي چې دا وصيت وليکي، کوم چې په څوارلسمه پيړۍ کې د يو نامعلوم سړي لخوا راوړل شوی او د الله په رسول -صلی الله عليه وسلم- يې جعلي جوړ کړی، او وايي چې چا ونه ليکه نو په دنيا او آخرت کې به يې مخ تور وي، او چا چې وليکه له غريبۍ نه وروسته به شتمن شي، او له هغو پوروڼو نه به خلاص شي پرې اوښتي وو، او کوم ګناهونه يې چې کړي ورته به وبښل شي!

پاکي ده تا لره ای الله، يقينا چې دا لوی بهتان دی!! او شواهد او واقعيت د دې تور پورې کوونکي په دروغو او د الله تعالی پر وړاندې يې په جرأت کولو او له الله څخه په حيا نه کولو شاهدي ورکوي، ځکه ډيری خلک دي چې دا وصيت يې نه دی ليکلی خو مخونه يې تور نه شول، او دا دی ډير خلک شته چې يوازې الله تعالی ته يې شمېر معلوم دی چې په ډيرو ځلو يې دا وصيت ليکلی، نو قرض يې ادا نه شو، او لا غريب پاتې دي، نو د زړونو له اوښتو او زنګ وهلو څخه په الله پنا غواړو. نو دا صفتونه او سزاګانې په شريعت کې د هغه چا لپاره نه دي بيان شوي چې غوره او لوی کتاب؛ قرآن کريم يې ليکلی، نو هغه څوک به يې څنګه ترلاسه کړي چې يو داسې دروغجن وصيت يې ليکلی چې ډول ډول باطل او کفري جملې پکې کارول شوي وي، پاکي ده الله لره!! الله جل جلاله څومره حليم ذات دی چې د داسې يو زړور دروغجن پر

وړاندې صبر کوي.

څلورمه چاره: چې د دې دروغجن وصیت ښکارندوي کوي او د باطلو باطل او ښکاره دروغ یې ثابتوي د هغه دا وینا ده ( او څوک چې پرې باور وکړي له عذاب څخه نجات مومي او چا چې دروغ وګڼله کافر شو). دا هم په دروغ ویلو کې لوی جرأت او تر ټولو ناوړه باطل دی، چې دا دروغجن ټولو خلکو ته بلنه ورکوي تر څو یې په دروغو باور وکړي، او دعوا کوي چې په دې سره خلک له اور څخه نجات مومي او دا چې چا دروغ وګاڼه کافر شو. قسم په الله چې دې دروغجن انسان په الله ډیر لوی دروغ وویل، او قسم په الله چې ناحقه خبره یې کړې ده، ځکه چا چې تصدیق کړ هغه د دې وړ دی چې کافر شي؛ نه هغه څوک چې دروغ یې ګڼلی، ځکه چې تور، باطل او داسې دروغ دي چې هیڅ اساس نه لري، او موږ الله شاهد ګرځوو چې دروغ دي، او دا چې ویونکی یې دروغجن دی، غواړي چې خلکو ته داسې یو دین وښایی چې الله تعالی یې اجازه نه ده کړې، او په دین کې یې داسې یو څه ورګډ کړي چې له هغه څخه نه وي، حال دا چې الله تعالی دې امت ته لدې نه څوارلس پیړۍ وړاندې خپل دین پوره او بشپړ کړی، نو، لوستونکو ورونو، خبردار اوسئ، او په داسې درواغجنو خبرو باور مه کوئ او په خپلو منځونو کې یې مه خپروئ، ځکه حق داسې یوه رڼا لري چې لټونکی یې په پېدا کولو کې نه غلطیږي، نو حق په خپلو شواهدو سره ولټوئ او له علماوو څخه د هغه څه په اړه پوښتنه وکړئ چې تاسو ته ناڅرګند وي او د درواغجنو په قسمونو ونه غولیږئ، ځکه

چې لعنتي ابلیس ستاسو مور او پلار؛ آدم او حوا ته قسم خوړلی و چې هغه د دوی یو له مخلصو نصیحت کوونکو څخه دی، حال دا چې هغه تر ټولو لوی غدار او تر ټولو لوی دروغجن دی، لکه چې الله تعالی د هغه په اړه فرمایلي:

﴿وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ٢١﴾

ژباړه: (او قسم یې وخوړ چې زه مو خیر غوښتونکی یم). [الأعراف سورت: ۲۱ ایت]. نو له هغه سره محتاط اوسئ او له دروغجنو پلویانو یې ډډه وکړئ؛ ځکه چې هغه او دوی په دروغو زیات قسمونه خوري، ژمنې ماتوي، خلکو ته پستې خبرې کوي تر څو یې ګمراه کړي! او هغه څه چې دې دروغجن انسان یې د منکراتو د راڅرګندیدو په اړه یادونه کړې یو حقیقت دی چې قرآن کریم او پاکیزه سنت یې په اړه ټینګ خبرداری ورکړی، او په دوی دواړو کې لارښوونه او کفایت دی.

او د قیامت د نښانو په اړه یې چې کومه وینا کړې ده نو په نبوي احادیثو کې یې په اړه یادونه شوې او قرآن کریم هم ځینو هغو ته اشاره کړې ده، نو که څوک غواړي په اړه یې پوه شي، نو د سنت په کتابونو، د علم او ایمان د خاوندانو په تالیفاتو کې دې په اړه پلټنه وکړي، او خلک د داسې درواغو او غولوونکوویناوو بیانولو ته اړتیا نه لري چې د خلکو د دوکه کولو لپاره پکې حق له باطل سره ګډ شوی وي. الله تعالی دې ما، تاسو او ټول مسلمانان د شیطانانو له شر، د ګمراهانو له وسوسو، د ګمراهانو له انحراف او د الله تعالی د دروغجنو

دښمنانو له دوکې څخه وساتي؛ هغه کسان چې غواړي د الله رڼا په خپلو خولو سره مړه کړي او خلک د خپل دین په اړه مغشوش کړي، حال دا چې الله تعالی خپلې رڼا لره بشپړوونکی او د خپل دین ملاتړ کوونکی دی، حتی که د الله دښمنان چې شیطانان، او له کافرانو او ملحدانو څخه یې پیروان له دې څخه کرکه ولري. او موږ له الله تعالی څخه سوال کوو چې د مسلمانانو حالات سم کړي، او پر دوی له حق څخه د پیروۍ او پرې ثابت پاتې کېدلو لورینه وکړي او له ټولو ګناهونو څخه الله -جل جلاله- ته د توبې وېستلو توان ورکړي، بېشکه چې هغه ذات توبه قبلوونکی، مهربان او پر هرڅه ځواکمن دی. او زموږ لپاره الله تعالی کافي دی، او نشته له ګناه څخه ګرځېدل او نه ځواک مګر د الله په توفیق.

والحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على عبده ورسوله الصادق الأمين، وعلى آله وأصحابه وأتباعه بإحسان إلى يوم الدين.

***

بِسْمِ اللهِ الرَّحمَنِ الرَّحِيمِ

## نهم پېغام:

## د جادو، کوډګرۍ او هغه څه حکم چې تړاو ورسره لري[1]

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد:

په دې وروستيو کې د کوډګرو زياتوالي ته په ليدو چې د طب پوهنې دعوا لري او د جادو او يا کوډو له لارې درملنه کوي، په ځينو هيوادونو کې د دوی خپرېدل او د خلکو د ناپوهۍ څخه ګټې اخېستو ته په ليدو، ما وپتېله چې د الله تعالى د رضا لپاره، د هغه بندګانو ته دا موضوع روښانه کړم، او هغه څه چې د اسلام او مسلمانانو لپاره ستر ګواښ دی څرګند کړم؛ ځکه چې په دې کې له الله تعالى پرته له بل څه سره تعلق پيدا کول، او د الله تعالى او د هغه د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د امر خلاف عمل کول دي.

نو د الله تعالى په مرسته پيل کوم او وايم چې: درملنه جواز لري، او مسلمان کولی شي د داخله، جراحۍ، او عصبي يا ورته ناروغيو لپاره ډاکټر ته ورشي؛ ترڅو يې ناروغي تشخيص شي او د شريعت مطابق يې په مجاز درملو سره درملنه وشي، البته پر هغه څه سره چې د طب په علم کې پيژندل شوي دي؛ ځکه چې دا د عادي اسبابو کارول دي او

1 دا وصيت په ۱۴۰۲ هجري قمري کال د علمي څېړنو، افتا، دعوت او ارشاد څانګو د عمومي رياست لخوا په ۱۷ ګڼه کتابچه کې خپور شوی دی.

په الله تعالی د توکل سره مخالفت نه لري، الله تعالی چې ناروغي رالیږلې، نو درمل یې ورسره رالیږلي دي، څوک چې پرې پوهېږي هغه پوهېږي او څوک چې پرې نه پوهېږي هغه نه پوهېږي، خو الله تعالی خپلو بندګانو ته په حرامو کې شفا نه ده اېښودلې.

نو ناروغ ته روا نه دي هغو کوډګرو ته ورشي چې په غیبو د پوهیدو دعوا لري ترڅو ترې د خپلې ناروغۍ په اړه معلومات ترلاسه کړي، همدارنګه جواز نلري په هغه څه باور وکړي چې دوی یې ورته وایي، ځکه هغوی له غیبو خبرې کوي، او یا پېریان رابلي او له هغوی څخه د خپلو غوښتنو د پوره کولو لپاره مرسته غواړي، نو پر غیبو د پوهېدلو په ادعا سره دوی کافر او ګمراهان دي.

مسلم په خپل صحیح کې روایت کړی چې نبي کریم -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي:

«مَنْ أَتَى عَرَّافًا فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ، لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلَاةٌ أَرْبَعِينَ يَوْمًا».

ژباړه: «څوک چې کاهن -غیب ویونکي- ته لاړ شي او له هغه څخه د څه شي پوښتنه وکړي نو څلویښت ورځې یې لمونځ نه قبلیږي».

او له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«مَنْ أَتَى كَاهِنًا فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ، فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ ﷺ».

ژباړه: «څوک چې کوډګر ته ورشي او په هغه څه کې يې ريښتينی وګڼي چې هغه يې وايي، نو پر هغه څه يې کفر وکړ چې پر محمد صلی الله عليه وسلم نازل شوي دي» دا حديث ابو داود نقل کړی او د څلورو سننو خاوندانو هم روايت کړی دی، او حاکم په صحيح روايت سره د پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه په دې الفاظو رانقل کړی دی:

«مَنْ أَتَى عَرَّافًا أَوْ كَاهِنًا فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ، فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ ﷺ».

ژباړه: «څوک چې فال بين يا کاهن ته ورشي او په هغه څه کې يې ريښتينی وګڼي چې هغه يې وايي، نو پر هغه څه يې کفر وکړ چې پر محمد صلی الله عليه وسلم نازل شوي دي».

له عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:

«لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَطَيَّرَ أَوْ تُطُيِّرَ لَهُ، أَوْ تَكَهَّنَ أَوْ تُكُهِّنَ لَهُ، أَوْ سَحَرَ أَوْ سُحِرَ لَهُ، وَمَنْ أَتَى كَاهِنًا فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ، فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ ﷺ».

ژباړه: «هغه څوک زمونږ څخه ندی چې بد پالي نيسي او يا ورته بد پالي کيږي، يا کهانت کوي او يا ورته کهانت کيږي، يا کوډې کوي او يا ورته کوډې کيږي، او څوک چې غيب ويونکي ته راشي او په هغه څه کې يې تصديق وکړي چې

هغه يې وايي، نو پر هغه څه يې کفر وکړ چې پر محمد صلی الله عليه وسلم نازل شوي دي». بزار په جيد سند سره روايت کړی دی.

نو په دې مبارکو حديثونو کې: غيب ويونکو، کوډګرانو، جادوګرو او ورته نورو کسانو ته له ورتللو، له هغوی څخه سوال کولو او د هغوی له تصديقولو څخه منع راغلې او په اړه يې ورته په عذاب سره ګواښ شوی دی.

دا جواز نلري چې په ځينو چارو کې د دوی په رښتيا ويلو او يا د ګڼ شمېر خلکو په ورتګ سره ځوک دوکه شي؛ ځکه دوی ناپوهان دي او پر هغوی غولېدل روا نه دي؛ ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم هغوی ته له ورتګ، له هغوی څخه د پوښتنې کولو او د هغوی د خبرو له تصديق کولو څخه منع کړې ده؛ ځکه چې په دې کې لوی منکر، ستر خطر او ناوړه پايلې پرتې دي، او ځکه چې دوی درواغجن او فاجران دي.

همدارنګه په دې حديثونو کې د کاهن او جادوګر د کفر دليل شتون لري، ځکه چې دوی دواړه پر غيبو د پوهېدو ادعا لري او دا کفر دی، او ځکه چې دوی يوازې خپلو اهدافو ته د رسېدو لپاره د پېريانو خدمت او عبادت کوي پرته له الله تعالی څخه، او دا په الله تعالی کفر او ورسره شرک کولو ته لاره هواروي، نو ځوک چې د دوی پر غيبو د پوهېدو په ادعا کې هغوی رښتني وګڼي، هغوی به هم د دوی په څېر وي، او ځوک چې دا ډول کارونه له هغو کسانو څخه زده کړي چې دا کارونه کوي، پيغمبر صلی الله عليه وسلم له هغوی څخه

بېزاري اعلان کړې ده.

او د مسلمان لپاره روا ندي پر هغه څه درملنې ته غاړه کېږدي چې دوی يې درملنه ګڼي، لکه په پخوانيو ليکنو کې طلسمي خطونه، يا ويلی شوي مرده کي (ليډ) او داسې نور مزخرفات چې دوی پرې پوهيږي، ځکه دا کوډې او د خلکو دوکه کول دي، او څوک چې پرې راضي شول نو يقينا چې په باطل او کفر کې يې ورسره مرسته وکړه.

همدارنګه هيڅ مسلمان ته روا ندي له دوی وپوښتې چې په راتلونکې کې به خپل زوی ته څوک کوي يا دا چې د بل خپلوان په اړه ترې پوښتنه وکړي، يا د هغه څه په اړه ترې وپوښتې چې د ښځې او خاوند او يا يې د کورنيو تر منځه د محبت او وفادارۍ يا دښمنۍ او جلا کېدو او داسې نورې خبرې دي. ځکه چې دا غيبي چارې دي چې يوازې الله تعالی پرې پوهيږي.

نو حاکمانو، محتسبينو او نورو ټولو هغه کسانو باندې چې ځواک او واکمني لري فرض ده چې د کاهنانو او فال ويونکو او دې ته ورته نورو کسانو له تګ څخه خلک منع کړي او د هغو کسانو مخه ونيسي چې په بازارونو او نورو ځايونو کې په دې کار کې لاس لري، او د هغوی دا کار په کلکه وغندي او همدارنګه هغه کسان دې منع کړي چې دې ډول خلکو ته ورځي.

او جادو هم همداسې دی: يقينا چې له کفري محرماتو څخه دی؛ لکه څرنګه چې الله جل جلاله د دوو ملايکو په اړه فرمايلي:

﴿...وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنۡ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحۡنُ فِتۡنَةٞ فَلَا تَكۡفُرۡۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنۡهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيۡنَ ٱلۡمَرۡءِ وَزَوۡجِهِۦۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنۡ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡۚ وَلَقَدۡ عَلِمُواْ لَمَنِ ٱشۡتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنۡ خَلَٰقٖۚ وَلَبِئۡسَ مَا شَرَوۡاْ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمۡۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ﴾

ژباړه: (..او ښودنه به نه کوله دوی هیچا ته تر هغه پورې چې وبه ویل دواړو بیشکه هم دا خبره ده چې موږ آزموینه (ازمیښت) یو نو مه کافر کیږه (په زده کولو د سحر) نو زده کاوه به هغوی له دوی دواړو نه هغه شی چې بیلتون به یې کاوه په هغه سره په منځ د میړه (خاوند) او ښځې د هغه کې، او نه وو دوی ضرر رسوونکي په دغه سحر سره هیچا ته مګر په اذن (حکم) د الله سره، او زده کوي دوی هغه څه چې ضرر رسوي دوی ته او نفع نه رسوي دوی ته، او هرومرو (خامخا) په تحقیق پوهیدل دوی چې خامخا هغه څوک چې پیری (اخلي) (زده کوي به اعتقاد د جواز) سحر نشته ده لره په آخرت کې هیڅ برخه (د نیکی)، او هرومرو (خامخا) ډیر بد دي هغه شی چې پلورلي (اخستی) دی دوی په هغه شي سره (حصه د) ځانو خپلو که چیرې وي دوی چې پوهیدلی (په بد انجام د سحر نو نه به یې زده کاوه). [البقرة سورت: ۱۰۲ آیت].

نو دا مبارک آیت پدې دلالت کوي چې سحر کفر دی، او

دا چې جادوګران د ښځې او خاوند تر منځ جلاوالی راولي، همدا رنګه پدې دليل دی چې جادو په خپله د ګټې يا تاوان رسولو اغېز نه لري، بلکې د الله جل جلاله په کوني قدري ارادي سره اغېز کوي؛ ځکه چې الله جل جلاله هغه ذات دی چې خېر او شر يې پيدا کړی دی.

همدارنګه دغه مبارک ايت په دې هم دلالت کوي چې هغه څوک چې جادو زده کوي يوازې هغه څه زده کوي چې ورته ضرر رسوي او ګټه نه لري او دا چې د الله په نزد د دوی برخه نشته، يعني: (قسمت او نصيب)، او دا د جادوګرو لپاره يو ستر ګواښ دی چې په دنيا او اخرت کې به هغوی تاوانيان وي، او دا چې دوی خپل ځانونه په ټيټه بيه وپلورل، او له همدې امله الله تعالی په دې وينا سره دوی ملامت کړل:

﴿...وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْاْ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمْۚ لَوْ كَانُواْ يَعْلَمُونَ﴾

ژباړه: (... ډېره بده ده چې په خورا ناخيز شي يې خپل ځانونه وپلورل که چېرې دوی پوهېدلي وای). [البقرة: ۱۰۲]، او الشراء دلته د پلورلو معنا لري.

او يقينا چې د دې مشرکانو زيان لوی او حالات يې ګواښوونکي دي؛ (دوی هغه خلک دي) چې دا زده کړې ورته له مشرکانو په ميراث پاتې شوي او د کمزوري عقلونو خاوندان پرې دوکه کوي؛ إنا لله وإنا إليه راجعون، حسبنا الله ونعم الوكيل، الله تعالی زموږ لپاره د دوی د شر په وړاندې کافي او غوره ضامن دی.

موږ له الله -جل جلاله- څخه د جادوګرانو، فالبينانو او

نورو ټولو کوډګرانو له شر څخه د عافیت او سلامتیا غوښتنه کوو، او همدارنګه موږ له هغه – سبحانه و تعالی- څخه سوال کوو چې مسلمانان د دوی له شر څخه وساتي، او مسلمانو واکمنانو ته توفیق ورکړي چې له دوی څخه باخبره شي او د الله حکم پرې پلي کړي، ترڅو بندګان د دوی له ضرر او بد عمل څخه خوندي پاتې شي؛ یقینا چې هغه سخي او کریم ذات دی.

الله -جل جلاله- خپلو بندګانو ته داسې څه روا کړي چې د جادو له اغېزمنېدو وړاندې پرې خپل ځانونه خوندي وساتي او الله پاک هغوی ته دا - هم - واضحه کړې ده چې د جادو له کېدو وروسته پرې خپله درملنه وکړي، دا د هغه له خوا پر دوی مهرباني او احسان دی او پر دوی د هغه د نعمت بشپړول دي.

لاندې د هغو شیانو په اړه وضاحت دی چې د جادو له اغېزې څخه مخکې پرې ځان له خطر څخه ژغورل کېږي او هغه شرعي مباح ځیزونه چې د جادو له اغېزې وروسته پرې درملنه کېږي:

لومړی: هغه څه چې د جادو له ګوابن څخه مخکې پرې ژغورل کیږي، چې تر ټولو اړین او ګټور یې د هر فرضي لمانځه پسې له سلام ګرځولو وروسته مشروع اذکار، دعاګانې او مسنون دمونه لکه: آیة الکرسي لوستل، چې په قرآن کریم کې ستر آیت دی، آیت الکرسي د الله تعالی دا قول دی:

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ

مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ
يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ
إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ
وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ﴿٢٥٥﴾

ژباړه: (الله هماغه دى چې له ده پرته بل معبود نشته تل ترتله ژوندى سمبالونکى دى، نه پرکالي پرې راځي او نه خوب، څه چې په اسمانو کې دي او څه چې په ځمکه کې دي (ټول) د هغه دي، دا به څوك وي چې د هغه له خوښې پرته د چا سپارښتنه ورته وکړي؟ په هر هغه څه پوهيږي چې د دوى مخې يا يې شاته دي، او دوى د هغه له معلوماتو هيڅ شى نه شي راګيرولاى مګر هغه چې د ده خوښه وي، كرسۍ يې پر اسمانو او ځمکې پراخه ده، او د دې دواړو (ځمکى او اسمان) ساتنه يې نه ستومانه کوي او هغه لوى اوچت ذات دى. [البقرة سورت: ايت ٢٥٥]، او همدارنګه يې د ويده کېدو پر مهال لوستل؛ له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه په صحيح حديث کې روايت دى چې هغه فرمايلي:

«مَنْ قَرَأَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ فِي لَيْلَةٍ، لَمْ يَزَلْ عَلَيْهِ مِنَ اللهِ حَافِظٌ، وَلَا يَقْرَبُهُ شَيْطَانٌ حَتَّى يُصْبِحَ».

ژباړه: (څوک چې د شپې لخوا ايت الکرسي تلاوت کړي، د الله تعالى له طرفه به د هغه لپاره ساتونکى وي او تر سهاره پورې به هيڅ شيطان ورته نه نږدې کيږي).

او د هغې له جملې څخه د لاندې سورتونو تلاوت کول دي:

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١﴾

(ووایه هغه الله یو دی

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ١﴾

(ووایه د سباوون پر رب پناه غواړم)

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ١﴾

(ووایه د (ټولو) خلکو پر پالونکي پناه غواړم) [الناس: ١]، د هر فرض لمانځه پسې، او دا درې سورتونه د هرې ورځې په پیل کې د سهار د لمانځه پسې او د هرې شپې په پیل کې د ماښام د لمانځه پسې.

همدا رنګه د شپې په پیل کې د البقره سورت دوه وروستي آیتونه، چې د الله تعالی دا قول دی:

﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّن رُّسُلِهِۦۚ وَقَالُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ غُفۡرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ ٢٨٥﴾

ژباړه: (پیغمبر صلی الله علیه وسلم (پر هغه هدایت ایمان راوړی دي چې د هغه د رب له خوا پر هغه نازل شوی دی او څوك چې د دې پیغمبر منونکي دي، هغوی هم دا هدایت د زړه په مینه منلی دی، دوی ټولو الله، د هغه ملایکې، د هغه کتابونه او د هغه پیغمبران (علیهم السلام) منلي دي او د هغو

وینا دا ده چې: موږ د الله د پیغمبرانو ترمنځ توپیر نه کوو، موږ حکم واورېده او اطاعت مو ومانه ای الله! موږ ستا څخه د ګناه بخښنې غوښتونکي يو او همدا ستا لوري ته زموږ درتګ دی). د سورت تر پایه.

دلیل يې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه صحيح حديث دی چې هغه فرمايلي:

«مَنْ قَرَأَ الآيَتَيْنِ مِنْ آخِرِ سُورَةِ البَقَرَةِ فِي لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ».

ژباړه: «څوک چې د بقرې سورت اخري دوه آيتونه د شپې لخوا تلاوت کړي، د هغه لپاره به کافي وي»، او معنا يې داده بيا هم الله ښه پوهيږي: د هر ډول شر له مخنيوي څخه به ورته بسنه وکړي، او د هغې له جملې څخه د شپې او ورځې لخوا او کله چې په کور، ودانۍ، دښته، فضا، سمندر کې مېشت کيږي، الله -تعالى- باندې - د هغه - په بشپړو کلمو سره پناه يوسي، د رسول الله -صلى الله عليه وسلم- ددې خبرې پر بنياد چې فرمايي:

«مَن نَزَلَ مَنْزِلًا فَقالَ: أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِن شَرِّ ما خَلَقَ، لَمْ يَضُرَّهُ شَيءٌ حتَّى يَرْتَحِلَ مِن مَنْزِلِهِ ذَلِكَ».

ژباړه: «څوک چې په يو کور (يو ځای) کې استوګن شي او ووايي: (أعوذ بكلمات الله التامات من شر ما خلق) يعني: زه د الله په بشپړو کلمو سره د هر هغه څه له شر څخه پناه غواړم چې هغه پيدا کړي دي، نو هيڅ شی به هغه ته ضرر ونه رسوي ترڅو چې له دغه کور څخه کډه نه شي».

او د هغې له جملې څخه دا دی چې یو مسلمان د ورځې او شپې په پیل کې درې ځلې ووایي:

«بِسْمِ اللهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيءٌ فِي الأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ، وَهُوَ السَّمِيعُ العَلِيمُ».

ژباړه: [د هغه الله په نوم چې ضرر نشي رسولی د هغه له نوم سره هیڅ یو شی پر ځمکه او نه په آسمان کې او هغه اورېدونکی او ښه پوه دی].

دې کار ته د رسول الله -صلی الله علیه وسلم- د هڅونې له امله او دا چې دا عمل له هر ډول شر څخه د خوندیتوب سبب دی.

دویم: هغه څه چې د جادو له اغېزې وروسته پرې د جادو درملنه کیږي، او دا کار په لاندې طریقو سره کیږي:

لومړی یې: الله تعالی ته زیاته زاري کول، او له هغه سوال کول چې دا ضرر ترې لرې کړي او ناروغي یې ښه کړي.

دویمه یې: د جادو د ځای په موندلو کې زیار ویستل دي؛ هغه که په زمکه کې وي، یا غره او یا بل ځای کې؛ نو کله چې سحر وپېژندل شي، راوویستل شي او له منځه یوړل شي، سحر باطلیږي، او دا تر ټولو ګټور علاج دی.

دریم یې: په شرعي دم او دعاګانو دمول چې دا اذکار زیات دي لکه:

هغه چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت دي چې فرمایي:

«اللَّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ، أَذْهِبِ الْبَأْسَ، وَاشْفِ أَنْتَ الشَّافِي، لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا».

ژباړه: [اې د خلکو ربه، دردونه لرې کړه او شفا ورکړه، ته شفا ورکوونکی يې، ستا له شفا پرته بله شفا نشته، داسې شفا چې ناروغي نه پرېږدي]. درې ځلې يې وايي.

او د دمونو له جملې څخه يو دا دی کوم چې جبرائيل عليه السلام پر ي پيغمبر صلی الله عليه وسلم دم کړی و، چې د هغه دا وينا ده:

«بِسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ، مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ، وَمِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أَوْ عَيْنِ حَاسِدٍ، اللهُ يَشْفِيكَ، بِسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ».

ژباړه: [د الله په نوم، زه تا دموم، د هر هغه څه څخه چې تا ته زيان رسوي، او د هر نفس د شر او يا د کينه کوونکي د سترګو له شر څخه، الله دې تا ته شفا درکړي، د الله په نوم زه تا دموم]. دا به درې ځلې تکراروي.

او له دې - د هغه چا لپاره ګټور علاج چې له خپلې مېرمنې سره له کوروالی بند شوی وي - چې: د بېرې اووه شنې پاڼې واخلي، په تيږه او يا بل څه يې وټکوي، بيا يې په يو لوښي کې واچوي او د پاسه پرې دومره اوبه ورتوی کړي چې د غسل لپاره بسنه وکړي او دا پرې ولولي:

آيت الکرسي، او

﴿قُلۡ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلۡكَـٰفِرُونَ ١﴾

(ووایه! اې کافرانو) [الکافرون: ۱ ایت]، او

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١﴾

(ووایه هغه الله یو دی). "[الإخلاص سورت: ۱ایت]، او"

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ١﴾

(ووایه د سباوون پر رب پناه غواړم). [الفلق: ۱]، او

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ١﴾

(ووایه د (ټولو) خلکو پر پالونکي پناه غواړم).

[الناس: ۱].

او د سحر آیتونه چې په سورت الاعراف کې دي، چې هغه د الله –سبحانه و تعالی- دغه وینا ده:

﴿وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَلۡقِ عَصَاكَۖ فَإِذَا هِيَ تَلۡقَفُ مَا يَأۡفِكُونَ ١١٧ فَوَقَعَ ٱلۡحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ١١٨ فَغُلِبُواْ هُنَالِكَ وَٱنقَلَبُواْ صَٰغِرِينَ ١١٩﴾

ژباړه: (او موسی ته مو حکم وکړ چې لکړه (امسا) دې وغورځوه! نو ناڅاپه یې د هغوی د دروغو جوړ کړي شیان ښوی تېرول.

نو (په دې توګه) حق ثابت شو او څه چې هغو کول (چور) باطل شول.

نو هماغلته مغلوب شول او سپك وګرځېدل). [الأعراف سورت: ۱۱۷-۱۱۹ آیتونه].

او هغه آيتونه چې په يونس سورت کې دي او هغه د الله – سبحانه و تعالی- دغه وينا ده:

﴿وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ٱئۡتُونِي بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٍ۝٧٩ فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلۡقُواْ مَآ أَنتُم مُّلۡقُونَ۝٨٠ فَلَمَّآ أَلۡقَوۡاْ قَالَ مُوسَىٰ مَا جِئۡتُم بِهِ ٱلسِّحۡرُۖ إِنَّ ٱللَّهَ سَيُبۡطِلُهُۥٓ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُصۡلِحُ عَمَلَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ۝٨١ وَيُحِقُّ ٱللَّهُ ٱلۡحَقَّ بِكَلِمَٰتِهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُجۡرِمُونَ۝٨٢﴾

ژباړه: (او فرعون وويل چې هر ماهر کوډګر ماته راولئ.

کله چې کوډګران راغلل نو موسی (عليه السلام) هغوی ته وويل: تاسي چې د کومو شيانو غورځونکي ياست هغه وغورځوی.

بيا کله چې هغوی وغورځول، موسی (عليه السلام) وويل: تاسو چې څه راوړل هغه کوډې دي يقيناً الله به يې ژر باطل کړي، بې شکه الله د مفسدانو کار نه سموي.

او الله په خپلو فرمانونو سره حق رښتيا کوي، که څه هم مجرمان ناخوښه اوسي). [يونس سورت: ايت ٧٩-٨٢]،

او هغه آيتونه چې په طه سورت کې دي:

﴿قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلۡقِيَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنۡ أَلۡقَىٰ۝٦٥ قَالَ بَلۡ أَلۡقُواْۖ فَإِذَا حِبَالُهُمۡ وَعِصِيُّهُمۡ يُخَيَّلُ إِلَيۡهِ مِن سِحۡرِهِمۡ أَنَّهَا

﴿تَسۡعَىٰ ٦٦ فَأَوۡجَسَ فِي نَفۡسِهِۦ خِيفَةٗ مُّوسَىٰ ٦٧ قُلۡنَا لَا تَخَفۡ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡأَعۡلَىٰ ٦٨ وَأَلۡقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلۡقَفۡ مَا صَنَعُوٓاْۖ إِنَّمَا صَنَعُواْ كَيۡدُ سَٰحِرٖۖ وَلَا يُفۡلِحُ ٱلسَّاحِرُ حَيۡثُ أَتَىٰ ٦٩﴾

ژباړه: (هغوی (کوډګرانو) وویل: ای موسیٰ یا به یې ته غورځوې، یا به موږ ړومبي غورځونکي شو؟

(موسیٰ -علیه السلام-) وویل: نه تاسي یې وغورځوئ، نو یو دم یې رسۍ ګاني او کونټۍ په کوډو سره موسیٰ (علیه السلام) ته ځغلېدونکي وبرېښېدلې.

نو موسیٰ (علیه السلام) په خپل زړه کې وېره ومونده.

موږ وویل: مه وېرېږه، همدا ته برلاسی یې.

او څه دي چې په لاس کې دي هغه وغورځوه، دوی چې څه جوړ کړي هغه به له ستوني تېروي، دا څه یې چې جوړ کړي، د کوډګر ټګي ده، او کوډګر چې هر چېرته راشي نه بریالی کېږي). [طه سورت: ۶۵-۶۹ آیتونه].

او هغه څه چې په اوبو کې تلاوت شول له لوستلو وروسته دې درې غړپه اوبه وڅښي او په پاتې نورو سره دې غسل وکړي، نو په همدې سره به ان شاء الله مرض له منځه ولاړ شي، او که دوه ځلې یا زیات استعمال ته اړتیا پیدا شي نو تر هغه وخته پورې چې ناروغي له منځه لاړه شي هیڅ حرج نشته چې دغه کار تکرار کړي.

نو دا اذکار، دمونه او طریقې د جادو او نورو بدیو له شر څخه د مخنیوي لپاره تر ټولو لوی اسباب دي، او د جادو له

پېښېدو وروسته يې د لرې کولو لپاره تر ټولو لويه وسله ده، البته د هغو کسانو لپاره چې په اخلاص، ايمان، او په الله تعالی باور او په هغه تکيه ولري، او هغه څه ته سينه پراخه کړي چې دا اذکار پرې دلالت کوي.

دا هغه څه وو چې د سحر د مخنيوي او درملنې لپاره وړاندې شول، او الله توفيق ورکونکی دی.

او دلته يوه مهمه مسله راځي چې هغه پېريانو ته په قربانۍ کولو او يا نورو طريقو سره د نږدې کېدو له لارې د سحر درملنه ده، چې دا جواز نه لري؛ ځکه چې دا د شيطان عمل، بلکې د لوی شرک يو ډول دی؛ همدارنګه د کاهنانو، د غيبو دعوا لرونکو او کوډګرو څخه د پوښتنې کولو او د هغوی د خبرو په کارولو سره د دې ناروغۍ درملنه جواز نلري؛ ځکه چې هغوی ايمان نه لري، دروغجن او فاسقان دي، په غيبو د پوهېدو ادعا کوي او خلک مغشوشوي او دوکې ورکوي، رسول الله صلی الله عليه وسلم دوی ته له ورتګ، له هغوی څخه د پوښتنې کولو او د هغوی د تصديق کولو څخه خبرداری ورکړی، لکه څنګه چې د دې ليکنې په پيل کې بيان شول. نو اړينه ده چې ډېره ترې وشي، او په صحيح حديث کې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت دی چې له هغه څخه د (نُشره) په اړه پوښتنه وشوه، نو هغه وفرمايل:

«هِيَ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ».

ژباړه: (دا د شيطان کار دی)، امام احمد او ابو داود په جيد سند سره روايت کړی دی.

النشرة: له جادو شوي شخص څخه د جادو لرې کولو ته وايي. او د هغه - صلى الله عليه وسلم - د خبرې مراد دا دى چې: د هغه جادو لرې کول چې د جاهليت خلکو به کاوه، او هغه داسې وو چې: له جادوګر څخه به يې د جادو لرې کولو غوښتنه کوله، او يا د بل جادوګر څخه يې د ورته جادو لرې کولو غوښتنه کوله.

او په دم، شرعي معوذاتو او مباحو درملو سره يې درملنه باک نه لري، لکه وړاندې چې يادونه وشوه. او دغه وينا علامه ابن القيم کړې، او شيخ عبدالرحمن بن حسن – رحمهما الله- په فتح المجيد کې کړې ده، او نورو علماوو هم دا خبره کړې ده.

له الله تعالى سوال کوو چې مسلمانانو ته له هرې بدۍ د ژغورل کيدو توفيق ورکړي، د دين ساتنه يې وکړي، په دين کې پوهه ورکړي، او له هر هغه څه نه يې وساتي چې د شريعت خلاف وي.

وصلى الله وسلم على عبده ورسوله محمد، وعلى آله وصحبه.

***

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

## لسم پيغام:

## پر قبرونو د جوماتونو جوړولو په اړه خبرداری

بسم الله، والحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله.

أَمَّا بَعْدُ:

ما د رابطة العلوم الاسلامية مجلې په دريمه ګڼه کې د (په مياشت کې د مسلمانانو خبرونه) برخه کې خپور شوی مطلب ولوست چې: د اردن په شاهي هېواد کې (رابطة العلوم الاسلامية) ټولنه اراده لري د هغه غار پر ځای يو جومات ودان کړي چې پدې وروستيو کې د الرحيب په کلي کې کشف شوی، او ويل کيږي چې دا د اصحاب الكهف هغه غار دی چې په قرآن کريم کې يې يادونه شوې ده، چې هغوی پکې ويده شوي وو. پای ته ورسيده.

دا چې پر ما د الله جل جلاله او د هغه د بندګانو لپاره نصيحت واجب دی، نو ما وپتيله چې په همغه مجله کې د اردن په شاهي هاشمي هېواد کې؛ رابطة العلوم الاسلامية ټولنې ته وينا ولرم چې عنوان يې: ټولنې ته د غار پر ځای د ياد جومات جوړولو په اړه نصيحت دی، ځکه چې د پيغمبرانو او نېکانو پر قبرونو او آثارو د جوماتونو له جوړولو ممانعت او په اړه يې په اسلامي شريعت کې خبرداری راغلی، او پر هغه چا لعنت ويل شوی چې دا کار کوي؛ ځکه چې دا کار د شرک له اسبابو او د پيغمبرانو او نېکانو خلکو په اړه افراط او له حد څخه تيريدل دي. او حقيقت د هغه څه په صحت شاهد دی چې

شریعت راوړی او پر دې دلیل دی چې د الله جل جلاله له لورې دی، او په هغه څه کې د الله جل جلاله د رسول صلی الله علیه وسلم په ربښتینولۍ څرګند ثبوت او قطعي دلیل دی چې د الله له طرفه یې راوړی او امت ته یې رسولی دی. او هر څوک چې د اسلامي نړۍ حالاتو او هغه څه ته وګوري چې - په زیارتونو د جوماتونو ودانولو، د هغوی درناوي، په فرش او ظرف سینګارولو او د هغوی لپاره د منجاورانو د نیولو له امله کوم شرک او افراطیت رامنځته شوی، نو په یقیني توګه پوهیږي چې دا ټول د شرک اسباب دي، او د اسلامي شریعت له بښېګڼو څخه د دې منع کول او د ودانولو په اړه یې خلکو ته خبرداری ورکول دي.

په دې اړه د روایتونو له جملې هغه څه هم دي چې دواړو شیخانو، بخاري او مسلم - رحمهما الله - له عایشې رضی الله عنها څخه روایت کړي وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«لَعَنَ اللهُ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى، اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ، قالَتْ عَائِشَةُ: يُحَذِّرُ مَا صَنَعُوا، قالَتْ: وَلَوْلَا ذَلِكَ لَأُبْرِزَ قَبْرُهُ، غَيْرَ أَنَّهُ خُشِيَ أَنْ يُتَّخَذَ مَسْجِدًا».

ژباړه: «په یهودو او نصاراوو دې د الله تعالی لعنت وي، دوی د خپلو پیغمبرانو قبرونه جوماتونه ګرځولي»، عائشه رضي الله عنها وایي: پدې اړه یې خبرداری ورکاوه، وایي: که چېرې دا خبره نه وای، نو مسلمانانو به د نبي صلی الله

عليه وسلم قبر ښکاره (لوړ کړی) و، خو له دې وېرې دا کار ونه شو چې جومات ترې جوړ نه کړای شي. او په صحيحينو کې دا هم راغلي چې ( أم سلمة او أم حبيبة رضي الله عنهما دواړو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د يوې کليسا په اړه يادونه وکړه چې دواړو د حبشې په ځمکه کې ليدلې وه، او د هغو انځورونو يادونه يې هم وکړه چې پکې وو، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

«أُولَئِكَ إِذَا مَاتَ فِيهِمُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ؛ بَنَوْا عَلَى قَبْرِهِ مَسْجِدًا، وَصَوَّرُوا فِيهِ تِلْكَ الصُّوَرَ، أُولَئِكَ شِرَارُ الْخَلْقِ عِنْدَ اللهِ».

ژباړه: «هغوی داسې خلک دي؛ کله چې يو نېک سړی يا نېک بنده پکې مړ شي، د هغه پر قبر جومات جوړ کړي او انځورونه پکې رسم کړي، دوی د الله په وړاندې تر ټولو بد خلک دي».

او په صحيح مسلم کې د جندب بن عبد الله رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د هغه له مرګ نه پنځه ورځې مخکې اوريدلي چې ويل يې:

«إِنِّي أَبْرَأُ إِلَى اللهِ أَنْ يَكُونَ لِي مِنْكُمْ خَلِيلٌ، فَإِنَّ اللهَ قَدِ اتَّخَذَنِي خَلِيلًا، كَمَا اتَّخَذَ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا، وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا مِنْ أُمَّتِي خَلِيلًا، لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيلًا، أَلَا وَإِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَانُوا يَتَّخِذُونَ قُبُورَ

أَنْبِيَائِهِمْ وَصَالِحِيهِمْ مَسَاجِدَ، أَلَا فَلَا تَتَّخِذُوا الْقُبُورَ مَسَاجِدَ، فَإِنِّي أَنْهَاكُمْ عَنْ ذَلِكَ».

ژباړه: «زه الله ته له دې خپله بېزاري وړاندې کوم چې له تاسو څخه دې زما کوم (ځانګړی) دوست وي، ځکه الله زه خپل دوست ګرځولی یم، لکه څنګه چې یې ابراهیم په دوستۍ نیولی، که چېرته ما له خپل امت څخه څوک په دوستۍ نیولی؛ نو ابو بکر به مې دوست نیولی و، خبردار اوسئ! څوک چې تر تاسو مخکې وو هغوی د خپلو انبیاوو قبرونه جوماتونه وګرځول، خبر اوسئ له قبرونو جوماتونه مه جوړوئ، ځکه ما له دغه څخه تاسې منع کړي یاست». او په دې باب کې ډېرې حدیثونه راغلي دي.

د مسلمانانو علماوو امامانو (له څلورو واړو مذهبونو او نورو) پر قبرونو د جوماتونو ودانول حرام ګڼلي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر سنت د عمل او امت ته د نصیحت له مخې یې په اړه خبرداری ورکړی چې د افراطي یهودانو، نصاراوو او په دې امت کې د دوی په څېر نور ګمراهان پکې ښکېل نه شي.

نو په اردن هېواد کې په رابطة العلوم الاسلامیة او نورو مسلمانانو واجب دي چې پر سنتو عمل وکړي، د علماوو پر تګلاره لاړ شي، او له هغه څه ځان وساتي چې الله تعالی او رسول یې صلی الله علیه وسلم ترې منع کړي دي؛ او په همدې کې د بندګانو اصلاح، نېکمرغي او د دنیا او آخرت کامیابي ده. او پدې اړه ځینې خلک د اصحاب الکهف په اړه د الله تعالی

لخوا پر بیان شوې کیسې استدلال کوي:

﴿...قَالَ ٱلَّذِينَ غَلَبُواْ عَلَىٰٓ أَمۡرِهِمۡ لَنَتَّخِذَنَّ عَلَيۡهِم مَّسۡجِدٗا﴾

ژباړه: (...خو هغو کسانو چې د دوی په کار برلاسي شوي وو، وویل: خامخا به یو مسجد (عبادت ځای) پرې جوړوو).
(د الکهف سورت: ۲۱ ایت)

د دې ځواب دا دی چې وویل شي: الله پاک موږ ته د هغه وخت د مشرانو او واکمنانو په اړه خبر راکړی چې هغوی دا وینا کړې وه، او دا وینا د دوی د تایید او ورڅخه د خوښی په موخه نه، بلکې د ملامتیا، سپکاوي او د دوی له کړنو څخه د کرکې له امله ده، او دلیل پرې دا دی چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم دا آیت نازل شوی او هغه د دې آیت په تفسیر تر ټولو زیات پوه دی، نو خپل امت یې په قبرونو د جوماتونو له ودانولو منع کړی او په اړه یې خبرداری ورکړی او د دې کار پر کوونکي یې لعنت ویلی او ملامته کړی یې دي.

او که چېرته دا کار روا وای نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به پدې اړه دومره سختي نه وه کړې، او نه به یې د دې کړنې په ترسره کوونکي لعنت ویلی و، سربیره پر دې یې ویلي چې نوموړی انسان د الله تعالی له بدترینو مخلوقاتو څخه دی، او دا د حق پلټونکي لپاره کافي او قانع کوونکې ده. او که موږ فرض کړو چې پر قبرونو جوماتونه جوړول د هغو کسانو لپاره چې زموږ څخه مخکې وو، جائز و؛ نو بیا هم موږ اجازه نه لرو چې پدې کار کې د هغوی په لاره لاړ شو؛ ځکه چې زموږ شریعت د مخکنیو شریعتونو منسوخوونکی

دی، او زموږ پېغمبر علیه الصلاة والسلام وروستی پېغمبر دی او شریعت یې بشپړ او د ټولو لپاره دی، هغه موږ پر قبرونو د جوماتونو له جوړولو منع کړي یو، نو موږ ته د هغه مخالفت روا نه دی، بلکې پر موږ یې تابعداري او پر هغه څه منګولې ښخول واجب دي، او د پخوانیو شریعتونو، او د هغوی د رواجونو پرېښودل هم واجب دي چې د هغه د شریعت خلاف دي، ځکه چې زموږ له شریعت څخه کامل او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لارښوونو بله ښه لارښوونه نشته.

له الله تعالی سوال کوو چې مونږ او ټولو مسلمانانو ته پر دین د ثبات او په ویناوو، کړنو، ظاهر، باطن او ټولو چارو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په شریعت تر هغه پورې د پابندئ توفیق راکړي چې له هغه سره مخ کیږو، الله جل جلاله اوریدونکی او نږدې دی.

وصلی الله وسلم علی عبده ورسوله محمد وآله وصحبه ومن اهتدی بهداه إلی یوم الدین.

***

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحمَنِ الرَّحِيمِ

## يوولسم پيغام:
## په جوماتونو کې د مړو ښخول

بسم الله والحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومَن والاه، أما بعد:

ما د "الخرطوم" د ورځپاڼې هغه ګڼه چې په (۱۴۱۵/۴/۱۷هـ) نېټه خپره شوې ولوسته، نو پام مې شو چې په ورځپاڼه کې د سيد محمد حسن الِادريسي د ښخولو په اړه بيان خپور شوی و چې هغه په ام درمان کې د خپل پلار تر څنګ په جومات کې ښخ شوی دی ... بيان تر پای

دا چې د الله جل جلاله له خوا د مسلمانانو لپاره نصيحت کول او د منکر (ناروا عمل) ردول واجب دي، نو ما وپتېيله چې دې مسألې ته د خلکو پام راواړوم چې په جوماتونو کې د مړو خښول روا نه دي، بلکې دا د شرک له اسبابو څخه يو سبب او د يهودو او نصاراوو له هغو اعمالو څخه يو دی چې الله تعالى پرې هغوی غندلي او رسول صلى الله عليه وسلم پرې لعنت ويلی دی، لکه په صحيحينو؛ بخاري او مسلم کې چې له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

«لَعَنَ اللهُ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى، اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ»،

ژباړه: «الله پر يهودو او نصاراوو لعنت کړی چې د خپلو نبيانو قبرونه يې جوماتونه ګرځولي و». همدارنګه په صحيح

مسلم کې د جندب بن عبدالله څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«أَلَا وَإِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَانُوا يَتَّخِذُونَ قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ وَصَالِحِيهِمْ مَسَاجِدَ، أَلَا فَلَا تَتَّخِذُوا الْقُبُورَ مَسَاجِدَ؛ فَإِنِّي أَنْهَاكُمْ عَنْ ذَلِكَ».

ژباړه: «خبردار اوسئ! چې ستاسو څخه مخکې خلکو د خپلو انبیاوو او نېکانو له قبرونو څخه جوماتونه جوړ کړي وو، نو پام وکړئ چې تاسو یې جوماتونه ونه ګرځوئ، زه تاسو لدې کار څخه منع کوم». په دې معنا کې نور احادیث هم شته.

نو په هر ځای کې د مسلمانانو پر حکومتونو او ولسونو واجب دي چې: له الله تعالی څخه وویرېږي، او له هغو عملونو ځان وساتي چې الله ترې منع کړي او دا چې خپل مړي له جوماتونو څخه د باندې ښخ کړي، لکه څنګه چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- او د هغه صحابه کرامو رضي الله عنهم مړي له جوماتو نه د باندې ښنول، او همداسې یې په نیکۍ کې نورو پیروانو هم کړي دي.

او پاتې شوه د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د صاحبینو د قبرونو خبره چې د هغه د جومات دننه دي، نو پدې کې د جوماتونو دننه د مړو د ښنولو لپاره هیڅ جواز نشته؛ ځکه چې نبي صلی الله علیه وسلم په خپل کور کې (د عائشې رضي الله عنها په کوټه کې) ښخ شوی و، چې وروسته یې

ملګري هم ورسره هملته خښ شول، نو کله چې ولید بن عبدالمالک جومات ته پراخوالی ورکړ، نو د لومړۍ هجري پېړۍ په سر کې يې د عائشې رضي الله عنها کوټه په جومات کې داخل کړه، حال دا چې هغه مهال یې علماوو دا عمل وغانده، خو هغه ته مناسب ښکاره شوه چې قبرونه باید د جومات د پراخوالي پر وړاندې خنډ ونه ګرځي، او دا چې دا خو یوه ښکاره چاره ده او هیڅوک پکې نه غلطیږي.

او پدې سره هر مسلمان ته جوتیږي چې هغه صلی الله علیه وسلم او دواړه ملګري يې رضي الله عنهما په لومړي سر کې په جومات کې نه دي ښخ شوي، او دا چې جومات ته د پراختیا ورکولو له امله يې قبرونه په جومات کې دننه راغلي دي نو پدې کې د دې مسألې لپاره هیڅ جواز نشته چې مړي په جوماتونو کې خښ شي؛ ځکه چې هغوی په جومات کې دننه نه دي، بلکې هغه علیه الصلاة والسلام په خپل کور کې دی، بل دا چې د ولید دا کړنه د هیچا لپاره دلیل نه شي جوړیدلی، بلکې حجت په قرآن، سنت او د دې امت د سلفو -رضي الله عنهم-په اجماع کې دی، الله تعالی دې موږ په نیکۍ کې د هغوی له پیروانو څخه وګرځوي.

د نصیحت او غاړې خلاصولو لپاره دا متن په ۱۴/۵/۱۴۱۵هـ کې لیکل شوی.

الله توفیق ورکوونکی دی.

وصلی الله وسلم علی نبینا محمد، وآله وصحبه، وأتباعهم بإحسان.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحمَنِ الرَّحِيمِ

## دولسم پیغام:

## د هغه چا د کفر او ګمراهۍ بيان چې ګمان کوي د يو چا لپاره د محمد صلى الله عليه وسلم له شريعت څخه وتل روا دي.

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على خاتم الأنبياء والمرسلين نبينا محمد، وعلى آله وصحبه أجمعين.

اما بعد: ما د "الشرق الأوسط" ورځپاڼې د ۵۸۲۴ ګڼې چې د ۱۴۱۵ کال د جمادي الثاني د مياشتې په ۵ مه نېټه خپره شوې يوه مقاله ولوسته چې د "عبد الفتاح الحايک" په نوم يو کس د (الفهم الخاطئ) تر عنوان لاندې ليکلې وه.

د مقالې لنډيز: په دې مقاله کې له هغه څه څخه د هغه منکريدلو ته اشاره شوې چې د ديني اړتيا له مخې ضرورت پيژندل شوی وي او په نص او اجماع ثابت وي چې هغه ټولو خلکو ته د محمد صلى الله عليه وسلم د رسالت عموميت دی، سربيره پر دې د هغه دا ادعا چې څوک د محمد صلى الله عليه وسلم پيروي ونه کړي، بلکې يهودي يا نصراني پاتې شي، نو هغه په سم دين دی. همداراز، نوموړي د رب العالمين سبحانه و تعالى په حکمت د کفارو او نافرمانو د عذاب په اړه بې ادبي کړې او دا يې عبث (بې معنا) ګڼلې.

شرعي نصوص يې تحريف کړي، او په بې ځايه ځای کې يې کارولي دي، او د خپل خواهش مطابق يې تفسير کړي او له هغو شرعي او روښانه دلايلو يې مخ اړولی چې د رسول

الله صلى الله عليه وسلم د رسالت په عموميت او د هغه چا په کفر دلالت کوي چې د هغه په اړه خبر شوي او بيا يې پيروي نده کړې، او دا چې الله تعالى له اسلام پرته بل دين نه قبلوي او داسې نور صريح نصوص چې مخ يې ترې اړولی؛ تر څو په خپلو خبرو جاهل خلک دوکه کړي. او هغه څه يې چې وکړل ښکاره کفر، له اسلام څخه ارتداد، او د الله- پاک - او د هغه له رسول - صلى الله عليه وسلم - څخه انکار دی، لکه څنګه چې هر هغه څوک پوهيږي؛ چې د علم او ايمان خاوندان وي او دا مقاله لولي.

او پر ولي الأمر واجب دي چې محکمې ته يې راجع کړي، ترڅو توبه وباسي او د سپېڅلي شريعت د غوښتنې سره سمه سزا ورکړل شي.

الله سبحانه وتعالى د محمد صلى الله عليه وسلم د رسالت عموميت او د پېريانو او انسانو ټولو لپاره د هغه د اطاعت وجوب څرګند کړی دی، دا هغه څه دي چې د مسلمانانو څخه هغه څوک چې يو څه پوهه ولري، هېڅکله ترې جاهل نه شي پاتې کېدلی.

الله تعالى فرمايلي دي:

﴿قُلْ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ ۖ فَـَٔامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِ ٱلنَّبِىِّ ٱلْأُمِّىِّ ٱلَّذِى يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَكَلِمَـٰتِهِۦ وَٱتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿١٥٨﴾﴾

ژباړه: (ووایه: ای خلکو! زه تاسو ټولو ته د هغه الله رسول یم چې داسمانونو او ځمکې باچاهي خاص هغه لره ده، له هغه پرته (په حق سره) بل معبود نشته هماغه ژوندي کوي او مړه کوي نو په الله او هغه رالیږلي امي نبي یي ایمان راوړئ چې په الله او ټولو خبرو یې ایمان لري او متابعت یې وکړئ چې سمه لار ومومئ). [الأعراف: ١٥٨]. او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿...وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ لِأُنذِرَكُم بِهِۦ وَمَنۢ بَلَغَ...﴾

ژباړه: (...او دا قرآن ماته په وحی راغلی تر څو هم تاسو پرې وویروم او هم چاته چې ورسیږ...) [الأنعام: ١٩]. او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ ٱللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣١﴾﴾

ژباړه: ((ای پیغمبره! خلکو ته) ووایه: که تاسي په رښتیا له الله سره مینه لرئ نو زما د پیروی لاره غوره کړئ، الله به له تاسي سره مینه وکړي او ستاسي خطاوې به دروبخښي هغه ډیر ښه بخښونکی او د رحمت ښښتن دی). [آل عمران: ٣١]. او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ ٱلْإِسْلَٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي ٱلْأَٓخِرَةِ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٨٥﴾﴾

ژباړه: (او هر څوك چې له اسلامه پرته بل دين لټوي نو

هیځکله به ترې قبول نه شي او هغه به په آخرت کې له تاوانیانو وي). [آل عمران: ۸۵]. او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةٗ لِّلنَّاسِ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗا...﴾

ژباړه: (او ته مو ټولو خلکو ته پرته له یو زېري ورکوونکي او وېروونکي بل څه نه یې لیږلی...) [سبأ: ۲۸]. او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا رَحۡمَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ١٠٧﴾

ژباړه: (او نه یې لیږلی مونږ ته؛ مګر رحمت د ټولو خلکو لپاره). [الأنبیاء: ۱۰۷]. او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿...وَقُل لِّلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡأُمِّيِّـۧنَ ءَأَسۡلَمۡتُمۡۚ فَإِنۡ أَسۡلَمُواْ فَقَدِ ٱهۡتَدَواْۖ وَّإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّمَا عَلَيۡكَ ٱلۡبَلَٰغُۗ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ﴾

(...او له اهل کتابو او غیر اهل کتابو (مشرکانو) دواړو څخه پوښتنه وکړه: آیا تاسي هم د هغه اطاعت او بندګي منلې ده؟ که یې منلې وه نو سمه لار یې موندلې، او که یې ورڅخه مخ اړولی و؛ نو پر تا یوازې د پیغام رسولو مسؤولیت و، نور الله په خپله د خپلو بندګانو د چارو لیدونکی دی). [آل عمران: ۲۰]. او الله پاک فرمایلي:

﴿تَبَارَكَ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡفُرۡقَانَ عَلَىٰ عَبۡدِهِۦ لِيَكُونَ لِلۡعَٰلَمِينَ نَذِيرًا ١﴾

ژباړه: (هغه ذات برکتناك دی چې فرقان یې پر خپل بنده

نازل کړی تر څو د ټولو خلکو لپاره خبرداری ورکوونکی وي). [الفرقان: ١].

بخاري او مسلم د جابر رضي الله عنه څخه روایت کوي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«أُعْطِيتُ خَمْسًا لَمْ يُعْطَهُنَّ أَحَدٌ قَبْلِي: نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ مَسِيرَةَ شَهْرٍ، وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا، فَأَيُّمَا رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي أَدْرَكَتْهُ الصَّلَاةُ، فَلْيُصَلِّ، وَأُحِلَّتْ لِيَ الْمَغَانِمُ، وَلَمْ تُحَلَّ لِأَحَدٍ قَبْلِي، وَأُعْطِيتُ الشَّفَاعَةَ، وَكَانَ النَّبِيُّ يُبْعَثُ إِلَى قَوْمِهِ خَاصَّةً، وَبُعِثْتُ إِلَى النَّاسِ عَامَّةً».

ژباړه: «ما ته پنځه شیان راکړل شوي دي چې له ما څخه مخکې هېچ چا ته نه وو ورکړل شوي: ماته په وېره بریا راکړل شوې؛ زه چې کوم ځای ته ځم نو د یوې میاشتې د مزل په اندازه مې رعب هلته مخکې رسیدلی وي، او ټوله ځمکه زما لپاره جومات او پاک ځای ګرځېدلی، نو زما له امت څخه چې په هر چا د لمانځه وخت راغی نو لمونځ دې وکړي، او ماته غنیمت روا شوی چې زما نه مخکې هېچ چا ته نه و روا، او ماته شفاعت راکړل شوی او دا چې هر نبي به خاص خپل امت ته لیږل کېده او زه ټولو خلکو ته لیږل شوی یم».

دا ټول بشریت ته زموږ د پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم د پیغام نړیوالتوب او هر اړخیزوالی څرګندوي، او دا چې ټول پخواني قوانین یې منسوخ کړي دي، او دا چې څوک د محمد

صلى الله علیه وسلم پیروي ونه کړي، نو هغه یې اطاعت نه دی کړی او بالآخره کافر، ګناهګار او د سزا مستحق دی، الله تعالی فرمایلي:

﴿...وَمَن يَكۡفُرۡ بِهِۦ مِنَ ٱلۡأَحۡزَابِ فَٱلنَّارُ مَوۡعِدُهُۥ...﴾

ژباړه: (...او څوک چې له دې ډلو په هغه کافر شي نو د وعدې ځای یې اور دی...) [هود: ۱۷]. او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿...فَلۡيَحۡذَرِ ٱلَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنۡ أَمۡرِهِۦٓ أَن تُصِيبَهُمۡ فِتۡنَةٌ أَوۡ يُصِيبَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾

ژباړه: (...نو هغه کسان چې د هغه له امره مخالفت کوي، له دې څخه دې ووېرېږي چې څه فتنه ور ونه رسي، یا څه دردناك عذاب ورته ونه رسیږي). [النور: ۶۳]. او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَمَن يَعۡصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُۥ يُدۡخِلۡهُ نَارًا خَٰلِدٗا فِيهَا وَلَهُۥ عَذَابٞ مُّهِينٞ ١٤﴾

ژباړه: (او څوك چې د الله او د هغه له پیغمبر څخه نافرماني وکړي او د هغه له ټاکل شوېو پولونه تیری وکړي الله به هغه په اور کې وغورځوي چې په هغه کې به د تل لپاره استوګن وي او دهغه لپاره رسوا کوونکی عذاب دی). [النساء: ۱۴]، او الله تعالی فرمایلي دي:

﴿...وَمَن يَتَبَدَّلِ ٱلۡكُفۡرَ بِٱلۡإِيمَٰنِ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ﴾

ژباړه: (...او هر څوک چې بدلوي (او غوره کوي) کفر په ايمان (چې ايمان ورکوي او کفر آخلي) نو په تحقيق سره ورکه يې کړه سمه لار). [البقرة: ۱۰۸]، او پدې معنا سره ډېر آيتونه راغلي دي.

او الله تعالى د رسول الله صلى الله عليه وسلم اطاعت د هغه د اطاعت سره تړلی دی، او دا يې روښانه کړې ده چا چې له اسلام پرته په بل څه باور وکړ هغه زيانمن دی، او له هغه څخه به هېڅ خيرات يا عدالت (نفلي او فرضي عمل) ونه منل شي، الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ ۝٨٥﴾

ژباړه: (او څوک چې له اسلام نه غېر (بل) دين غواړي، نو هېڅکله به هم له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په اخرت کې له تاوانيانو څخه دی). [آل عمران: ۸۵]. او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ...﴾

ژباړه: (چا چې د رسول اطاعت وکړ نو يقينًا هغه د الله اطاعت وکړ). [النساء: ۸۰]. او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ

﴿وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ وَإِنْ تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا...﴾

ژباړه: (ورته ووايه: د الله خبره ومنئ او د رسول ومنئ او که مخ وګرځوئ نو (پوه شئ چې) پر هغه خپله ذمه واري او پر تاسي خپله ذمه واري ده، او که امر يې ومنئ لار به وموميئ). [النور: ۵۴]. او الله تعالی فرمايلي دي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا أُولَئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ ﴿٦﴾﴾

ژباړه: (بېشکه هغه کسان چې کافران شوي دي، چې اهل کتاب او مشرکان دي، (دوی به) د دوزخ په اور کې وي، چې په ده کې به تل ترتله وي. هم دغه کسان د خلقو بدترين دي). [البيّنة: ۶].

او امام مسلم په خپل صحيح کې روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

«وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ؛ لَا يَسْمَعُ بِي أَحَدٌ مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ، يَهُودِيٌّ وَلَا نَصْرَانِيٌّ، ثُمَّ يَمُوتُ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ؛ إِلَّا كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ».

ژباړه: «په هغه ذات مې قسم دی چې زما روح د هغه په لاس کې دی، زما د دعوت په اړه د دې امت يهودي او يا نصراني وانه وري، او بيا مړ شي، او زما په رسالت ايمان رانه وړي نو دا کس به د دوزخ له ښتنانو څخه وي».

رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلو کړنو او خبرو سره د هغو کسانو د دین باطلوالی څرګند کړ چې د اسلام دین ته نه وو داخل شوي. هغه د یهودیانو او عیسویانو سره هم جنګیدلی و، لکه څنګه چې د نورو کافرانو پر وړاندې جنګېدلی و، او هغو کسانو چې جزیه ورکوله، هغوی څخه یې هوډ اخیستی و چې نورو خلکو ته د دعوت رسولو مانع نشي، ترڅو هغه څوک چې وغواړي اسلام ته داخل شي؛ پرته له ډار او دا چې څوک یې مخه ونیسي او یا یې مانع شي او یا یې ووژني.

بخاري او مسلم د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت کړی چې وایي: مونږ په جومات کې و چې رسول الله صلی الله علیه وسلم راووته او وېې فرمایل:

«انْطَلِقُوا إِلَى يَهُودَ، فَخَرَجْنَا مَعَهُ حَتَّى جِئْنَا بَيْتَ الْمِدْرَاسِ، فَقَامَ النَّبِيُّ ﷺ، فَنَادَاهُمْ فَقَالَ :يَا مَعْشَرَ يَهُودَ، أَسْلِمُوا تَسْلَمُوا، فَقَالُوا: قَدْ بَلَّغْتَ يَا أَبَا الْقَاسِمِ، فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ذَلِكَ أُرِيدُ، أَسْلِمُوا تَسْلَمُوا، فَقَالُوا: قَدْ بَلَّغْتَ يَا أَبَا الْقَاسِمِ، فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ذَلِكَ أُرِيدُ، ثُمَّ قَالَهَا الثَّالِثَةَ...».

ژباړه: «یهودو ته لاړ شئ» نو موږ له هغه سره بهر لاړو تر دې چې د المدراس کور (د یهودو درس ځای) ته ورسېدو، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم پاڅېده او په هغوی یې غږ وکړ او ویې فرمایل: «ای د یهودانو ډلې، اسلام قبول کړئ، نو تاسو به خوندي اوسئ»، هغوی وویل: اې ابو القاسمه، تا

پیغام ورساوه. رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته وفرمایل: «دا هغه څه دي چې زه یې غواړم، اسلام قبول کړئ ترڅو خوندي اوسئ»، هغوی وویل: اې ابو القاسمه، تا پیغام ورساوه. رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته وفرمایل: «دا هغه څه دي چې زه یې غواړم"، بیا یې دریم ځل باندې هم وویل ...». حدیث.

مطلب دا دی چې هغه صلی الله علیه وسلم، د یهودي خلکو دیني مدرسې ته لاړ، او هغوی یې اسلام ته راوبلل، او هغوی ته یې وفرمایل: «اسلام قبول کړئ، تاسو به خوندي اوسئ»، او هغه دا خبره دوی ته په تکرار سره وکړه.

همدار نګه یې: هرقل ته لیک واستاوه او اسلام ته یې بلنه ورکړه، او خبر یې ورکړ چې که هغه انکار وکړ، نو د هغو کسانو ګناه به یې پر غاړه وي چې د هغه د انکار له امله یې اسلام رد کړی دی، بخاري او مسلم په خپلو صحیحینو کې روایت کوي چې هرقل د رسول الله صلی الله علیه وسلم لیک راوغوښت او یې ولوست، نو په کې لیکلي و چې:

«بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ إِلَى هِرَقْلَ عَظِيمِ الرُّومِ، سَلاَمٌ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَى، أَمَّا بَعْدُ: فَإِنِّي أَدْعُوكَ بِدِعَايَةِ الْإِسْلَامِ، أَسْلِمْ تَسْلَمْ، وَأَسْلِمْ يُؤْتِكَ اللهُ أَجْرَكَ مَرَّتَيْنِ، فَإِنْ تَوَلَّيْتَ، فَإِنَّ عَلَيْكَ إِثْمَ الْأَرِيسِيِّينَ وَ

ژباړه: «بسم الله الرحمن الرحیم، د محمد رسول الله لخوا

د روم والا حضرت هرقل ته، سلام دې وي پر هغه چا چې د سمې لارې پيروي کوي، أما بعد: زه تاسو ته د اسلام په بلنې سره بلنه درکوم، مسلمان شه چې خوندي شې، او مسلمان شه چې الله تعالی دوه ځلې اجر درکړي، او که انکار دې وکړ نو ستا د پيروانو (بزګرانو) ګناه به ستا پر غاړه وي، او
﴿يَـٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَـٰبِ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ كَلِمَةٖ سَوَآءِۭ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمۡ أَلَّا نَعۡبُدَ إِلَّا ٱللَّهَ وَلَا نُشۡرِكَ بِهِۦ شَيۡـٔٗا وَلَا يَتَّخِذَ بَعۡضُنَا بَعۡضًا أَرۡبَابٗا مِّن دُونِ ٱللَّهِۚ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُولُواْ ٱشۡهَدُواْ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ٦٤﴾
(اې نبي!) ته (دوی ته) ووايه: اې اهل کتابو! داسې کلمې ته راشئ چې زمونږ په مينځ کې او ستاسو په مينځ کې برابره ده، دا چې عبادت به نه کوو مګر يواځې د الله او له هغه سره به هيڅ شی نه شريکوو او زمونږ بعضې به بعضو نورو لره له الله نه غير پالونکي (خدايان) نه نيسي، نو که دوی وګرځېدل، نو تاسو (ورته) ووايئ چې تاسو پر دې ګواه شئ چې يقينًا مونږ مسلمانان يو). [آل عمران: ۶۴]».

بيا چې کله هغوی مخ وګرځاوه او په اسلام کې يې له داخليدو انکار وکړ؛ رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه کرام -رضي الله عنهم-ورسره وجنګېدل او جزيه يې پرې کېښوده.

د دوی د ګمراهۍ تاييدولو لپاره چې د محمد صلى الله عليه وسلم په راتګ سره د هغوی دين منسوخ شوی او باطل دی؛ له همدې امله الله تعالی مسلمانانو ته امر کړی چې هره ورځ،

په هر لمانځه او د لمانځه په هر رکعت کې له الله تعالی څخه وغواړي چې هغه ته مستقیمه، سمه او د منلو وړ لاره، چې هغه: اسلام دی وروښیي. او د هغو کسانو له لارې څخه یې لرې وساتي چې غضب پرې شوی دی، چې هغوی: یهودیان او د دوی په څېر هغه کسان چې پوهېږي چې دوی په باطل دي او بیا هم په هغه ټینګار کوي، او د هغو کسانو له لارې څخه یې لرې وساتي چې ګمراه شوي دي او بې له پوهې عبادت کوي، او ادعا کوي چې دوی د هدایت په لاره دي، په داسې حال کې چې دوی د ګمراهۍ په لاره دي، او هغوی دي: عیسویان، او د دوی په څېر نور قومونه چې د ګمراهۍ او ناپوهۍ له امله عبادت کوي. همدارنګه: هر مسلمان باید پر دې پوه شي چې له اسلام پرته نور ټول دینونه باطل دي، او هر هغه څوک چې له اسلام پرته پر بل دین سره د الله عبادت وکړي هغه ګمراه دی، او څوک چې دا عقیده ونه لري هغه مسلمان ندی. او په دې اړه په قرآن او سنت کې ډېر دلایل شتون لري.

د دې مقالې لیکوال، -عبدالفتاح- ته لازم ده چې: د ریښتینې توبې لپاره بیړه وکړي، او یوه مقاله دې ولیکي چې هغې کې خپله توبه اعلان کړي، او څوک چې په ریښتینې توګه الله تعالی ته توبه وکړي؛ الله ورته بخښنه کوي. لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي:

﴿...وَتُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ﴾

ژباړه: (...او اې مومنانو تاسو ټول الله ته توبه وباسئ د

دې لپاره چې برى در په برخه شي). [النور: ٣١]، او دا قول د الله تعالى:

﴿وَٱلَّذِينَ لَا يَدۡعُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ وَلَا يَقۡتُلُونَ ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَلَا يَزۡنُونَۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ يَلۡقَ أَثَامٗا ٦٨ يُضَٰعَفۡ لَهُ ٱلۡعَذَابُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَيَخۡلُدۡ فِيهِۦ مُهَانًا ٦٩ إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ عَمَلٗا صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ يُبَدِّلُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمۡ حَسَنَٰتٖۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ٧٠﴾

ژباړه: (او هغوى چې الله سره بل معبود نه رابولي او نه پرته له حقه هغه کس وژني چې الله (يې وژل) حرام کړى وي او نه زنا کوي او څوك چې داسې وکړي، هغه به خپله گناه مومي).

د هغه لپاره به د قيامت په ورځ عذاب غبرگ (مکرر) کړى شي او تل به پکې خوار ذليل پروت وي.

پرته له هغه چې توبه وباسي، ايمان راوړي او نېك عمل وکړي؛ نو دا خلك چې دي الله به يې بدى په نېکيو بدلې کړي او الله بخښونکى مهربان دى). [الفرقان: ٦٨-٧٠]. او د پيغمبر صلى الله عليه وسلم دغه وينا:

«الإِسْلَامُ يَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهُ، وَالتَّوبَةُ تَهْدِمُ مَا كَانَ قَبْلَهَا».

ژباړه: «اسلام هغه (گناهونه) له منځه وړي چې ترې وړاندې وو، او توبه هم مخکېني گناهونه له منځه وړي». او

د هغه ﷺ قول:

«التَّائِبُ مِنَ الذَّنْبَ كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ».

ژباړه: «له ګناه څخه توبه کوونکی داسې دی لکه ګناه یې چې نه وي کړې».

او په دې معنا سره ډېر آیتونه او حدیثونه راغلي دي.

زه له الله تعالی څخه غواړم چې موږ ته حق، د حق په توګه وښیي، او د هغه د تعقیبولو توان راکړي، او موږ ته باطل، د باطل په توګه وښیي، او له هغه څخه د لرې کېدو توان راکړي، موږ او لیکوال عبدالفتاح او ټولو مسلمانانو ته دې د رېښتینې توبې توفیق راکړي، او موږ ټول د ګمراه کوونکو فتنو او د خواهشاتو او شیطان اطاعت څخه وساتي، ځکه چې هغه د دې ساتونکی دی او د دې کار توان لري.

وصلى الله وسلم على نبينا محمد، وعلى آله وصحبه، ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين.

***

فهرست


لومړی پېغام...................................... ۲
صحيح عقيده او هغه چې خلاف يې ده ........................ ۲
لومړی اصل: په الله تعالی ايمان ................................... ٦
دويم اصل: په ملايکو ايمان، ................................ ۲۱
دريم اصل: په کتابونو ايمان، چې دوو چارو ته شامليږي: ..... ۲۳
څلورم فصل: په رسولانو ايمان...................................... ۲۵
پنځم اصل: د آخرت په ورځ ايمان ..................................... ۲۷
شپږم اصل: په تقدير ايمان ......................................... ۲۸
د صحيح عقيدې ضد عقايد ............................................ ۳٤
دويم پېغام: پر پيغمبر ﷺ د مرستې غوښتلو حکم ............ ٤۳
دريم پېغام.............................................................. ٦۲
له پيريانو او شيطانانو د مرستې غوښتلو او هغوی ته د نذر وړاندې کولو حکم ................................................................ ٦۲
څلورم پېغام: .............................................................. ۸۵
په بدعتي او شرکي الفاظو (وظېفو) د عبادت حکم............... ۸۵
پنځم پېغام:............................................................ ۱۱۱
د رسول الله صلی الله عليه وسلم او نورو ميلادونو د لمانځلو حکم ........................................................................ ۱۱۲
شپږم پېغام:............................................................ ۱۲٤
د اسراء او معراج د شپې د لمانځلو حکم.......................... ۱۲٤
اووم پېغام: ............................................................ ۱۳۱
د شعبان مياشتې د نيمايي شپې د لمانځلو حکم.................. ۱۳۱
اتم پېغام:............................................................... ۱٤٥

د منسوب شوي وصيت د دروغوالي په اړه مهم خبرداری ... ١٤٥
د مسجد نبوي د خادم؛ شيخ احمد ................................... ١٤٥
نهم پيغام: د جادو، کوډګرۍ او هغه څه حکم چې تړاو ورسره لري ........................................................................... ١٦١
لسم پيغام: پر قبرونو د جوماتونو جوړولو په اړه خبرداری .. ١٧٩
يوولسم پيغام: په جوماتونو کې د مړو ښخول.................... ١٨٥
دولسم پيغام: د هغه چا د کفر او ګمراهۍ بيان چې ګمان کوي د يو چا لپاره د محمد صلى الله عليه وسلم له شريعت څخه وتل روا دي. ........................................................................... ١٨٨

❊❊❊

ps٣٩٧v ٤,٠- ٢٠٢٦/٠٨/١٧

حرمين

رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

# رسالة الحرمين

# Message of The Two Holy Mosques

Guidance content for the visitors of the Holy Mosque and the Prophet's Mosque in languages.